


# په افغانستان کې بشري حقونه

## ۱۵ اگست ۲۰۲۱ – ۱۵ جون ۲۰۲۲

جولای ۲۰۲۲

کابل، افغانستان

د افغانستان لپاره
د ملگرو ملتونو
مرستندویه پلاوی
(یوناما)

# په افغانستان کې بشري حقونه: د ۱۵ اګست ۲۰۲۱ څخه تر ۱۵ جون ۲۰۲۲ پورې

# د یوناما د بشري حقونو څانګه

## د مطالبو فهرست


**۱. پېژندنه** ........ 3

**۲.میتودولوژي** ........ 5

**۳. د فعلي چارواکو سره ښکېلتیا** ........ 6

**۴. وضعیت** ........ 7

**۵. د ملکي وګړو خوندیتوب** ........ 9

**۶. د ژوند، ازادۍ او جسمي سلامتیا حقونه** ........ 13

**۷. بنسټیزې ازادۍ** ........ 20

**۸. د ښځو حقونه** ........ 31

**۹. عدالت، توقیف ځایونو او زندانونو سیستم** ........ 36

**۱۰. پایلې او سپارښتنې** ........ 40

**لومړۍ ضمیمه: د ژوند، آزادۍ او جسمي سلامتیا د حقونو په تړاو د بشري حقونو د سرغړونو تعریفونه** ........ 46

**دویمه ضمیمه: د فعلي چارواکو لخوا چمتو شوې تبصرې** ........ 49


د پوښ انځور: د حامد کرزي نړیوال هوايي ډګر، کابل، افغانستان، د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۶مه

## ۱. پېژندنه

د افغانستان د بشري حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) دغه راپور د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵ پورې په افغانستان کې د طالبانو واک لس میاشتنۍ موده تر پوښښ لاندې راوستلې ده. دې راپور کې موضوعات د بشري حقونو لومړیتوبونه منعکس کوي چې په تیرو لسو میاشتو کې د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا پېژندل شوي او د یوناما د ماموریت سره، چې په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا لخوا د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۱۷مه کې تمدید شو، سمون لري [1].

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راهیسې، په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی راغلی دی. یوناما، که څه هم، پر ملکي وګړو د بریدونو په پایله کې ملکي تلفات ثبت کړي، چې ډېری وختونه د وسله واله ډلې[2]، چې ځانته د شام او عراق اسلامي دولت - خراسان ولایت وایې (چې له دې وروسته به په راپور کې د "داعش-خراسان ولایت" په نوم یادیږي)، لخوا یې مسؤلیت اخیستل کیږي.

د افغانانو بشري حقونه - په ځانګړې توګه، د ژوند مناسب معیار ته لاسرسی - د بې ساري اقتصادي، مالي او بشري بحران له امله اغیزمن شوي چې دا هیواد د اګست له 15 راهیسې[3] ورسره مخ دی او په میلیونونو افغانان یې و بشردوستانه مرستو ته اړ ایستلي[4].

د یادونې وړ ده چې فعلي چارواکو څیني ګامونه، چې ښکاري د بشري حقونو د ساتنې او ودې په موخه دي، پورته کړي، د بېلګې په توګه: د پخوانیو دولتي چارواکو او د افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو د غړو لپاره عمومي بښنه، د ښځو د حقونو په اړه د دسمبر د ۳مې نېټې فرمان، د بندیانو د نظام د سمون اړوند طرزالعمل، د فعلي امنیتي چارواکو لخوا د قوې کارولو په اړه لارښوونه. د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا څارنو د فعلي چارواکو لخوا ترسره شوي سرغړونې څرګندې کړې چې د  زیاتو بشري حقونو څخه خوند اخیستنه اغیزمنه کوي.

د 2021 کال د اګست له نیمایي راهیسې، د یوناما د بشري حقونو څانګې د فعلي چارواکو لخوا د غیر قضایي وژنو، خپل سري نیولو او توقیفونو، او شکنجې او بد چلند په اړه دوامداره تورونه مستند کړي دي.

د بشري حقونو وضعیت د چارواکو لخوا د بحثونو د بندولو، د اختلاف د مخنیوي او د افغانانو د اساسي حقونو او آزادیو د محدودولو لپاره د اقداماتو له امله پېچلی شوی. ښځې او نجونې په ځانګړې توګه د خپل د بشري حقونو په برخه کې د سختو محدودیتونو سره مخ شوي دی، چې په پایله کې یې په ورځني او عامه ژوند کې له ډېری حقونو څخه ایستل شوي دي.

په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو ثبتول د فعلي چارواکو لخوا د راپور ورکولو او قضايي میکانیزمونو له مینځه وړلو له امله د ډېرو ننګوونو سره مخامخ شوي دي چې د تیر حکومت په وخت کې د دې قضیو مخنیوي او ځواب ویلو لپاره یې فعالیت کولو، لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د دې لپاره وقف شوي ارګانونه لکه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي اداري کوم چه د فعلي چارواکو لخوا له منځه تللي دي[5]. همدرانګه د یادی شوی اداري موجودیت په تیر وخت کی د قربانیانو او متضررینو لیوالتیا هم زیاته کړې وه، مرستي یې غوښتلې او هم یې د بشري حقونو د سرغړونو او تاوتریخوالي راپور یې ورکولو.

---

[1] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۶۲۶ (۲۰۲۲)، پراګراف (g)-(e)، دلته یې کتلای شئ: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N22/291/52/PDF/N2229152.pdf?OpenElement.

[2] په دې راپور کې د "وسله واله ډلې" اصطلاح د هغو وسله والو ډلو لپاره کارول شوې چې د فعلي امنیتي ځواکونو څخه جلا دي او د 2021 کال د اګست له 15 راهیسې د فعلي امنیتي ځواکونو سره په وسله والو نښتو کې ښکیل دي.

[3] *په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنری راپور*، A/HRC/49/24، 4 مارچ 2022، ۶-۷ پاراګراف.

[4] *د افغانستان وضعیت او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د هغه اغیزې، د عمومي منشي راپور*، A/76/862-S/2022/485، 15 جون 2022، ۵۲ پاراګراف.

[5] د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر تر میاشتې پورې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو څارنوالۍ او محاکمې، په لومړنیو او استیناف کچه، او د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د ملي پولیسو د کورنیو غبرګون واحدونه تاسیس شوي دي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د باور وړ او کره او دقیق راپورونو راټولولو ته دوام ورکړی دی. د یوناما د بشري حقونو څانګې د چارواکو سره خپلو خبرو اترو ته د راپور شوي سرغړونو په اړه او د بشري حقونو د معیارونو او پوهاوي لوړولو په برخو کې دوام ورکړی.

افغانستان د یو دولت په توګه د بشري حقونو د یو شمیر نړیوالو تړونونو غړی دی[6]. دا راپور سپارښتنې وړاندې کوي چې موخه یې دا ده چې ډاډ ترلاسه شي چې د دې تړونونو له مخې ټاکل شوي مکلفیتونه - او د فعلي چارواکو لخوا د بشري حقونو د ساتنې او ودې په برخه کې د افغانستان خلکو ته ورکړل شوي مکلفیتونه - ساتل کیږي یا وساتل شی.

[6] *د شکنجې او نورو ظالمانه غیر انساني یا سپکاوي چلند یا مجازاتو پروړاندې کنوانسیون* (د ۱ اپریل ۱۹۸۷ تصویب شوی), *د شکنجې په وړاندې د کنوانسیون اختیاري پروتوکول* (د افغانستان الحاق په ۱۷ د اپریل ۲۰۱۸)، *د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق* (د افغانستان الحاق په ۲۴ جنوري ۱۹۸۳)، *د نژادي تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون* (د افغانستان الحاق په ۶ د جولای ۱۹۸۳)، *د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق* (د افغانستان الحاق په ۲۴ د جنوری ۱۹۸۳)، *د ماشومانو د حقونو کنوانسیون* (د ۱۹۹۴ کال د مارچ په ۲۸ تصویب شوی)، *په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ګډون په اړه د ماشومانو د حقونو کنوانسیون ته اختیاري پروتوکول* (د افغانستان الحاق په 24 د سپتمبر 2003)، *د ماشومانو د پلور، د ماشوم بدلمنۍ او د ماشوم فحاشۍ په اړه د ماشوم د حقونو کنوانسیون ته اختیاري پروتوکول* (د افغانستان الحاق په ۱۹ د سپتمبر ۲۰۰۲ ) *د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون* (د افغانستان الحاق په ۱۸ د سپتمبر ۲۰۱۲).

## ۲.میتودولوژي

دغه راپور یوازې د بشري حقونو د سرغړونو او ملکي تلفاتو په اړه معلومات او جزیات وړاندې کوي، کوم چې د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا د اعتبار وړ بلل شویدي. په ځینو مواردو کې، د پېښو د توضیحاتو نه ورکول البته د هغو کسانو د ساتنې لپاره دي چې د سرغړونې راپور یې ورکړیدی.

په دې راپور کې شامل شوي د بشري حقونو سرغړونې[7] د یوناما د بشري حقونو د څانګې لخوا د اړوند سرچینو سره تایید شوي او د دقیقو معلوماتو پر بنسټ د اعتبار وړ دي. همدارنګه هغه سرغړونې چې د یوناما د بشري حقونو څانګه د معلوماتو له اعتبار او کره توب څخه یې راضي نه وه، په دې راپور کې نه دي شاملې شوي.

دغه راپور په ګوته کوي چې د فعلي چارواکو کوم ځانګړی ارګان یا ارګانونه (د بېلګې په توګه، د استخباراتو عمومي ریاست، یا پولیس) د یوناما د بشري حقونو د څانګې لخوا د بشري حقونو د سرغړونو مسؤل په توګه پېژندل شوي. په هغو مواردو کې چې دا ممکنه نه وه چې معلومه شي چې کوم ارګان یا د فعلي چارواکو کومه اداره د سرغړونو مسؤلیت لري، دوي ته د "فعلي چارواکو" یا د"فعلي امنیتي ځواکونو" په توګه په همدې راپور کې ورته اشاره شوې.

د ملکي تلفاتو په اړه ارقام د "تایید شوي" په توګه په راپور کې ذکر شویدي، همدارنګه د یوناما د بشري حقونو د څانګې لخوا د بررسي شویو او د "روښانه او قناعت وړ" معلوماتو پر بنیاد د وژل شویو یا ټپیان شویو ملکي وګړو ارقام نهایي شویدي. همدارنګه د دې معیار د پوره کولو لپاره، د یوناما د بشري حقونو څانګه لږترلږه درې مختلف او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري او تماس ورسره نیسي لکه خپله د قرباني یا متضرر سره، شاهد سره، طبي متخصص سره، سیمه ایز چارواکي سره، د ټولنې مشر یا نورو سرچینو سره. هرچیرې چې امکان ولري، معلومات د قربانیانو او یا د پیښو د شاهدانو او د ساحې  څخه د حقایقو موندلو له لارې ترلاسه کیږي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه مني چې په دې راپور کې وړاندې شوي معلومات - د بشري حقونو سرغړونې یا د ملکي تلفاتو ټولې پیښې نه دي شاملې شوي دا ځکه چې په عملیاتي چاپیریال کې د موجودو محدودیتونو په پام کې نیولو سره احتمالآ د لږو پیښو راپور ورکول شوی وي.

[7] په دې کې بې عدالتي وژنې، خپلسري نیول او توقیفونه، د قوې زیاته کارونه، شکنجه او بد چلند، ظالمانه او سپکاوی کوونکي چلند او/یا مجازات، د جبري ورکیدو په شمول.

## ۳. د فعلي چارواکو سره ښکېلتیا

د ۲۰۲۱ کال له سپټمبر راهیسې، د یوناما د بشري حقونو څانګې په افغانستان کې د بشري حقونو د ساتنې او ترویج لپاره په مرکز، ولایتونو او ولسوالیو کې له چارواکو سره لیدلي دي. په دې لیدنو کې د بشري حقونو د سرغړونو په ارتباط د اعتبار وړ راپورونه یې د اړوندو وزارتونو او ریاستونو سره د فعلی چارواکو دپام راګرځولو په خاطر شریک کړیدي او د بشري حقونو د معیارونو، وسایلو او میکانیزمونو په اړه د پوهاوي لوړول هم شامل دي.

په مرکزي کچه د یوناما د بشري حقونو څانګې د نورو تر څنګ د فعلي چارواکو د بهرنیو چارو وزارت، کورنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، د استخباراتو عمومي ریاست، د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، لوی څارنوال دفتر، او د محابسو لوی ریاست سره کار کړی دی. همدارنګه د ولایتونو او ولسوالیو په کچه، د یوناما د بشري حقونو څانګې په فعلي چارواکو کې د ولایت مشرتابه، د ریاستونو رییسانو، پولیسو، د استخباراتو عمومي ریاست، د مجازاتو سیسټم چارواکو او قضایې فعالینو سره کار کړی دی.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د خپلې ښکیلتیا د یوې منظمې برخې په توګه، د کورنیو چارو وزارت په شمول د اړونده بنسټونو پام، د بشري حقونو د سرغړونو راپورونو، د عاملینو د حساب ورکونې او د قربانیانو د خوندیتوب لپاره یې حقوق او د راتلونکو سرغړونو د مخنیوي په اړه، را اړوي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې په مرکز، ولایتونو او ولسوالیو کې د فعلي چارواکو سره د بشري حقونو په اړه د پوهاوي غونډې جوړې کړې دي. غونډې د بشري حقونو د نړیوالو وسایلو یا ابزارو په نظر کې نیولو سره د توقیف شویو حقونو او د توقیف شرایطو په اړه معلومات وړاندی شوي دي. په ځینو جلسو او ورکشاپو کې د ادارو رییسانو او کارمندانو سربیره، د ولایتونو د مرکزي چارواکو (والیان، د ریاستونو رییسان، او د امنیتي ادارو مشران) هم برخه اخیستې ده. په نورو ورکشاپو او جلسو کې بیا هم، ځانګړې مسلکې ډلې لکه د زندان کارکونکو (د نورو جزیاتو لپاره، [۹. د عدالت، توقیف ځایونو او زندانونو سیسټم] برخه وګورئ) هم برخه اخیستی ده.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو د سرغړونو د راپورونو په ګډون په بیلابیلو مسایلو کې د ښکیلتیا لپاره د چارواکو د لیوالتیا ستاینه کوي. په افغانستان کې د ټولو لپاره د بشري حقونو د ودې او ساتنې په موخه له بنسټونو سره خبرې اترې دوام لري. د یوناما د بشري حقونو د څانګه د خپلو نورو وظایفو سربیره، د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر راهیسې په پراخه کچه د چارواکو سره د بشري حقونو په مختلفو برخو کې ښکیله ده، په شمول د نجونو د زده کړې حق او د ښځو اړوند بیلابیل حقونه[8].

[8] د مثال په توګه وګورئ، د یوناما خبرونه [@UNAMAnews]، ټویټر، ۲۷ سپټمبر ۲۰۲۱، د ماښام ۷:۵۷، https://twitter.com/UNAMAnews/status/1490337743225995268?s=20&t=V8baP9D-O0lUZmpjLtFVNA او ۹ اپریل ۲۰۲۲، ۵:۵۴ بجې (https://twitter.com/UNAMAnews/status/149037743225995268)،

## ۴. وضعیت

د ۲۰۲۱ کال د اپریل په ۱۴، د امریکا متحده ایالاتو حکومت[9]، د انګلستان حکومت[10] او د شمالي اتلانتیک د تړون د سازمان متحدینو او شریکانو[11] اعلان وکړ چې دوي به د مې په لومړۍ نیټه[12] له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو وروستی ایستل پیل کړي. د جولای په اتمه، د متحده ایالاتو حکومت تایید کړه چې په افغانستان کې د دوي "پوځي ماموریت" به د اګست په ۳۱ پای ته ورسیږي[13]. د ۲۰۲۱ کال له مې څخه تر اګست میاشتې پورې، د ناامنیو ، هدفي وژنو او د ملکي وګړو په وړاندې بریدونو د زیاتوالي په ترڅ کې، طالبانو د پراخ پوځي عملیاتو له لارې، چې په ټول هیواد کې ترسره شوه، د افغانستان کنټرول په اغېزمن ډول ترلاسه کړ او د اګست په ۱۵مه پلازمېنه کابل ته ورسېدل. د نیولو راهیسې، د فعلي امنیتي ځواکونو او مختلفو وسله والو ډلو، په خاص ډول داعش-خراسان ولایت ډله او هغه ډله چې د "ملي مقاومت جبهې" په نوم ځان معرفي کوي - ترمنځ وسله والې نښتې شوې دي. تر اوسه پورې، دا وسله والې نښتې تر ډېره د افغانستان ختیځې حوزې (داعش-خراسان ولایت) او د پنجشیر او بغلان ولایتونو (ملي مقاومت جبهه) [14] کې رامنځته شوي.

نړیوالو پوځي ځواکونو د اګست له ۱۵ څخه د اګست تر ۳۱ پورې یعنې د امریکا د وروستي پوځي پرسونل تر وتلو پورې د کابل د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر په خپله والکه او کنټرول کې وساته. په دې موده کې د کابل په هوایي ډګر کې وضعیت کړکېچن و، چې په شاوخوا کې زرګونه کسان په دې هیله راټول شوي وو، چې له افغانستانه د وتلو لپاره الوتنو ته لاسرسی ومومي. د اګست په ۲۶مه د داعش-خراسان ولایت د کابل له هوایي ډګر څخه بهر یو ځانمرګی برید وکړ، چې لږ تر لږه ۷۲ ملکي وګړي یې ووژل او لږ تر لږه ۱۴۰ نور یې ټپیان کړل. درې ورځې وروسته، د اګست په ۲۹مه، د متحده ایالاتو نظامي ځواکونو یو هوایي برید ترسره کړ – تر څو، د راپور له مخې، په هوایي ډګر باندې د بل برید مخه ونیسي - ۱۰ کسان یې ووژل چې ټول یې ملکي وګړي وو.

طالبانو د سپتمبر په ۷ مه نېټه په ملي او ولایتي کچه د نورو مهمو اداري پوستونو د ګمارنې ترڅنګ سرپرسته کابینه اعلان کړه[15]. د کابینې جوړښت د افغانستان د پخواني اسلامي جمهوریت په شان پاتې دی، د ځینو د پام وړ استثناوو سره، لکه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د وزارت جوړیدل (په هغه ځای کې چې د ښځو لپاره د پخواني وزارت په واک کې و، او کوم چې د فعلي چارواکو لخوا لغوه شویدی) او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د مې په میاشت کې هم لغوه اعلان شو[16].

---

[9] د متحده ایالاتو د متحده ایالاتو ولسمشر جو بایډن، "په افغانستان کې د پرمختګ په لاره کې د ولسمشر بایډن څرګندونې"، واشنګټن ډي سي، د اپریل ۱۴، ۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://www.whitehouse.gov/briefing-room/speeches-remarks/2021/04/14/remarks-by-president-biden-on-the-way-forward-in-afghanistan.

[10] د انګلستان د دفاع وزیر بین والس، 'په افغانستان کې د بریتانیا د ځواکونو په اړه د دفاع وزیر بیان'، ۱۴ اپریل۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://www.gov.uk/government/news/defence-secretary-statement-on-uk-forces-in-afghanistan.

[11] د افغانستان په اړه د شمالي اتلانتیک د تړون د سازمان د وزیرانو اعلامیه، د ۲۰۲۱ کال د اپریل په ۱۴. https://www.nato.int/cps/en/natohq/official_texts_183146.htm.

[12] د ۲۰۲۱ کال د اپریل په ۱۵ د آلمان د دفاع وزارت هم له افغانستان څخه د ټولو پاتې عسکرو د ایستلو اراده اعلان کړه. Verteidigungsministerium [@BMVg_Bundeswehr]، ټویټر، ۱۵ اپریل ۲۰۲۱، د ماسپښین ۳:۲۰ بجې. دلته شتون لري: https://twitter.com/BMVg_Bundeswehr/status/1382647467569774594?form=MY01SV&OCID=MY01SV.

[13] د متحده ایالاتو د متحده ایالاتو ولسمشر جو بایډن، 'په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د کمیدو په اړه د ولسمشر بایډن څرګندونې'، واشنګټن ډي سي، د جولای په ۸، ۲۰۲۱، دلته یې لوستلای شئ: https://www.whitehouse.gov/briefing-room/speeches-remarks/2021/07/08/remarks-by-president-biden-on-the-drawdown-of-u-s-forces-in-afghanistan/.

[14] په افغانستان کې د وسله والو ډلو د شتون په اړه، *د افغانستان وضعیت او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د هغه اغیزې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور*، A/76/862-S/2022/485، 15 جون 2022، ۱۷ پاراګراف وګورئ.

[15] د اسوشیتد پرس آرشیف، "طالبانو په نوې کابینه کې خپل پخواني غړي ځای پر ځای کړي"، ویډیو، ۱۲ سپتمبر ۲۰۲۱. دلته شتون لري: https://www.youtube.com/watch?v=_-XjgufmbMY (Pashto).

[16] په فرمان کې د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون، د سولې په چارو کې د دولت وزارت او د مشرانو جرګې د دارالانشاء ریاست هم لغوه شو. د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر په ۲۴ مه د پارلماني چارو وزارت، د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون هم لغوه شو.

د دې راپور په موده کې، کابینه يوازې د نارينه وو څخه جوړه شوې ده، چې اکثره يې پښتانه دي او د طالبانو له تحريک څخه دي. هيڅ ښځه په لوړه کچه سياسي ګمارنه نه لري او نه هم ښځو ته په سياسي ژوند کې د فعال رول اجازه ورکول کيږي. د دسمبر په ۳مه فعلي چارواکو د ښځو د حقونو په اړه يو فرمان صادر کړ چې د واده لپاره د ميرمنې د رضايت حق او د ميراث په برخه کې د کونډې حق او د مهر (مهريه) په اړه مثبت او هيله ورکونکې و. په هرصورت، ښځې او نجونې په خپلو ورځنې او عامه ژوند کې له خپلو حقونو څخه بې برخې شويدي همدارنګه زده کړې ته د دوي د لاسرسي محدودول، د دوي د حرکت ازادي محدودول او داسې نورو څخه هم بې برخې شويدي.

د افغانستان اقتصاد – چې لا له وړاندې په يوه نازک حالت کې و – د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ وروسته د پراختيايي بوديجې په لويه پيمانه ځنډولو، چې جمهوريت پرې ډېره تکيه درلوده، او په بهر کې د افغانستان د شتمنيو کنګل کېدو له امله سخت متاثره شو.[17] په پايله کې، هيواد په بې ساري ډول د اقتصادي، مالي او بشري بحران سره مخ شو. په ۲۰۲۲ کال کې څه د پاسه ۲۴.۴ ميليونه وګړي يا د نفوس ۵۹ سلنه بشردوستانه مرستو ته اړتيا لري، چې د ۲۰۲۱ کال په پيل کې ۱۸.۴ ميليونه وو.[18] د يو ژمي په تېرېدو سره، چې په ترڅ کې يې د افغانستان خلکو ډېري سختۍ ګاللې، د راتلونکي ژمي په اړه اندېښنې لا دمخه زياتې شوې، ځکه چې بشري اړتياوې مخ په زياتېدو دي.

د دسمبر په 22، د ملګرو ملتونو امنيت شورا 2615 (2021) پريکړه ليک تصويب کړ، او پريکړه وشوه چې 'بشردوستانه مرستې او نور فعاليتونه چې په افغانستان کې د مهمو بشري اړتياوو سره مرسته کوي' د مالي بنديزونو څخه، کوم چې د ۱۹۸۸ مالي بنديزونو رژيم کې وضع شوي، سرغړونه نه بلل کيږي، همدارنګه د پيسو، نورو مالي شتمنيو يا اقتصادي سرچينو پروسس او تاديه کولو لپاره، او د اجناسو او خدماتو چمتو کول چې د پورته ذکر شويو مرستو په وخت رسولو يا داسې نور فعاليتونه چې د همدې مرستو د ملاتړ لپاره اړين وي، اجازه ورکړل شوې. ملګري ملتونو، د مرکزي بانک او نورو شريکانو سره په ګډه، په اقتصاد کې د نغدو پيسو د ترزيق لپاره، افغانستان ته د نغدو پيسو فزيکي وارداتو په شمول، ګامونه پورته کړل.[19]

---

[17] *په افغانستان کې د بشري حقونو وضعيت، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ راپور،* A/HRC/49/24، 4 مارچ 2022، ۶- ۷ پاراګراف؛ *د افغانستان وضعيت او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغه اغيزې، د عمومي منشي راپور،* A/76/667–S/2022/64، 28 جنوري 2022، ۵۸ پاراګراف وګورئ.

[18] *د افغانستان وضعيت او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغه اغيزې، د عمومي منشي راپور،* A/76/862-S/2022/485، 15 جون 2022، ۵۲ پاراګراف.

[19] *د افغانستان وضعيت او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغه اغيزې، د عمومي منشي راپور،* A/76/862-S/2022/485، 15 جون 2022، ۴۷ پاراګراف.

## ۵. د ملکي وګړو خوندیتوب

د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۵مې د مخه د وسله واله جګړې له امله ملکي افغانانو ته درانده تلفات اوښتي. د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر لومړۍ نېټې (کله چې د لومړي ځل د پاره د یوناما د بشري حقوقو څانګې ملکي تلفات په رسمي ډول ثبتول پیل کړل) او د ۲۰۲۱ کال د اګست تر ۱۵ مه تر منځ موده کې د وسله واله جګړې له امله لږ تر لږه ۱۱۸۴۴۳ خلک وژل شوي او ټپیان شوي ( ۴۰۶۹۶ وژل شوي او ۷۷۷۴۷ ټپیان شوي). په وژل شویو او ټپیانو کې ۶۸۱۷۳ نارینه، ۱۱۳۶۹ ښځې، ۲۰۰۷۲ هلکان او ۸۰۰۵ یې نجونې دي.[20]

د طالبانو او افغان امنیتي ځواکو ترمنځ وروستیو میاشتو کې د ملکي تلفاتو په یو وخت کې د یوناما د بشري حقوقو څانګې تر ټولو لوړ شمېرې ثبت کړي چې په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان پدې کې زیات وو.

د دې باوجود چې امنیتي وضعیت ښه شوی، خو سر بیره پر دې یوناما په دوامداره ډول د نه منلو اوښتي زیان کچه ثبت کړې چې د توپیر پرته بریدونو پایله کې ملکي وګړي په نښه شوي، چې ډیری یې قومي او مذهبي اقلیتونه دي او داعش-خراسان ولایت ډله یې د مسؤلیت ادعا کړې.

د دې سربیره افغانان په شل کلنه اوږده جګړه کې اوسي، چې په دې کې د فامیل خواره غړي د لاسه ورکړي، داخلي بېځایه کېدل، رواني صدمه، د کورنۍ د نفقې ګټونکي غړي مرګ او معلولیت له امله یې مالي زیان لیدلی او یا یې شتمني ته زیان اوښتی. د تېر حکومت په دوره کې متضرر شوي خلکو کوښښ کړی وو چې مالي، رواني او نور ضروري کمک ته لاس رسی ولري.[21] دې حالت د دواړو هغه افرادو د پاره دوام وکړ چې کومو د ۱۵ اګست وروسته زیانمن شوي.

### د ۱ جنوري څخه تر ۱۴ اګست ۲۰۲۱

د جنورۍ د لومړۍ نېټې او ۱۴ اګست تر منځ موده کې، د یوناما د بشري حقوقو څانګې ۷۴۰۰ ملکي تلفات (۲۰۹۱ وژل شوي او ۵۳۰۹ ټپیان شوي) ثبت کړي. ښځې او ماشومان د دې ارقامو ۴۰ سلنه جوړوي (۲۴۷ ښځې او ۵۴۸ ماشومان وژل شوي او ۶۲۱ ښځې او ۱۵۲۵ ماشومان ژوبل شوي).

ځمکنۍ نښتې تر ټولو د زیات تلفاتو لامل ګرځیدلي (۴۲ سلنه) چې ورپسې په لاس جوړ شوي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي (۲۹ سلنه) ، هدفي وژنې (۱۱ سلنه) او هوایي بریدونه (۷ سلنه) دي.[22]

د جنورۍ د ۱ لومړۍ نېټې تر ۱۴ اګست پورې، د دولت ضد عناصر،[23] چې اکثریت یې طالبان وو د ۵۱ سلنه تلفاتو مسؤل وو؛ دولت پلوه ځواکونه د ۲۲ سلنه تلفاتو؛ ۲۶ سلنه تلفات په ګډه دولت پلوه او دولت ضد عناصرو ځواکونو ته منسوب شوي چې ډیری یې د ځمکنۍ نښتو له امله رامنځ ته شوي.

---

[20] یادونه: دغه ارقام ټولټال د مجموعي رقم 118,443 څخه لږ دي ځکه چې د پاتې قربانیانو عمر او/یا جنسیت د یوناما دبشري حقوقو څانګې لخوا نه دی تثبیت شوی.

[21] ۱۶ - د بیلګې په ډول وګورئ، د یوناما/ د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو عالي کمیشنرۍ ، په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندیتوب د ۲۰۲۰ کلنی راپور د ۸۶-۸۸ صفحه پورې برخه په لاندې ادرس لوستلای شئ:
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_report_2020_revs3.pdf.

[22] پاتې نور ملکي تلفات د نورو تاکتیکونو په پایله کې اوښتي وه.

[23] د "دولت ضد عناصرو" اصطلاح کې هغه ډلې شاملې دي چې د 2021 کال د اګست په 15 د طالبانو تر نیولو پورې د پخواني افغان حکومت امنیتي او دفاعي ځواکونو په وړاندې په وسله وال مخالفت کې برخه اخیستې ده.

تقریبا یو پر دریمه برخه (۲۹ سلنه) د ټولو ملکي تلفاتو چې په دې دوره کې ثبت شویدی د ۱ جولای څخه تر ۱۴ اګست ترمنځ موده کې ( ۴۲۲ وژل شوي، ۱۷۴۳ ټپیان) رامنځته شویدي چې په ځانګړې ډول د تاوتریخوالي دا کچه په سویلي ولایتونو قندهار او هلمند کې زیاته ده. د بیلګې په ډول:

- د جولای په ۷ مه نېټه د بادغیس ولایت، قلعه نو ښار په مرکز کې د طالبانو او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ ځکمنۍ نښتې په پایله کې لږ تر لږه یو کس ووژل شو او ۲۶ نور ټپیان شول.
- د جولای په ۱۵ مه ، د بدخشان ولایت، شهدا ولسوالۍ کې د افغان امنیتي ځواکونو په هوایي برید کې ۹ ملکیان ووژل شول او ۱۲ نور ټپیان شول.
- د جولای په ۳۰ مه د خوست ولایت صبري ولسوالۍ کې هغه مهال چاودنه وشوه چې ځایي خلکو د افغان ملي اردو په مرکز کې د ملي بیرغ ورځ لمانځله ، چې په پایله کې یې دوه کسان ووژل شول او ۲۴ نور ټپیان شول.
- د ۴ -۸ اګست پورې د قندهار ولایت په ښار کې د راپورونو له مخې یو روغتون ته د ۱۲ کسانو مړو جسدونه او ۷۹ ټپیان رواړل شوي وو.
- د ۱۰-۱۲ اګست تر منځ هلمند ولایت، لشکرګاه ښار کې دوه روغتونونو د ۱۲ کسانو د وژل کیدو او ۹۰ تنه نورو ټپي کیدل راپور ورکړی وو.

## د ۱۵ اګست ۲۰۲۱ څخه تر ۱۵ جون ۲۰۲۲

د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۵ نېټې نه تر ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵ مې پورې، د یوناما د بشري حقونو څانګې ۲۱۰۶ ملکي تلفات (۷۰۰ وژل شوي او ۱۴۰۶ ټپیان) چې نیمايي یې په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو چې د داعش-خراسان ولایت ډلې یې مسؤلیت پر غاړه اخیستی، او د پاتې شویو ناچاوده چاودیدونکي توکو په پایله کې رامنځته شوي. په دغو تلفاتو کې ۸۸ ښځې (۳۷ وژل شوي، ۵۱ ټپیانې) او ۴۴۱ ماشومان (۱۵۹ وژل شوي، ۲۸۲ ټپیان) دي.

د طالبانو لخوا په ۱۵ اګست د افغانستان نیولو سره د دطالبانو او افغان دفاعي امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړې ودریدلې، چې سملاسي ملکیانو ته زیان اوښتل راکم شو. د سپتمبر په ۶مه، طالبانو په رسمي ډول د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو په ضد عملیات پای ته رسولو اعلان وکړ.[24] د دې سربیره د ۱۵ اګست سملاسي وروسته موده کې دوه سترې پېښې رامنځ ته شوې.

- د اګست په ۲۶مه نېټه کابل کې د داعش-خراسان ولایت ډلې په حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر برید وکړ، چیرته چې په زرګونو افغانان راټول شوي وو او غوښتل یې د کابل د نیولو وروسته هیواد پریږدي. دوه ځانمرګو بریدګرو په ځان پورې تړلې چاودیدونکي توکي وچول، چې لږ تر لږه ۷۲ کسان ووژل او ۱۴۰ نور یې ټپیان کړل. د امریکا متحده ایالاتو نظامي ځواکونو[25] ته او ورسره فعلي چاراوکو امنیتي ځواکونو ته هم تلفات واوښتل.
- د اګست په ۲۹مه، کابل کې د امریکا متحده ایالاتو نظامي ځواکونو یې بیلوټه الوتکې د استوګنې په سیمه برید وکړ، چې ۱۰ ملکي کسان یې ووژل چې د دوي په منځ کې اوه ماشومان وو. د سپتمبر په ۱۷، کنیت ایف میکینزي جونیر، د امریکا د

---

[24] *د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت باندې د هغه اغیز، د سرمنشي راپور*، A/76/667–S/2022/64، 28 جنوري 2022، ۱۵ پاراګراف وګورئ، د راپور ادرس: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/sg_report_on_afghanistan_january_2022.pdf.

[25] د امریکا متحده ایالاتو جمهور رئیس جو بایډن، "په کابل کې د تخلیې د ماموریت په اړه د جوبایډن اعلامیه"، واشنګټن ډي سي. ۲۸ اګست ۲۰۲۱. په دې ادرس د لاس رسي وړ ده: https://www.whitehouse.gov/briefing-room/statements-releases/2021/08/28/statement-by-president-joe-biden-on-the-evacuation-mission-in-kabul/

متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې مشر په دې د بې پیلوټه الوتکې په برید او له دې امله اوښتې تلفاتو باندي اعتراف وکړ او وېې منل چې هغه هدف ناسم و.[26]

د ۲۰۲۱ کال د اګست او د ۲۰۲۲ کال د جون تر منځ موده کې ملکیانو ته زیان اوښتلو کې عمده لامل په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکو بریدونه وو، چې 'نرم' (غیر نظامي) اهداف لکه جوماتونه، عمومي پارکونه، ښوونځي او عام ترانسپورت په نښه شوي وو، چې د دې ډیری بریدونو مسؤلیت ادعا د داعش – خراسان ولایت ډلې کړي او یا دوي ته منسوب شوي. په ډیری داسې پېښو کې هدف توکمیز او یا مذهبي اقلیتونه وو – په ځانګړي دول هزاره شیعه، عموم کې اهل تشیع مسلمانان او د صوفي فکر مسلمانان په نښه شوي.

د ثبت شوي ملکي تلفاتو نږدې نیمايي یې په لاس جوړ د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو بریدونو له امله رامنځ ته شوي، چې د داعش-خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي. د بېلګې په ډول د اکتوبر په ۸مه د قندوز په ښار کې د سیداباد اهل تشیع جومات کې د ځانمرګي برید له امله لږ تر لږه ۸۰ کسان ووژل شول او لږ تر لږه ۱۵۰ نور ټپیان شول. د اکتوبر په ۱۵مه د قندهار ښار په امام باره فاطمیه کې، چې د ا هل تشیع تر ټول لوي جومات دی، د ځانمرګي برید له امله ۴۱ خلک ووژل شول او لږ تر لږه ۷۰ کسان نور ټپیان شول. د دواړو بریدونو مسؤلیت د داعش-خراسان ولایت ډلې په غاړه اخستی.

د دسمبر او مارچ میاشتو ترمنځ موده کې نسبي ارامي وه – البته ځینې بریدونه وو چې ملکي وګړو ته یې زیان اړولی.[27]

د اپریل په نیمايي کې د پاکستاني نظامي ځواکونو لخوا په خوست او کونړ کې د بریدونو له امله ۵۹ تنه خلک وژل شوي او ټپیان شوي.[28] په خوست کې ۳۵ تنه (۱۷ ماشومان او ۱۱ ښځې او ۷ سړي) وژل شوي او ۱۸ تنه نور (۵ ماشومان، څلور ماشومان او نهه ښځې) ټپیان شوي، چې ډېر قربانیان یې د دریو فامیلونو غړي وو. په کونړ کې شپږ کسان وژل شوي وو.

د اپریل په دویمه نیمايي کې په لاس جوړ څو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو چاودونې ترسره شوې، چې په ډیریو کې یې مذهبي او قومي اقلیتونه په نښه شوي وو:

- د اپریل په ۱۹ نېټه کابل ښار کې د درې ځاي په ځای شوي چاودیدونکو توکو د چاودونو په لړ کې دشت برچي کې – چې اکثریت یې د اهل تشیع مسلمانانو ګاونډ دی- یو ښوونځی او شخصي تعلیمي مرکز هدف وګرځیده چې لږ تر لږه یې ۵۰ کسان ټپیان کړل او نور ۱۸ کسان یې ووژل. د دې بریدونو مسؤلیت ادعا چا نده کړې.
- د اپریل په ۲۱ مه، په مزار شریف کې د سي دکان په اهل تشیع جومات کې یو ځانمرګي بریدګر لږ تر لږه ۲۶ کسان ووژل او ۴۱ تنه نور یې ټپیان کړل. د داعش-خراسان ولایت ډلې یې د برید د مسؤلیت ادعا وکړه.
- د اپریل په ۲۱ نېټه قندوز ښار کې په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکو یو وړوکی بس په نښه کړ چې د هوایي ډګر نه یې راستنیدونکي مستریان انتقالول، چې دوي د فعلي چارواکو د نظامي ځواکونو الوتکې ترمیم کولې. چې په پایله کې ۷ کسان ووژل شول، او ۱۲ نور ټپیان شول- په شمول د یوې میرمن او د هغې دوه ماشومان، کله چې دوي د هغه ځای نه تیریدل چې پېښه رامنځ ته شوه.

---

[26] جنرال کینیت ایف. میکینزي جونیر د امریکا متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې قوماندان او د پینټاګون د مطبوعاتو مشر جان ایف.کربي د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په ۱۷مه مطبوعاتي کنفرانس درلوده. په دې ادرس د لاس رسي وړ دی: https://www.centcom.mil/MEDIA/Transcripts/Article/2781320/general-kenneth-f-mckenzie-jr-commander-of-us-central-command-and-pentagon-pres/

[27] د بیلګې په ډول، د جنوري ۲۲ مه، د هرات ښار کې د عامه ترانسپورت په کوچني بس کې چې ځای په ځای شوی چاودیدونکي توکي وچاودیدل چې له امله یې اوه کسان ووژل شول او نهه تنه نور ټپیان شول. د دې هدف هزاره شیعه وو، د داعش-خراسان ولایت ډلې یې د برید د مسؤلیت ادعا وکړه.

[28] د پاکستان نظامي ځواکونه لخوا بریدونه معلومیږي چې شاید د تحریک طالبان پاکستان جنګیالیو د هغه برید په غبرګون کې ترسره شوی وي، چې څو ورځې د مخه یې د همدغه ځایه فعالیت کاوه. ورځپانه نیو یارک ټایمز وګورئ؛ 'ما هر څه د لاسه ورکړل' : پاکستاني بریدونو په پاکستاني پوله جګړه زیاته کړه؛ ۳۰ اپریل ۲۰۲۲. په دې لیکه د لاس رسي وړ ده: https://www.nytimes.com/2022/04/30/world/asia/pakistan-airstrikes-afghanistan-taliban.html

- د اپریل په ۲۲مه په قندوز کې یو ځانمرګي بریدګر لږ تر لږه ۵۰ کسان ووژل او ۵۵ تنه نور ټپیان شول، کله چې هغه په ځان پورې تړلي چاودیدونکو توکي د مولوي سکندر په جومات کې دننه وچول، چیرې چې د اهل تصوف د خلکو یوې مذهبي غونډې جریان درلود. د برید د مسؤلیت ادعا هیڅ کوم ډلې نده کړې.
- د اپریل په ۲۸ مه، مزار شریف کې دوو په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو چاودنو ۱۱ کسان ووژل او ۱۹ تنه نور یې ټپیان کړل، چې دې سیمه کې اکثریت وګړي هزاره اهل تشیع دي. د داعش-خراسان ولایت ډلې یې د برید د مسؤلیت ادعا وکړه.
- د اپریل په ۲۹ نېټه د کابل ښار کې، خلیفه صاحب په جومات کې د اهل تصوف په یو غونډه کې د په لاس جوړ ځای په ځای شوي توکو د چاودونو له امله ۳۳ تنه ووژل شول او ۱۰۱ تنه نور ټپیان شول. هیچا د برید د مسؤلیت ادعا نده کړې.

د جګړې څخه پاتې شونې ناچاوده توکي یو له هغه څه دي چې د تېر لسیزو وسله واله جګړو اغیز یې په ځای ساتلی. د ۲۰۲۱ کال د ۱۵ اګست او ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵ مې منځ موده کې لږ تر لږه ۸۰ کسان وژل شوي او ۱۸۳ تنه نور د ناچاوده چاودیدونکو توکو له امله ټپیان شوي. د قربانیانو څخه ډیری یې (۷۱ سلنه) ماشومان وو. د بېلګې په ډول د اپریل په لومړۍ نېټه، د هلمند، مرجع ولسوالۍ کې ۵ ماشومان ووژل شول. ماشومانو د هوان مرمۍ ناچاوده ګلوله موندلې وه او لوبې یې ورباندې کولې، چې چاودنه یې وکړه چې پنځه واړه یې سملاسي ځای پر ځای ووژل.

## ۶. د ژوند، ازادۍ او جسمي سلامتیا حقونه

د اګست د ۱۵ راهیسې د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو نه د سرغړونې نظارت او پلټنه کړې په څانګړې ډول د صحرایي محکمو لخوا وژل، خپل سري نیونه، د فامیل په ناخبرۍ کې د اوږد وخت لپاره یو څوک توقیف کې ساتل، شکنجه، ناوړه چلند، د چارواکو لخوا د یو چا په بشپړ ډول ترې تم کول یا غایبول، د ضرورت نه د زیات ځواک کارول او ظالمانه، غیرانساني او د سپکاوي ډکو مجازاتو– چې د فعلي چارواکو لخوا ترسره شوي.[29]

د یوناما د بشري حقونو څانګې څارنو د فعلي چارواکو لخوا د ځانګړو ډلو په نښه کولو کې یو ښکاره تمایل په ډاګه کړی. د پخواني حکومت افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه، پخواني دولتي چارواکي، هغه افراد چې د وسله واله ډلو سره په تړاو تورن، د رسنیو کارکوونکي او مدني ټولني په ځانګړي ډول د بشري حقونو نه د سرغړونو د ګواښ سره مخ دي. (د رسنۍ او مدني ټولنې په وړاندي د بشري حقونو سرغړونو په اړه د لا ډېرو جزیاتو لپاره د [بنسټیزو آزادیو برخه](#) وګورئ).

په شته شرایطو کې د جرم په تور ډېری نیونې او توقیفونه کیدای شې خپل سري وګنل شي، او لامل یې د فعلي چارواکو لخوا د د قانوني چوکاټ د تطبیق په اړه د وضاحت نشتوالی دی، او له دې امله یو حقوقي اساس چې د آزادۍ سلبول، د محکمې نه مخکې تورن شخص په توقیف کې ساتلو موده، او د توقیفیانو د اجراآتي حقونو مراعاتولو کې پاتې راتلل، د بیلګې په ډول حقوقي مشاور یا مدافع وکیل ته د لاس رسي حق، توجیه کړي.[30] د راپور د دې برخې تمرکز په نیولو او توقیفونو باندي دی، چیري چې ښېي انګېزه یې د پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو سره د شخص د رول او یا تړاو پخاطر، یا دا چې حکومتي مسؤل و، یا د وسله واله ډلو سره د تړاو لرلو په تور؛ او یا د مدني ټولني او رسنیو کې د دندې له امله وه، چې دا د سلب ازادي د پاره هیڅ کوم روښانه قانوني بنسټ نه تشکیولي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې همدارنګه په "اخلاقي جرمونو" تورن اشخاصو په وړاندې د فعلي چارواکو لخوا د ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي ډکو مجازاتو او غیر قضایي وژنو ډیري بیلګې په ګوته کړي.

تر ډیره بریده، د یوناما د بشري حقونو څانګې په ډاګه کړې چې د فعلي چارواکو کومه اداره یا دفتر مسؤلین د بشري حقونو نه د سرغړونو مسؤل دي اما په ډېر نورو پېښو کې د دې په ګوته کول ممکن نه وو، چې دا د حساب ورکړې له پلوه او د پېښو د پلټلو په وړاندې ګواښونه رامنځته کوي.

### الف. پخواني افغان ملي امنیتي ځواکونه او دولتي چارواکي

د اګست په 17، فعلي چارواکو د پخوانیو امنیتي ځواکونو او حکومتي چارواکو لپاره عمومي بخښنه اعلان کړه.[31] سره له دې، د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو سرغړونې په شمول د بې عدالتي وژنو، خپلسري نیول او توقیفونه، غیر ارتباطي توقیفونو او شکنجه او ناوړه چلند ثبت کړي چې دا ډلې یې د اګست له نیمایي راهیسې د 10 میاشتو په اوږدو کې په نښه کړي او ددې سرغړونو قربانیان ډیری پخواني امنیتي ځواکونه تشکیلوي.

د 15 اګست 2021 څخه تر 15 جون 2022 پورې، د یوناما د بشري حقونو څانګې د فعلي چارواکو لخوا د ۱۶۰ غیر قضایي وژنو (د ۱۰ ښځو په شمول)، ۱۷۸ خپل سري نیولو او توقیفونو، د ۲۳ غیر رسمي/غیر ارتباطي توقیفونو او ۵۶ د شکنجې او بد چلند مثالونه ثبت کړي چې د سرغړونو قربانیان یې ډېری پخواني دولتي او امنیتي ځواکونو چارواکي تشکیلوي. دا پېښې د

---

[29] د دې بشري حقونو د سرغړونو د تعریف په اړه، لومړی ۱ ضمیمه وګورئ.

[30] د ژوند حق، ازادي او جسمي سلامتیا اروند بشري حقونو د تعریف د پاره لومړی ۱ ضمیمه وګورئ.

[31] ټیلیګراف، "طالبان په لومړي مطبوعاتي کنفرانس کې د ښځو د حقونو د ساتنې لپاره بخښنه او ژمنې وړاندې کوي"، ویډیو، 17 اګست 2021. دلته یې لوستلای شئ: https://www.youtube.com/watch?v=bDKQCwNQrQw.
د بخښنې د درناوي اړتیا په راتلونکو میاشتو کې د فعلي مختلفو لوړ پوړو چارواکو لخوا تکرار شوه.

هیواد په نږدې ټولو برخو کې رامینځته شوي او یو لړ هغه اشخاص یې اغېزمن کړي دي چې له پخواني حکومت سره یې په مختلفو ډولونو تړاو درلود: چې له لوړ پوړو چارواکو څخه نیولې تر موټر چلوونکو، ساتونکو او د پخواني حکومت او د ملي امنیتي ځواکونو د غړو خپلوان شامل دي.

په اګست او سپټمبر کې، د طالبانو له واک څخه سمدلاسه وروسته، د یوناما د بشري حقونو څانګې د فعلي چارواکو لخوا د پخوانیو امنیتي ځواکونو ډلو او حکومتي چارواکو د غیر قضایي اعدامونو راپورونه ترلاسه کړل، د بېلګې په توګه:

- د اګسټ د 14 او 15 ترمنځ، د راپور له مخې د کندهار په ښار کې، فعلي چارواکو 17 کسان له پخواني حکومت سره د تړاو له امله اعدام کړل.

- د اګست په 31 نېټه، د دایکنډي ولایت د خیدر په ولسوالی کې، فعلي چارواکو د راپور له مخې 14 پخواني امنیتي ځواکونو غړي چې تسلیم شوي وو، ووژل.

حکومتي چارواکو په وړاندې د سرغړونو راپورونه دوام لري، مګر عموما د ډلو پر ځای افراد په نښه کیږي. د یوناما بشري حقونو څانګې مشاهده کړې چې وژنې اکثرا د اعدام په بڼه ترسره کیږي - د بېلګې په توګه، کله چې یو فرد د خپل کور څخه ویستل کیږي او نږدې سمدستي پرې ډزې کیږي. داسې یوه پیښه د اپریل په ۱۵مه په سمنګان ولایت کې رامنځ ته شوه، کله چې فعلي امنیتي ځواکونو د پخواني ملي اردو یو افسر چې د لوړ پوړو چارواکو د ساتونکي په توګه یې کار کاوه، له کوره وویست او په ډزو یې وواژه.

د فعلي چارواکو لخوا د غیر قضایي وژنو ځینې نور مثالونه په لاندې ډول دي:

- د نومبر په ۱۳ نېټه، د پکتیا ولایت په ګردیز ښار کې د ملي پولیسو د دوو پخوانیو ښځینه افسرانو مړي د سړک په غاړه وموندل شول. د راپورونو له مخې دوی په کابل کې د فعلي چارواکو له خوا نیول شوي وې چې وروسته یې وژلي او جسدونه یې د سړک په غاړه کې پریښې دي.

- د نومبر په ۲۹، د کنړ ولایت د خاص کونړ په ولسوالی کې، دوو نارینوو - چې د راپورونو له مخې د فعلي چارواکو سره یې تړاو درلود - د ولسوالی د محکمې یو پخوانی قاضي په داسې حال کې په ډزو وواژه چې له جومات څخه کور ته روان و.

- د ډسمبر په ۱۲ نېټه، د ننګرهار ولایت د جلال آباد په ښار کی فعلي امنیتي منسوبینو لخوا د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالی پخواني ملي امنیت مدیر ونیول شو. د هغه مړی بله ورځ وموندل شو.

- د جنوری په ۱۲مه، د تخار ولایت په رستاق ولسوالی کې فعلي امنیتي منسوبینو د دولت پلوه ملیشو یو پخوانی قوماندان د خپلې لور له کوره نیولی او په ډزو یې وژلی دی. د راپورونو له مخې د هغه جسد په یوه غار کې پرېښودل شوی و.

- د فبروري په ۲۲ مه، د لغمان ولایت د مهترلام ښار په سیمه کې د سیمه ییزو پولیسو یو پخوانی افسر د مرمیو په ټپونو مړ وموندل شو. د راپورونو له مخې قرباني یوه ورځ مخکې ماښام مهال د فعلي چارواکو لخوا کور ته د تک پرمهال نیول شوی و.

- د مارچ په ۲۲مه، د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې، د ملي پولیسو یو پخوانی افسر د لښکرګاه ښار په یوه روغتون کې د هغه شکنجې په پایله کې مړ شو چې د فعلي امنیتي افسرانو له خوا لس ورځې وړاندې نیول شوی او شکنجه شوی و.

برسیره پر دي، د پخواني حکومت او افغان ملي امنيتي ځواکونو سره د تړاو لرونکو اشخاصو خپلسري نیول او توقیفونه ښکاري چې خورا زیات دي. د راپورونو له مخې، په ډېری قضیو کې کسان د فعلي چارواکو لخوا په غیر ارتباطي توقیف کې ساتل شوي او شکنجه شوي او یا ورسره بد چلند شوی. د مثال په توګه:

- د ډسمبر په ۲۷ مه، په فاریاب ولایت کې د فعلي استخباراتو عمومي ریاست لخوا د ملي امنیت یو پخوانی افسر د نامعلومو تورونو په تور توقیف کړ. نوموړی د دسمبر په ۳۰مه، د قومي مشرانو په منځګړیتوب خوشې شو. هغه وهل شوی او د توقیف په وخت کې د هغه په وړاندې د بریښنا شاکونه کارول شوي.
- د مارچ په ۱۲ نیټه، په پکتیا ولایت کې یو پخوانی لوړ پوړی دولتي چارواکی د فعلي پولیسو لخوا توقیف شو. هغه په کیبلونو او پایپونو وهل شوی و په داسې حال کې چې لاسونه یې شاته تړل شوي وو، په سر ورته کلاشینکوف نیولی او په مرګ ګواښلي شوی و چې په پخواني حکومت کې د خپل رول په اړه د طالبانو له غړو سره د ناوړه چلند په اړه اعتراف وکړي. هغه یوه ورځ وروسته خوشې شو.

دا څرګنده ده چې هغه کسان چې په پخواني حکومت او امنيتي ځواکونو کې یې "رسمي" یا لوړ پوړي رول نه درلود - لکه د حکومت پلوه ملیشو پخواني غړي، د پخوانیو دولتي چارواکو ساتونکي او د پخواني امنيتي ځواکونو او حکومتي چارواکو خپلوان - هغوی هم د فعلي چارواکو لخوا په نښه کیږي. د مثال په توګه:

- د سپتمبر په ۲۳ مه، د غزني ولایت د ګیلان په ولسوالۍ کې فعلي چارواکو د ملي پاڅون د غورځنګ یو پخوانی قوماندان ووژه.
- د می په ۱۸ نیټه، د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالی کی د راپورونو له مخې فعلي چارواکو درې تنه ځايي کسان چې د غنمو په کرونده کې یې کار کاوه، او پخوا یې د پخواني ولسوال د ساتونکو په توګه دنده ترسره کړې وه، ووژل.

## ب. له وسله والو ډلو سره د تړاو په تور تورن اشخاص

د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو څخه د سرغړونو راپورونه، د غیر قضایي وژنو، خپلسري نیول او توقیفونه، شکنجه او ناوړه چلند په شمول، ترلاسه کړي چې د فعلي چارواکو لخوا د هغو اشخاصو په وړاندې ترسره شوي چې د دې وسله والو ډلو سره د تړاو په تور تورن وه.

### د داعش-خراسان ولایت ډله

د اګست له 15 راهیسې، د یوناما د بشري حقونو څانګې دفعلي چارواکو له خوا د داعش-خراسان ولایت ډلې په تړاو د ۵۹ تورنو کسانو غیرقضايي وژنې، ۲۲ خپلسري نیونې او توقیفونه او ۷ د شکنجې او بد چلند پېښې ثبت کړي دي. تر دې دمه ډېری پیښې په ننګرهار ولایت کې شوي دي چیرې چې د داعش-خراسان ولایت ډله ترټولو فعاله پیژندل کیږي او ډېری وژنې په چپرهار ولسوالۍ او جلال اباد ښار کې کیږي.

په دې سیمه کې د داعش-خراسان ولایت ډلې د تورنو غړو غیرقضایي وژنې په اکتوبر او نومبر کې خپل اوج ته ورسیدې. پیښې په ورته بڼه رامنځته شوي وې - جسدونه ډېری وختونه ټوټې شوي او یا سرونه یې ځینې پرې شوي، ځینې وختونه په ونو کې ځړول شوي وو. ډېری وختونه قربانیان د دوي د جسد له موندلو څخه یوه یا دوه ورځې دمخه دفعلي چارواکو لخوا نیول شوي. په ځینو مواردو کې، د وژنو حالت - د مرتکب په شمول - نامعلوم پاتې دي، د جسدونو سره یادښتونو موندل شوي چې دا په ګوته کوي چې دا کس د داعش-خراسان ولایت ډلې د غړیتوب په خاطر وژل شوی. د مثال په توګه:

- د اکتوبر په ۱۶ د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په بیلابیلو سیمو کې د پنځو کسانو جسدونه وموندل شول، چې په یادښتونو کې ویل شوي وو چې دوي د داعش-خراسان ولایت ډلې سره د تړاو په تور وژل شوي دي.

- د نومبر په ۱۵ د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د یوه قومي مشر جسد وموندل شو. هغه یوه ورځ وړاندې د فعلي چارواکو لخوا د یو جومات څخه نیول شوی و، او د داعش-خراسان ولایت ډلې سره د تړاو په تور په نښه شوی و. د هغه جسد ټوټه ټوټه شوی و، سر یې پرې او سترګې یې غوڅې شوې وې. ویل شوي چې هغه د مرمیو ټپونه هم درلودل.
- د می په ۳۰ مه، د کونړ ولایت په شیګل ولسوالۍ کې، فعلي امنیتي ځواکونو د لټون عملیاتو په ترڅ کې د داعش-خراسان ولایت ډلې یو تورن غړی ونیوی. په بله ورځ د هغه مړی په ډېر خراب حالت کې وموندل شو. د مخ پوټکی، شونډې او پوزه یې لیرې شوي او په تیزاب سوځیدلی و. ویل شوي چې هغه هم د مرمیو ټپونه لرل.

## د ملي مقاومت جبهه

د یوناما د بشري حقونو څانګې د بشري حقونو داسې سرغړونې ثبت کړې چې پکې د ملي مقاومت جبهې په تړاو شکمن یا تورن اشخاص په نښه شوي، په دې کې 18 غیر قضایي وژنې، د شکنجې او بد چلند 54 پیښې، په خپل سر د نیولو او توقیف 113 پیښې او د غیر رسمي یا غیر ارتباطي توقیف 23 قضیې شاملې دي. ډیری پیښې په بغلان او پنجشیر ولایتونو کې رامینځته شوې چیرې چې د ملي مقاومت جبهه ډیره فعاله پیژندل کیږي. د مثال په توګه:

- د جنورۍ په ۲۰، د بلخ ولایت په کشندې ولسوالۍ کې فعلي امنیتي ځواکونه یو شخصي کور ته ننوتل او د ملي مقاومت جبهې اته جنګیالي او څلور ملکي وګړي (یوه ښځه، دوه نارینه او یو ماشوم) چې په همدغه کور وو، په ډزو ووژل. د راپورونو له مخې دوې ټول له نږدې واټن څخه ویشتل شوي دي.
- د فبرورۍ په ۳مه، د بغلان ولایت د خوست ولسوالۍ د تګاب بازار په سیمه کې، دفعلي پولیسو یوه قوماندان یو ملکي وګړی ودراوه، لنډې پوښتنې یې ځیني وکړې او بیا یې د ملي مقاومت جبهې سره د تړاو په تور په ډزو وواژه.
- د مارچ په 12، د پنجشیر ولایت د عنابه په ولسوالۍ کې، فعلي چارواکو یو هېیوال د ملي مقاومت جبهې سره د تړاو په تور ونیولو. د هغه مړی بله ورځ د کور مخې ته وموندل شو. د راپورونو له مخې هغه تر مرګ مخکې سخت شکنجه شوی و. د نومورې د وژنې عکسونه په ټولنیزو رسنیو کې په پراخه کچه خپاره شول او له پیښې دوه ورځې وروسته د پنجشیر ولایت فعلي چارواکو اعلان وکړ چې د دې پیښې په تړاو یې اوه تنه د فعلي نظامي ځواک غړي نیولي دي.
- د جون په ۷مه، د بغلان ولایت د بنو په ولسوالۍ کې فعلي چارواکو څلور بالغ سړي د ملي مقاومت جبهې سره د تړاو په تور ونیول. د رپوټونو له مخې دوي مخکې له دې چې په ډزو وویشتل شي او ووژل شي په لښتو او چړو وهل شوي وو.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د ملي مقاومت جبهې سره د ملاتړ د تور په اساس په بغلان او پنجشیر ولا یتونو کې د فعلي چارواکو لخوا په ډلیزو توګه د ملکي وګړو په خپل سري نیولو مثالونه هم ثبت کړي دي. د مثال په توګه:

- د اپریل په ۹ مه، د بغلان ولایت د ده صلاح په ولسوالۍ کې، د فعلي وسله والو ځواکونو لخوا ۱۴ تنه نارینه - چې په هغو کې څلور هلکان وو- په دې تور ونیول شول چې تر څو په ملي مقاومت جبهې کې خپل خپلوان مجبور کړي چې تسلیم شي. اوه تنه یې په هماغه ورځ د ټولنې د مشرانو په منځګړیتوب خوشې شول، پداسې حال کې چې نور په توقیف کې پاتې وو.
- د اپریل په ۱۶ مه دبغلان ولایت دخوست ولسوالۍ د سوچې په کلي کې فعلي وسله والو ځواکونو پراخ کورونه تلاشي کړل او یو شمیر نارینه ملکیان یې د ملي مقاومت جبهې سره د تړاو په تور ونیول. په مجموع کې، 40 نارینه د څلورو هلکانو په شمول نیول شوي. لس تنه په هماغه ورځ خوشې شول، په داسې حال کې چې په بله ورځ، د اپریل په 17،

نور 20 بندیان خوشې شول. پاتې 10 بندیان د فعلي چارواکو د استخباراتو و عمومي ریاست ته لیږدول شوي، چیرې چې د راپورونو له مخې دوي په ټوپکونو، سوکونو، او لغتو وهل شوي دي. د دغو بندیانو څخه درې یې د فعلي استخباراتو ریاست لخوا خوشې شوي، پداسې حال کې چې پاتې اوه یې د راپور له مخې نامعلوم ځای ته لیږدول شوي.

- د مې په 31، د پنجشیر ولا یت، د حصه اول/خینج په ولسوالۍ کې، د راپور له مخې د فعلي امنیتي ځواکونو لخوا 22 ملکي وګړي د ملي مقاومت جبهې سره د ملاتړ په تور ونیول. د راپورونو له مخې، درې تنه د قومي مشرانو په منځګړتوب خوشې شول او پاتې ۱۹ تنه د دشتک زندان او بیا نامعلوم ځای ته انتقال شول.

## ج. د ادعا شویو "اخلاقي" جرمونو په وړاندې ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک مجازات او غیر قضایي وژنې

یوناما د 2021 کال د اګست له 15 راهیسې د فعلي چارواکو لخوا د ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک مجازاتو ۲۱۷ قضیې ثبت کړي دي. په ډیری مواردو کې، دا د هغو کسانو فزیکي مجازات وو چې د مذهبي او/یا اخلاقي اصولو څخه په سرغړونې تورن وو (د الف. بنسټیزې آزادیانې، مدني فضا او د فعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت رول برخه د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا د ترسره شویو مجازاتو د بحث په اړه وګورئ). د مثال په ډول:

- د اپریل په میاشت کې، د هلمند په ولایت، لښکرګاه ښار کې، د راپورونو له مخې امنیتي ځواکونو هڅیوال له دې امله وهلي او ټکولي چې دوی جومات ته د لمانځه لپاره نه وو تللي.
- همدارنګه د اپریل په میاشت کې، د بدخشان ولایت په فیض آباد ښار کې، فعلي پولیسو د پوهنتون د محصلینو یوه ډله د تراویح په لمانځه کې د نه ګډون په تور ووهله.

ظالمانه، غیر انساني او د سپکاوي ډک مجازات - د بدني سزاګانو په بڼه – چې په دې کې د راپور له مخې د زنا[32] (له واده څخه پرته جنسي اړیکه) په جرم تورن کسان هم شامل دي. په ځینو مواردو کې، دا ډول مجازات د قضایي پریکړو له مخې او په بعضې نورو مواردو کې د نیمه قضایي پروسې څخه وروسته ترسره شوي. د بېلګې په توګه، د فبرورۍ په ۲۱ د اروزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې، یو سړی په اعلني توګه د زنا په تور په دورو ووهل شو. د راپورونو له مخې هغه کس سهار وختي نیول شوی و او د فعلي چارواکو د "شکایتونو اوریدلو کمیسیون" - چې د امربالمعروف او نهی عن المنکر ریاست، د اطلاعاتو او کلتور ریاست، د عدلیې ریاست او محاکم استازو او همدارنګه د ولایت والي څخه تشکیل شوی و – په وړاندې راوړل شوی و چې هغوی دغه تورن کس په جرم محکوم کړ او په اعلني توګه چې کمیسیون یې څارنه کوله په دورو ووهله.

په یوه بله قضیه کې، د اکتوبر په ۱۰مه، په بدخشان ولایت کې، یوه ښځه د خپل لېور په وړاندې د فعلي چارواکو  ولسوال ته د شکایت کولو لپاره لاړه چې د هغې سره یې جنسي تیری کړی او بیا یې د ژمنې سره سره له واده کولو څخه انکار وکړ. د پولیسو مشر ښځه او د هغې لېور یې ونیول او بیا یې توقیف کړل. د جنوري په ۲۰مه، دوی ته د وهلو سزا ورکړل شوه (د ښځې لپاره ۳۹ دوره، د سړي لپاره ۴۰) او سزا په هماغه ورځ ترسره شوه. د وهلو وروسته، د فعلي چارواکو محکمې دوی ته د واده کولو امر وکړ.

یوناما داسې موارد هم ثبت کړي دي چې د زنا په تور تورن کسان د فعلي چارواکو له خوا په غیر قضایي ډول وژل شوي دي:

- د ۲۰۲۲ میلادي کال دفبروری میاشتی په ۱۴ مه نیټه د بدخشان ولایت په نوسی ولسوالۍ کې یوه ښځه او سړی کوم چې دواده څخه دباندی جنسي اړیکو (زنا) تورن وو دفعلي ولسوال په امر په اعلني توګه سنګسار شول.

---

[32] زنا یوه عربي اصطلاح ده کومه چې د شرعي قانون لاندی دهغه منع شوي عمل لپاره استعماليږي کوم چې د واده څخه دباندی د یوې ښځې سره دجنسي عمل دسرته رسولو لپاره استعماليږي. زنا په شرعي قانون کې هغه جرم دی چې په هغې باندي حد جاري کيږي، یا زنا هغه عمل دی چې د خدای دحکمونو خلاف سرته رسیدلی دی دکوم لپاره چې سزا ورکول واجب دي.

- د ۲۰۲۲ میلادي کال د اپریل په اوله په مزارشریف کې یوه ښځه او د هغې نارینه همکار د ښځې د وراره سره یو ځای په موټر کې وو کله چې دوی په یوه پوسته کې، د راپور له مخې، د فعلي امربالمعروف اونهی عن المنکروزارت دمامورینو او فعلي پولیسو لخوا ودرول شول. وروسته د دوي څخه د فعلي پولیسو په پوسته کې تحقیق وشو او معلومه یې کړه چې هغوي واده نه وو کړی اوبوله بل سره یې دخپلوۍ اړیکه نه درلوده. بل سهار، د ښځې او سړی مړي چې ټوکټوک شوي وو د روغتون دمامورینو لخوا دهغوي کورنیو ته وسپارل شول. دښځې وراره هم په همدغه سهار روغ رمټ یې خپلې کورنۍ ته وسپاره.

### د. د فعلي چارواکو لخوا د قوې زیاته کارونه

د یوناما د بشري حقونو څانګې د 15 اګست 2021 او 2022 د جون تر 15 پورې د فعلي چارواکو لخوا د قوې زیاته کارونه لږترلږه ۱۱۸ پیښې ثبت کړي. ډیری پیښې په پوستو کې د تلاشۍ پر مهال په ملکي خلکو ډزې کول شامل دي، ډیری وختونه دا پیښې ځکه رامنځته شوي چې قربانیان د فعلي چارواکو لخوا د دریدلو د امر/اشارې وروسته ندي دریدلي. د یوناما بشري حقونو څانګې هغه موارد هم ثبت کړي چې فعلي چارواکو د خلکو د کنټرول په هڅه کې بې توپیره ډزې کړې، خلک یې ټپیان کړي او وژلي دي، یا چیرې چې دوي د قانون پلي کولو عملیاتو په جریان کې په شاوخوا سیمو کې په ناځاپي توګه په خلکو ډزې کړي دي. د مثال په توګه:

- د جنورۍ په ۱۳ د کابل د دشت برچي په سیمه کې د ملکي وګړو پر یوه موټر، چې له یوې پوستې څخه د تیریدو په حال کې و، یوه فعلي چارواکي ډزې وکړې، یوه ځوانه ښځه چې له خپلې کورنۍ سره له واده څخه کور ته ستنیدل، ووژل شوه.
- د فبرورۍ په 19، په کندهار ښار کې، فعلي چارواکو په یوه ریکشا ډزې وکړې چې ادعا یې کوله د دوي په پوسته کې د تلاشۍ پر مهال اوندریدل، یوه ښځینه مسافره یې ووژله او دوه نور یې ټپیان کړل.

د فبرورۍ په ۲۳مه د فعلي کورنیو چارو وزارت یو لارښود صادر کړ چې امنیتي ځواکونو ته یې لارښوونه وکړه چې د ملکي وګړو سره د چلند په وخت کې ځینې احتیاطي تدابیر ونیسي، په شمول: "د ګزمې پرمهال، د چا په وړاندې د ډزو اجازه نشته پرته لدې چې په تاسو برید وشي او تاسي دځان دفاع ته اړتیا ولرئ.[33] "د لا رښود له صادریدو سره سره، د یوناما بشري حقونو ادارې د زیاتي قوې کارونې په پایله کې د ملکي وګړو د وژل کیدو او ټپي کیدو راپورونه ترلاسه کړي دي.

### و. د فعلي استخباراتو عمومي ریاست (استخبارات)

په تیرو لسو میاشتو کې د یوناما څارنې په یو شمیر ولایتونو کې د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست (چې د استخبارت په نوم هم یادیږي) د چارواکو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو په اړه ځانګړې اندیښنې څرګندې کړې.

د یوناما بشري حقونو ادارې د وژنو مثالونه ثبت کړي دي – هم د غیر قضایي وژنو په بڼه او هم د توقیف په وخت کې د سختي شکنجې په پایله کې – چې د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست لخوا ترسره شوي.

- د سپټمبر په ۳۰مه د غزني ولایت په غزنی ښار کې د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست لخوا د غزني ښار اوله حوزه کې پخوانی امنیه قوماندان، چې د غزني له سقوط سره سم طالبانو ته له تسلیمیدو وروسته د ۴۹ ورځو لپاره بندي و، په ډزو وواژه.

---

[33] خالد ځدران [@khalidzadran01]، ټویټر، 22 فبرورۍ 2022، د ماښام 7:31 بجې. دلته شتون لري: https://twitter.com/khalidzadran01/status/1496138106021498880?cxt=HHwWgMCyhcfrrMMpAAAA (پښتو).

- د ډسمبر په ۱۹مه د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ د مسکین اباد په کلي کې د پخواني افغان محلي پولیسو یو افسر د خپل کور مخې ته د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست لخوا ونیول شو. دسمبر په 22، د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست د قرباني خپلوان د یوې غونډې لپاره راوغوښتل او وروسته یې د نوموړي افسر مړی ورته وسپارئ.

د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست لخوا نیول او توقیفونه اکثرا په خپل سر ښکاري. د یوناما لخوا په ترلاسه شویو راپورونو کې، کسانو ته د دوي په وړاندې د ځانګړو تورونو په اړه خبر ندی ورکړل شوی، او د کورنۍ غړي اکثرا د دوي د ځای څخه ناخبره وي او یا یې د لیدلو لپاره غوښته رد شوې وي. په ځینو مواردو کې، توقیفونه د رسنیو د کارکونکي یا د مدني ټولنې د فعال په توګه د یو فرد د رول پر بنسټ وو. هغه کسان چې یوناما ورسره مرکه کړې ویلي چې مدافع وکیلانو ته د لاسرسي اجازه نه وه ورکړل شوې او ډاکټر ته د لاسرسي یادونه یوازي په هغه قضیو کې شوې وه چیرې چې دغه کسان د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست چارواکو لخوا شکنجه یا بد چلند وروسته ډاکټر ته راوړل شوي.

تر اوسه مستند شوي قضیې د توقیفیانو په وړاندې د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست لخوا د شکنجې او بد چلند بیلابیل ډولونه په ګوته کوي. سوکونو، او لتووهل او د کیبلونو او پایپونو سره وهل، او د ګرځنده بریښنایي شاک وسیلو کارول خورا عام میتودونه ښکاري. یوناما له یو شمیر هغو کسانو سره مرکې وکړې چې د فعلي استخباراتو د عمومي ریاست لخوا په کابل کې د پخواني استخباراتو ریاست یا شش درک توقیف ځای کې توقیف شوي وو. دغو توقیفیانو د لاندي ذکر شویو شکنجو او بد چلند ډولونو راپور ورکړی:

- د اوږدې مودې لپاره په یوازي بند کې ساتل؛
- لفظي توهین او د مرګ ګواښونه؛
- دېټمخو کسانو لخوا وهل ټکول؛
- د خوړو او اوبو نه ورکول؛
- داوږدې مودې لپاره د لاسونو تړل؛
- داوږدې مودې لپاره د روښانه څراغونو لاندې ساتل؛
- توقیف ځای ته د لیږدولو او د ځینو هم د پوښتنو ګرویږنو پر مهال سترګې پټول.[34]

[34] د ځوروَنی(شکنجی) پر ضد کمیټې دا معلومه کړې چی د هغه پوښتنو ګرویږنو په ترڅ کې چیرې چې د کس "دخاصو شرایطو لاندی" سر په مکمل ډول سره وپوښل شي هم دشکنجی دمنځته راتلو سبب کیږي. ددې موضوع دښه وضاحت لپاره د شکنجې پر ضد کمیټې لاندي راپورونه وګورئ.
(د کنوانسیون د ۱۹ مادې لاندې د غړو هیوادونو لخوا وړاندې شوي راپورونو ته پاملرنه - د اسراییلو ځانګړی راپور (۱۹۹۷) (CAT/C/SR.297/Add.1) ۵م پاراګراف او د۸م پاراګراف اول بند. د ملګرو ملتونو د ځوروَنې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپک چلند یا مجازاتو په اړه لارښود (چی د استانبول پروتوکول هم نومیږي) ټولې هغه کړنې چې په هغو کې دیو انسان دحواسو نورمال حالت له منځه ځي د بیلګې په توګه د روښنايي، ږغ یا د وخت پېژندلو احساس، هم د شکنجی یو میتود ګڼل کیږي. پدی اړوند د ملګرو ملتونو دبشري حقونو دعالي کمیشنرۍ هغه لارښود وګورئ کوم چې دشکنجی او نورو ظالمانه، غیرانساني، اوتحقیروونکي چلند او سزا د اغیزمن تحقیق اومستند کولو په هکله لیکل شوی دی، (۲۰۰۴ کال، پاراګراف ۱۴۵) هم په لاندې پته کتلای شئ.
https://www.un.org/ruleoflaw/files/training8Rev1en.pdf

## ۷. بنسټیزې ازادۍ

د ۲۰۲۰ کال په وروستیو او د ۲۰۲۱ کال په پیل کې د بشر د حقونو د مدافعینو، ژورنالستانو او د رسنیو د کارکوونکو هدفي وژنه ډېره شوه. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر په ۱۲ کی دافغانستان دسولی دمذاکراتو دشروع څخه وروسته په څومیاشتو کې دبشري حقونو د مدافعینو او ژورنالستانو څخه ۱۱ کسان ووژل شول. ددی قضایاوو په اکثره مواردو کې د یوناما د بشري حقونو اداره پدی ونه توانیده چې د دې بریدونو[35] ترسره کوونکی وپیژني .دغه کار په مدنی ټولنې باندې یو سوړ اغېز وکړ چې په پایله کې یې د بشري/انساني حقونو ګڼ شمېر مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارکوونکي له افغانستان څخه د وتلو د لارو په لټه کې شول. د اپریل په میاشتې کې د امریکا د پوځي ځواکونو د وتلو د اعلان په تعقیب د ناامنۍ دکچې د مخ په زیاتیدو په وجه د مدني ټولنې فعالینو ځانونه په یوه زیانمن کیدونکې حالت کې وموندل او په زیاتیدونکې توګه یې په کابل یا بهر کې د خوندي پاتې کیدو لپاره هلې ځلې وکړې. د ۲۰۲۱ کال جون څخه د اګست تر نیمایې پورې د یوناما دفتر وکولای شول چې د افغانستان په دننه کې ۹۷ کسان (د ۱۹ ښځو په ګډون) کوم چې د بشري حقونو یا د رسنیوسره دښکیلتیا له امله ځان ناامنه احساساوه له لوه ځایه بل ځای ته انتقال کړل. سربېره پر دې په دغه دوران کی د یوناما د بشري حقونو ځانګی وکولای شول چی د ۴۶۴ په تعداد دملاتړ لیکونه د بشري حقونو مدافعینو او خبریالانو ته کومو چی ځانونه په بالقوه توګه د خطر سره مخامخ احساسول ورکړي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې له ۱۵ تاریخ راهیسې کله چی فعلي چارواکې په افغانستان کی حاکم شول بشري حقونه لکه په سوله ایزه توګه راغونډیدل او د نظر او بیان ازادي او همدارنګه داسي مدنی فضا چی په هغه کې دفعلي ادارې په وړاندې دنظر او فکر اختلاف څرګندیده دمحدودیت سره مخامخ شول. د خبریالانو، د بشري حقونو مدافعینو، اولاریون کوونکو خپلسري نیول او بندي کول د رسنیو په ازادۍ اوپه مدني فعالیتنو باندې یو سوړ اغېز کړی دی. د استخباراتو د فعلي چارواکو لخوا د نیولو او بندي کولو کی دمعیني اجرایې پروسی نه شتون ددی باعث شوی چی ددې خطر زیاد کړي چی نیول شوي کسان دقضایې څارنې څخه بهر دمحکمی دکړنو دشروع څخه مخکې په زیاته اوطولاني توګه په توقیف کې پاتې شي. دغه ډول اندیښنې لانوري هم هغه وخت زیاتې شوې کله چی دفعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت له خوا دهغوي مزاحمت کوونکی رول او فعالیتونه په زیاتیدو شوه.

دفعلي چارواکو لخوا دلګول شوو بندیزونو او دبالمقابلو ګواښونو څخه دویري په وجه دافغانستان په اکثرو ولایتونو کی دمدنی ټولنې فعالینو او د بشري حقونو مدافعینو په لویه کچه خپل فعالیتونه درولي دي. خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو د رسنیو له نوي چاپیریال سره د مقابلې لپاره په زیاتیدونکې ډول دخپلو راپوروںو سانسور کیدو ته مخه کړه.

---

[35] همدارنګه پدې اړوند دیوناما خاص راپور: په افغانستان کی دبشري حقونو دمدافعینو، ژورنالستانو او درسنیو کارکوونکو وژل -۲۰۲۱-۲۰۱۸، ۱۴ فبروري ۲۰۲۱.
دلته یې لوستلای شئ: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/special_report_-_killing_of_human_rights_defenders_and_journalists_2018-2021_-_unama_-_14_february_2021_english_0.pdf




په کابل، افغانستان کې یو سړی د فعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د مسولینو سره خبري کوي. عکس د سوزانه جورج/واشنګټن پوسټ لخوا د ګیټي عکسونو له لارې

## الف. بنسټيزي آزادياني او د فعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت رول

د فعلي چارواکو د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت، چې په عامه اصطلاح د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت ورته واېي، په هغه لنډ مهاله حکومت کې چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په ۷ تاريخ اعلان کړی، شامل شو. دغه وزارت دپخواني د ښځو د چارو د وزارت ودانۍ اونور لوازمات په لاس کې واخستل کوم چې دطالبانو لخوا منحل اعلان شوی وو.

د طالبانو دتيري واکمنۍ په دوره کې د ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې هم يو ورته نهاد فعال و. د دې وزارت او داړوندو ولايتي رياستونو اوسنی دنده اومسوليت دپاليسی جوړول، مشوره ورکول، څارنه، د خلکو دشکايتونو مديريت، او په ټولو هغه مواردو کی چيري چې په نيک کار امر او د بدو څخه دخلکو د منع کولو باعث کيږي جدي پاملرنه کول شامل دي. په داسې حال کې چې ددې وزارت د دندي او مسوليت تطبيق په محلي کچه په يو ولايت کی تر بل ولايته توپير کوي خوهغه څه چی ديوناما دفتر په تېرو ۱۰ مياشتو کې ددې اداري له خوا ياداشت کړي دي: بنديزونه (په عامه او شخصی ځايونو کې په موسيقۍ بنديز؛ د ښځو د تصويرونو په ننداره کولو بنديز؛ په دوکانونو کې د بتانو په ننداره کولو بنديز؛ د ښځو له خوا د سينګار په کارولو بنديز؛ او په لويديځ سټايل کاليو په اغوستلو او د ويښتانو په جوړولو بنديز)، مکلفيتونه (د ښځو لپاره د مخ پوښولو او د اسلامي حجاب اغوستل، د ښځو سره په سفر کی د محرم نارينه ملګري شتون، په ورځ کې د پنځه لمونځونو اداکول)، او د بعضو نور کارونو په اړه مشوره ورکول لکه (د سر ويښتانو اندازه، د ږيري پريښودل، اود ښځو په ورزشي لوبو کی په برخه اخستلو، دښځو لخوا دموټرو چلولو او عامه حمامونو ته دښځو د لاسرسي په اړه محدوديتونه شامل دي).[36] د داسي  ډول لارښوونو ساحه په هدفی توګه مبهمه ښکاري، کوم چې د قانونيت د اصل د پلي کولو په برخه کې او همدارنګه د هدف دمشخص کولو په برخه کی انديښنې اوتشويشونه رامنځ ته کوي. د راپورونو له مخې د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت دعامو خلکو هغه شکايتونه هم داجراتو لاندی نيسي کوم شکايتونه چی د دولتي نهادونو په هکله شوي وي. دغه شکايتونه عموما د تليفون دګرمی ليکی (هاټ لاين) لخو اخيستل کيږي او د يو درې مرحله اېي پروسې يا حواله يې تصميم ګيرۍ له مخې پرې کار کوي.

داسی برېښي چی هغه دستورالعملونه او لارښووني چې د فعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر رياست لخوا صادري شويدي په ښځو باندې توپيري او نااندول او غيرمتناسب اغيز لري چی له مخې يې نشي کولای ښځې د خپلو حقونو څخه خوند واخلي.

- د ډيسمبر د مياشتې په ۲۶ تاريخ د امربالمعروف او نهی عن المنکر رياست د سفر د موضوع اړوند لارښوونه صادره کړه. موټروانانو ته لارښوونه وشوه چې د محرم (نارينه سرپرست) پرته د ۷۸ کيلومترو څخه ډير سفر کونکې ميرمنې يا هغه ميرمنې چې مخونه يې په اسلامي حجاب پټ نه وي په موټر کی سپرې نکړي. همدانګه موټروانانو ته امر شوی وو چې په موټر کی موسيقي ونه غږوي او د لمانځه په وخت کې بايد لمونځ کوونکو ته په صحيح ځای کې موټر و دروي.[37]
- د۲۰۲۲ کال دمارچ دمياشتی په ۲۷ مه نېټه دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت داسی فرمانونه صادرکړل چی په هغی کی د ټولو تفريحی پارکونو، باغونو، او د ميلې ځايونو ښځتنانو ته لارښونه شوی وه چې دې ځايونو ته د سيل کوونکو

[36] په ۱۹۹۰م کلونو کی دامربالمعروف دندې اومسوليتونه کولای شی چی د *ښاغلي چونګ هيون پايک، خاص راپورچي، په اخري راپور (دبشري حقونو وضعيت په افغانستان کې)* د بشري حقونو د کميسيون د۱۹۹۷ميلادي کال د دفبرورۍ ۲۰می نېټې د پريکړه ليک 1996/75، E/CN.4/1997/59 سره په تطابق کې (د۳۶-۳۲ صفحو پورې) کتلای شئ.

[37] د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، [@MOPVPE1]، ټوېټر، ۳۱ دسامبر ۲۰۲۱، ۰۴:۴۵ بجې د ماسپښين. دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1476889768357150729?s=20&t=7TuX4pPt6OQEvsPvgZDDFA;
الجزيره، (د نارينه خپلوان څخه بغير ښځو ته د اوږدی فاصلی سفر نه کول: طالبان)، ۲۶ دسامبر ۲۰۲۱. دغه راپور په دغه لاندی ليکه کی ليدلای شی.
https://www.aljazeera.com/news/2021/12/26/afghanistan-long-distance-travel-women-without-male-escort-taliban

نارینه او ښځینه وو وختونه جلا شي. همدارنګه يې د سفر کولو ادارو ته داسي لارښوني وکړې چې په هغه ښځو د الوتکې ټکټ ونه پلوري کوم چې نارینه محرم (سرپرست) ونلري.[38]

- د روان کال د می دمیاشتي په اوومه نیټه دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د يو مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کې يو لړ نوي مقرراتو څخه پرده پورته کړه چې دهغې له مخي هغه ښځي چې هغوي اسلامي حجاب نه مراعت کوي دهغوي په اړه به ددوه پړاوه چلند څخه کاراخلي. لمړی داچې دهغوي د پوهاوي لپاره به کار کوي او په دوهم قدم کې که چیري بیا هم يې حجاب مراعات نکړی نو بیا به يې دکور غړي (میړونه، پلرونه، اوورونه) ته خبرداری ورکول کيږي اوورپسې به د انتظامي اقداماتو سره مخامخ کيږي.[39] پدی سند کې ددی يادونه هم شوی چی هغه ښځي چې هغوي ددولت کارکوونکې دي د حجاب د نه مراعت کولو په صورت کی به دسمدستي ګوښه کيدو سره مخامخ کيږي. دغه سند د دې سپارښتنه هم کوي چی کومي ښځي چې په بشپړه توګه بهر وتلو ته اړتيا ونلري بايد دوتلو څخه ډډه وکړي.

ډيری لارښووني چې  دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا خپرې شوي دي په يو نه يو شکل په اساسی بشري حقونو لکه د حرکت ازادي، د بيان ازادي او د محرميت په حق باندي محدوديتونه واردوي. سربيره پر دې، د دې ډول لارښوونو ناڅرګند قانونی څرنګوالی، چې ډيری وخت د يو ویاند لخوا په ساده توګه د رسنيو په مرکه يا د ټويټر له لارې اعلانيری، دغه موجوده سيستم د تفسير او ناوړه چلند لپاره پرانيستی پريږدي. د مثال په توګه، د دسمبر په وروستيو کې د څو ولايتونو څخه باوري راپورونه دا په ګوته کوي چې د مختلفو فعلي وزارتونو ولايتي رياستونو په خپل سر او خپل نوښت بعضي لارښوني صادري کړي او د هغو د عملي کولو لپاره يې اقدامات هم کړيدي. د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا د دې ډول لارښوونو د صادرولو په اړه د پريکړې کولو پروسه ګونګه او د کافي داخلي مصلحتونو نه خالي ښکاري.

د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په وار وار دا روښانه کړې ده چې هغه لارښود چې دوی يې صادروي يوازې د سپارښتنو په حد کې دی. پداسی حال کې چی ددوي دغه دعوه ددوي د ۲۰۲۲ ميلادي کال د می دمياشتی دحجاب د فرمان سره په تضاد کې وه يعنی پدې معنی چی کومي ښځي چې ددغه حکم اطاعت ونکړي اوپه دوهم ځل هم شرعي حجاب رعايت نکړي نو د هغې دکور نارينه غړی (میړه، پلار، یا ورور) به دتاديبي جزا سره مخ کيږي. که څه هم حتی د دې اعلان څخه دمخه ديوناما دفتر هغه قضيې مستندي کړي وې په کومو کی چې دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت پرسونل د دوي د لارښوونو څخه د سرغړونې په تور په جريمه کولو او جسمي سزا ورکولو کې لاس درلود.

د محرم قانون، کوم چې پورته ذکر شو چې دښځو يوازې او بی محرمه سفر د ۷۸ کيلومترو څخه په زياته فاصله کی بندوي، يوداسي مثال دی کوم چی د امربالمعروف او نهی عن المنکر رياستونو مسولينو لخوا په خودسري توګه تفسير او تطبيق شوی چی حتی په بعضي مواردو کې لدې څخه هم سخت چلند کړی، حتی د مې دمياشتي د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د لارښوونو د نشر څخه مخکې هم دامربالمعروف او نهی عن المنکر رياستونو مسولينو ددې سپارښتنه کوله چې ښځې بايد دکوره د وتلو څخه ډډه وکړي. د بېلګې په توګه :

- د ۲۰۲۰ میلادي کال دجنوری په میاشت کې، د تخار ولايت د تأُلقانو په ښار کې دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت چارواکو درې هغه ښځې چې واړه ماشومان هم ورسره وه په بازار کې يې سودا اخستله په بدو او پوچو الفاظو سپکې کړې او دليل د سپکولو يې هم دا وو چی دهغوي سره محرم نه وو.

[38] د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، [@MOPVPE1]، ټويټر، ۲۷ مارچ ۲۰۲۲، ۰۹:۳۶ بجې د سهار. دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1507947182288220162?s=20&t=sshqCD9cwGCRkJbt8HL3LQ (دري)

[39] د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، [@MOPVPE1]، ټويټر، ۲ می ۲۰۲۲، ۰۲:۴۳ بجې د ماسپښين. دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1522882293718818816?s=20&t=sshqCD9cwGCRkJbt8HL3LQ (پښتو)

- دهمدې کال داپریل په میاشت کې د هلمند د لشکرګاه په ښار کې دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت مامورینو هغه ښځو ته سپکې سپورې وویلې چې په بازار کې یې دمحرم څخه بغیر سودا اخستله او همدارنګه هغه نارینه دکانداران چا چې دغه نامحرمو ښځو ته سودا ورکوله دجزا په توګه ووهل. همدارنګه په همدې تړاو فعلي پولیسو ۱۲ نارینه دکانداران هم ونیول چې وروسته بیا خوشي شول.

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د لارښوونو د اطاعت او مراعت کولو په موخه څارنو کې، د راپورونو له مخې، تهاجمي پلټنې شاملې دي په شمول د خلکو د مبایلونو د دننه معلوماتو/فایلونو پلټنه او د کنترول په موخه په مساجدو کې حاضرې ګانې اچول ترڅو مسجد ته د نه راتلو په صورت کې غیرحاضر شخص سره تماس ونیول شي. د فعلي امر بالمعروف او نهی عن المنکر مسولینو لخوا د دغه ډول تفتیشونو په پایله کې، د راپور له مخې، تنبیهي اقدامات ترسره شویدي.

د بیلګې په توګه، د مارچ په میاشت کې، د بدخشان ولایت په فیض اباد ښار کې د فعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت مامورینو یو سلمان وګوابنځ کچیري هغه د نارینه وو د ږیري کمولو ته دوام ورکړ نو د هغه لاسونه به پرې کړي. همدارنګه په بازار کې ښځو ته یې ګواښ وکړو کومې چې په بازار کې د بشپړ اسلامي حجاب یا چادرۍ څخه بغیر ګرځیدلې.

## ب. د سوله یزه جرګې (راټولیدلو) آزادي

د ۲۰۲۱ میلادي کال دسپتمبر دمیاشتې د شپږمې څخه تر اتمې نیټې پورې په ټول افغانستان کې د بیلابیلو عواملو په ملاتړ د خلکو لخوا اعتراضونه اومظاهرې وشوې چې دغه مظاهرې کله ناکله په مختلفو موضوعاتو لکه د ښځو د زده کړې، کارکولو او په عامه ژوند کې دهغوي دبرخې اخستلو دحقونو دساتنې په موخه وې، یا د پاکستاني حکومت په افغاني چارو کې دادعا شوو مداخلیو په ضد او یا هم په پنجشیر کې د طالبانو دپوځي عملیاتو په ضد ترسره شوي وې. دغه مظاهرې دلسهاو څخه ترسلهاوو مظاهره چیانو لخوا چې اکثره وخت ښځې وې دافغانستان په مختلفو ولایتونو لکه کابل، هرات، بلخ، بامیان، کاپیسا، غور، بغلان، بدخشان، پروان، کندز، تخار او نیمروز کې ترسره شوي. یوناما د باوري راپورونو څخه چې ترلاسه کړیدي داسې څرګندیري چې فعلي چارواکو دخبریالانو او مظاهره چیانو په وړاندې هغه وخت قوه استعمال کړه چې غوښتل یې مظاهره چیان و پاشل شي او درسنیزې فلمبردارۍ مخنیوی وکړي. د دغه کار لپاره یې هوایي ډزې وکړې او د هغو کسانو د نیولو او وهلو کوشش یې هم وکړو کوم چې په مظاهره کې موجود وو په خاص ډول ژورنالستان.

د سپتمبر په اتمه، د فعلي کورنیو چارو وزارت خبر ورکړ چې داعتراضونو اومظاهرو د ترسره کولو لپاره باید مخکې د مخکې د عدلیې وزارت څخه اجازه واخستل شي او همدارنګه د مظاهرو دتدویر کوونکو لخوا باید امنیتي ادارو ته دمظاهرو دموقعیت، وخت، دوام، هدف او شعارونو په هکله معلومات ۲۴ ساعته مخکې د مظاهرې څخه ورکړل شي او که چیرې داسې ونکړي نو دمظاهرو اجازه به نه ورکول کیږي. ذبیح الله (ذبیح الله م..) [Zabehullah_M33] تویټر، ۸ سپتمبر ۲۰۲۱، ۱۰:۰۷ ماښام، چې په لاندې لیکه کې لیدل کیدای شي.[40] پداسې حال کې چې په موازي توګه د ۱۱ او ۱۵ سپتمبر په منځ کې ددغه مظاهرو په خلاف نورې مظاهرې د فعلي چارواکو په حمایت په بلخ، کندز، ننګرهار، کابل، فاریاب، اونیمروز کې هم جوړې شوې مګر دا چې دا مظاهرې دفعلي چارواکو سره په همغږۍ تدویر شوې وې یا نه دهیڅ قسم محدودیتونو سره مخ نشوی.[41]

د سپتمبر له نیمایي څخه تر اکتوبره پورې په لاریونونو کې تر ډیره حده کمښت راغلی، او یوازې داسې لاریونونه ترسره شوه چې اکثراً د استادانو، روغپالانو اونورو کارکوونکو لخوا دخپلو معاشونو دغوښتلو په خاطر وو چې داګست د۱۵ نیټې راپدیخوا یې نه

---

[40] Zabihullah (ذبیح الله م..) [Zabehullah_M33] تویټر، ۸ سپتمبر ۲۰۲۱، ۱۰:۰۷ ماښام، چې په لاندې لیکه کې لیدل کیدای شي.
https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1435658652409647105?s=20&t=jHtAmznQ51R7zJQlCRyrUA (دري)

[41] د بېلګې په توګه، د سپتمبر په ۱۱ مه، د استاد رباني د دتعلیم اوتربیې پوهنتون او ددیني ښوونځیو د ۲۰۰ تنو په تعداد ښځینه زده کوونکو چې تور حجابونه یې اغوستي وو په بشپړه توګه یې مخونه پټ کړي وو اوتورې دستکلې یې هم اچولې وې ددې لپاره په کابل پوهنتون کې راټولې شوي وې چې د فعلي چارواکو د پالیسیو څخه ملاتړ اعلان کړي او د هغه ښځو اعتراضونه او تاوتریخوالی وغندي کوم چې پدې وروستیو کې دخپلو حقونو دغوښتنې لپاره راغونډې شوي وې او مظاهرې یې وکړې.(د رسنیو په ویډیو کې لیدل شوي دي چې فعلي چارواکي د دغه مظاهره کوونکو ښځینه برخه والو ملتیا کوي).

وو اخستي. د نومبر په میاشت کې، کله چې ژمی رانږدې شو او بشري وضعیت هم په خرابیدو شو نو داقتصادي مسایلو اړوند لاریونونه ترسره شول. وروسته دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا چې کوم محدودیتونه د دسمبر میاشتې په اخر کې دښځو په ګرځیدا او په نورو حقونو وضع شول (همدارنګه پدې اړوند د ښځو د حقونو اتمه برخه وګورئ) د ښځو دحقونو د غوښتلو په تړاو لاریونونه زیاد شوه،خاصتا دښځینه فعالانو لخوا لاریونونه دهیواد په شمالي ولایتونو او کابل کی ترسره شول.

د جنوری او فبرورۍ په میاشتو کې، د فعلي امنیتي پرسونل په واسطه دلاریونونو دپاشلو لپاره دمرچک لرونکي سپرې او د برقي وسایلو داستعمال سربېره د کورونو پلټنو، خپلسري نیولو او غیرارتباطي توقیفونو لړۍ یو ځل بیا شروع شوه ترڅود ناارامیو مخه ونیسي. د څو ښځینه فعالینو داوږده، ناویل شوي او ناقبول شوي بند[42] څرګندي قضایاوي د یوناما او د نړیوالي ټولني لخوا په قوي توګه وغندل شو. د ملګرو ملتونو سرمنشی د ۲۰۲۲ کال د فبرورۍ په ۱۰ مه د دغو فعالانو د رفاه په اړه اندېښنه څرګنده کړه او له طالبانو یې وغوښتل چې ددغه کسانو مصونیت او خپلو کورونو ته خوندي ورتګ اطمینانې شي.[43] پروانه ابراهیم خېل د جنورۍ په ۱۹ مه په کابل کې د فعلي چارواکو له خوا د خپل اوښي سره ونیول شوه او د فبرورۍ په ۱۱مه بېرته خوشې شوه؛ تمنا پریاني او د هغې درې خویندې د جنورۍ په ۱۹ مه په کابل کې له یوه کور څخه د فعلي چارواکو له خوا ونیول شوې او د فبرورۍ په ۱۲مه خوشې شوې ؛ مُرسل ایار د فبرورۍ په ۲مه د هغې له کور څخه ونیول شوه او د فبرورۍ په ۱۱ مه خوشې شوه ؛ ډاکټره زهرا محمدی د فبرورۍ په ۳ مه له خپل طبی کلینیک څخه ونیول شوه او د فبرورۍ په ۱۱ مه خوشې شوه.

د فبرورۍ په ۱۱مه، فعلي چارواکو یوه ډله کسان چې لږ تر لږه ۲۹ ښځې او د هغوی یو شمېر خپلوان، چې یوتعداد لاریون کوونکي هم په کې شامل وو بندیان کړل او د فبرورۍ په ۲۸ مه یې خوشي کړل.[44] دجنوري په ۱۸مه نیټه کله چې د پاکستان یو لوړپوړی چارواکی افغانستان ته راتللو نو د فعلي چارواکو په واسطه مدني فعال عظیم عظیمي ونیول شو ځکه هغه په خپل ټویټر اکاونټ[45] کی دیوه پاکستاني چارواکي دراتلو په وړاندی دلاریون پلان جوړکړی وو. تراوسه دعظیم عظیمی لا موقعیت ندی معلوم.

د ښځینه لاریون کوونکو د خپلسری نیولو اوپټ بندی کولو اوهمدارنګه دفعلي چارواکو دانتقامي کړنو له ډاره، ښځې په زیاتیدونکې توګه لاریونونه په یو نوي ډول ترسره کوي. د بېلګې په توګه ښځینه لاریون کوونکي ددې په ځای چې سړکونو او پارکونو ته دلاریون لپاره ووځي په شخصي کورونو کې دننه لاریونونه سرته رسوي، دلاریون په وخت کی د مخ ماسکونه اچوي، د شپې لخوا پر دیوالونو انځورونه اوشعارونه جوړوي، اوبله دا چې درسنیز پوښښ لپاره په ټولنیزو رسنیو باندې په زیاتیدونکې توګه تکیه کوي. د ۲۰۲۲ میلادي کال د مارچ په ۲۳ مه نیټه دفعلي چارواکو دهغې فیصلې په تعقیب چې د نجونو مکتبونه به د توقع په خلاف نه پرانستل کیږي په کابل او نورو ولایتونو کې دنجونو د ښوونځیو دپرانستلو لپاره دښځو په مشرۍ کوچنې لاریونونه ترسره شول.[46]

---

[42] دبیلګې په ډول، د جنوري په ۲۳ نیټي، دفعلي حکومت ویاند او داطلاعاتو اوکلتور وزارت معین ذبیح الله مجاهد د راپورونو له مخې وویل چې فعلي چارواکي ددې حق لري چې مخالفین او یاهغه څوک چې قانون ماتوي ونیسي اوبندي یې کړي، پداسی حال کی چې پدې کې پاتي راغلي چی په صراحت سره دا ومني چی دغه ذکر شوي کسان د دوي لخوا نیول او توقیف شویدي. پدی اړه د هشت صبح ورځپاڼه په لاندی لیکه کی لیدلای شئ.
https://8am.af/taliban-we-have-the-right-to-arrest-and-imprison-dissidents/ (دري)

[43] د انتونیو ګوټیترس ټویټر، ۱۰ فبروري، ۰۷:۳۲ دسهار، په لاندی لیکه کی لیدلای شئ:
https://twitter.com/antonioguterres/status/1491608359673368579

[44] دفبرورۍ په ۲۰می نیټي باندي دکورنیو چارو فعلي وزیر یوه ویدیو خپره کړه چې په هغې کې یوتعداد ښځې په توقیف کې لیدل کیږي کومي چې وایې هغوي د هغو دښځو دحقونو دفعالینو لخوا تشویق شوي وې کومې چې په خارج کې اوسیږي او ورته ویل شوي وه چې تاسی دفعلي حکومت خلاف مظاهرې وکړئ او پدې طریقه به تاسي ته د افغانستان څخه د ویستلو یوه لاره جوړه شي.

[45] عظیم عظیمي، ټویټر، ۱۰ فبروري ۲۰۲۲، دسهار ۰۷:۳۲ بجې، په لاندی لیکه کی یې کتلای شئ.
https://twitter.com/Azeemazeemi1/status/1483224448421572609 (پښتو)

[46] دبیلګې په توګه، طلوع تلویزیون، ټویټر، ۲۶ مارچ ۲۰۲۲، د سهار ۱۰:۵۲ بجی، په لاندی لیکه کې یې لوستلای شئ:
https://mobile.twitter.com/TOLOnews/status/1507603785996292097 (دري)

په همدې موده کې، دخلکو لخوا په هغه موضوعاتو باندې لاریونونه وشول کوم موضوعات چې د فعلي چارواکو لخوا مهم ګڼل کیدل اویا هم دفعلي چارواکو د پالیسیو په ملاتړ کې وو. دغه لاریونونه دقانون پلي کوونکو او امنیتي ادارو لخوا دهېڅ قسم محدودیت پرته سرته ورسیدل. د بېلګې په توګه، د فبرورۍ په ۱۵ او ۱۶ مه نیټه، د ګڼ شمېر ولایتونو په مرکزونو کې په سلګونو عادی ښاریانو، سوداګرو اوصرافانو مظاهرې وکړې اوپه بهر کی دافغانستان دشتمنیو په اړه دامریکا دحکومت تازه پریکړې پې ناسمه وګڼله اوپر هغې پې اعتراضونه وکړل. ددې په تعقیب دفبرورۍ دمیاشتی د ۱۹ څخه تر ۲۲مې نیټې پورې د ولایتونو په مرکزونو کې دپوهنتونو داستادانو او محصلینو لخوا سوله اییز لاریونونه په لار واچول شول چې پکې یې په بهر کې د افغانستان د شتمنیو په هکله د امریکا د حکومت تازه پریکړه ناسمه وبلله او هغه یې وغندله. همدارنګه د ۲۰۲۲میلادي کال د اپریل د میاشتې په نیمایي کې یوڅو لاریونونه وشول چې په ایران کې د بشري حقونو خلاف د افغاني وګړو سره ناوړه چلند یې وغندئ (بعضې ددې لاریونونو څخه یې په تاوتریخوالي بدل شول، د بېلګې په توګه، د اپریل په ۱۱ مه نیټه په هرات کې لاریون). همدارنګه په خوست او کونړ ولایتونو کې د پاکستان د هوایي بریدونو په وړاندې لاریونونه وشول. د همدې کال د مې په میاشت کې په څو ولایتونو کې د پوهنتون محصلین راټول شوي وو چې د فعلي حکومت د مې میاشتی د اوومې نیټې د حجاب د پالیسۍ څخه ملاتړ څرګند کړي.

له بلې لورې، کوم لاریونونه چې دفعلي چارواکو د پالیسیو په خلاف وشول او یا په هغه موضوعاتو وشول کوم چې دفعلي چارواکو لپاره د اختلاف وړ وو په منظمه توګه د فعلي چارواکو لخوا د محدودیتونو سره مخامخ شو چې د دې محدودیتونو یوه بیلګه یې داهم وه چې رسنۍ یې پرې نښودلې چې دغه لاریونونه اویا غونډې تر پوښښ لاندې راولي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۲۲ میلادي کال د اپریل په ۱۴مه نیټه په هرات کې داستخباراتو د فعلي عمومي ریاست لخوا د هغه مقابل لاریون مخه ونیول شوه کوم چې د ایران په ملاتړ پې غوښتل ترسره کړي. د فعلي استخباراتو عمومي ریاست دهمدې پلان شوي لاریون په ارتباط ۲۶ کسان ونیول اوبندي یې کړل. همدا راز د ۲۰۲۲ میلادي کال داپریل په ۲۲ مه نیټه د کابل په ۱۳مه حوزه کې هغه لاریون وپاشلو کوم چې د شیعه هزاره ټولنې لپاره د امنیت د زیاتولو غوښتنه یې کوله. نوموړو لاریون کوونکو غوښتل چې د همدې میاشتې د ۱۹ مې نیټې په لویدیځ کابل کی د داعش – خراسان ولایت ډلې له لورې د زده کړو په مرکزونو دحملې په تعقیب د امنیت دبهتر کولو غوښتنه وکړي (چې ددغه لاریون په دوران کی د فعلي امنیتي کسانو لخوا په هوا کې د ډزو، د تلیفونونو د ماتولو او د دوو مظاهره کوونکو د ټپي کیدو راپورونه راڅرګند شول او همدارنګه د راپورونو له مخې خبریالانوته یې اجازه ورنکړه چې د دې لاریون پوښښ وکړي).

### ج. د نظر او بیان ازادي

د اګست په۱۷ مه، فعلي چارواکو په عامه توګه ډاډ ورکړ چې د رسنیو ازادۍ ته به اجازه ورکړل شي که چیرې دوی "بې طرفه پاتې شي" او "ملي ارزښتونه او ملي یووالي ته زیان ونه رسوي" یا "د اسلامي اصولو سره په ټکر کې نه وي."[47] خو په راتلونکو اونیو او میاشتو کې، فعلي چارواکو د هغه څه په اړه اضافي لارښوونې صادرې کړې چې رسنیو یې د راپور ورکولو او خپرونو اجازه لري، او همدارنګه نوي مقررات یې وضع کړل چې د رسنیو په سکتور کې د ښځو په رول باندې اغیزه کوي.

د سپټمبر په ۱۹مه، د فعلي حکومت د رسنیو او اطلاعاتو مرکز د رسنیو د فعالیتونو په اړه یو لړ لارښوونې خپرې کړې چې ټولو چاپي، غږیزو او ویډیویي (تصویری) رسنیو ته یې لارښوونی وکړې چې د اسلام دین او شریعت خلاف محتوا له خپرولوڅخه ډډه وکړي، د ملي او بانفوذه شخصیتونو او همدارنګه د ملي او شخصي محرمیت د سپکاوي څخه په کلکه ډډه وکړي، همدارنګه د محتویاتو د تحریف څخه په کلکه ډډه وکړي، او د خبرونو او راپورونو په چمتو کولو او خپرولو کې بې طرفي ساتل او یوازې

[47] د فعلي حکومت ویاند ذبیح الله مجاهد څرګندونی وکورئ. الجزیره، "په کابل کې د طالبانو د لومړي خبري کنفرانس نقل"، ۱۷ اګست ۲۰۲۱، دلته یې ولولئ: https://www.aljazeera.com/news/2021/8/17/transcript-of-talibans-first-press-conference-in-kabul

حقایق خپرول يې هم پکې ذکر شویدي[48]. د نومبر په ۲۱مه، فعلي امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د لارښوونو یوه نوې ټولګه خپره کړه چې د نورو شیانو تر څنګ، د رسنیو څخه غوښتل شوي چې د فلمونو یا ډرامو (سیریالونه) د ښودلو څخه ډډه وکړي کوم چې ښځینه اداکارانې یا لوبغاړې پکې ښودل کیږي، همدارنګه بهرني فلمونه چې د "افغاني یا اسلامي ارزښتونو" سره مخالف وي هم باید نشر نشي، او له ښځینه ژورنالیستانو څخه غوښتل شوي چې اسلامي حجاب مراعات کړي.[49] همدارنګه د مې په ۱۹مه، د فعلي امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د تلویزیون ښځینه خبریالانو ته امر وکړ چې د خپرونو پر مهال خپل مخونه باید پټ وساتي.[50]

د فعلي چارواکو لخوا په رسنیو باندی پورته ذکر شوي لارښوونې پلې کول، په ځانګړې توګه په ولایتونو کې، د یو بډایه او پرمختللي افغان رسنیو باندي د پام وړ منفي اغیزه کړېده: د دغه راپور په موده کې د خبریالانو خپلسري نیول کیدل، احضارکول، ګواښونه او اخطارونه د رسنیو د کنټرول لپاره په منظمه توګه ترسره شوي. دا ډول پیښو د فعلي اطلاعاتو او کلتور او د استخباراتو عمومي ریاستونو او نورو ادارو لخوا د جدي ښکیلتیا په نتیجه کې نور هم شدت واخیستی.

د اګست له ۱۵مه راهیسې شپږ خبریالان (ددوو ښځو په ګډون) ووژل شول (پنځه يې د داعش – خراسان ولایت ډلې لخوا او یو يې د نامعلومو مرتکبینو لخوا) او څلور تنه (ټول نارینه) د نامعلومو وسله والو یا مرتکبینو له خوا ټپیان شویدي. برسیره پردې، د یوناما د بشري حقونو څانګې سرغړونې ثبت کړي چې ۱۷۳ ژورنالیستان او د رسنیو کارکونکي يې اغیزمن کړي، چې له دې جملې څخه ۱۶۳ يې فعلي چارواکو ته منسوب شوي او ۱۰ نوري قضیې نامعلومو مرتکبینو ته منسوب شویدی. د بشري حقونو په دې سرغړونو کې د خپلسري نیولو (۱۲۲ قضیې، د یوې ښځې په شمول)، توقیفونه (۱۲، ټول نارینه) البته هغه توقیفونه چې د محاکمو او کورنیو غړیو ته خبر ندی ورکول شوی او نا معلوم ځای کې ساتل شوي، شکنجه او ناوړه چلند (۵۸ قضیې، چې یوه يې د یوې ښځې په اړه ده)، او د ګواښونو او تهدیدونو (۳۳ قضیې چې درې يې ښځې دي) شاملې دي[51]. کابل ښار په ټولیز ډول په هیواد کې د سرغړونو د مرکز په توګه ښکاري، چې دا په کابل کې د ازادو رسنیو ارزښت ښيي. ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په میاشت کې، د یوناما د بشري حقونو څانګې د راپور ورکولو په موده کې د پیښو په شمیر کې ترټولو لوړ ریکارډ ثبت کړیدی کوم چې د میاشتې په پیل کې په پلازمینه کې د څو لاریونونو سره تړاو لري. د هغو کسانو سره چې یوناما خبري کړیدي د فعلي استخباراتو عمومي ریاست نقش یا رول په ګواښونو، خپلسري نیولو، غیر ارتباطي توقیفونو (د محکمې له اجازی بغیر کوم چه فامیل او خپلوانو ته د خپل بندي ځای معلوم نه وي) او له همدې لارې په رسنیو او ژورنالیستانو باندې د فشار راوستلو کې په ډاګه کوي.

فعلي چارواکي تر دې دمه د اجرائیوي اشخاصو، ادارو او رسنیو ترمنځ د مؤثره همغږي میکانیزمونو په ساتلو یا بیا جوړولو کې پاتې راغلي دی. د اګسټ په ۲۱مه، د فعلي چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد په کابل کې د کابینې، د رسنیو فدراسیونو او د قانون د پلي کوونکو بنسټونو په ګډون د خبریالانو د شخصي خوندیتوب او کاري شرایطو په اړه د رسنیو د درې اړخیز کمېسیون د جوړېدو اعلان وکړ (دا لا تراوسه څرګنده نه ده چې ایا دغه کمېسیون غړیو ترمنځ کومه جلسه شوی ده که نه).[52] د مې په

---

48 د ژورنالیستانو نړیوال فدراسیون، "افغانستان: د رسنیو ظالمانه قوانین د رسنیو د لا محدودولو لپاره ټاکل شوي" ۲۸ سپتمبر ۲۰۲۱، دلته يې ولولئ: https://www.ifj.org/media-centre/news/detail/category/press-releases/article/afghanistan-draconian-media-rules-set-to-further-strangle-media.html.

49 د بشري حقونو د څار اداره، "افغانستان: د رسنیو پر وړاندې د طالبانو کړکېچ"، ۲۲ نومبر ۲۰۲۱ هم په لاندې پته وګورئ: https://www.hrw.org/news/2021/11/22/afghanistan-taliban-crackdown-media-worsens-0

50 ټویټر [@TOLOnews] طلوع نیوز، ۱۹ می ۲۰۲۲، د سهار ۱۱:۲۰ بجې، دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/TOLOnews/status/1527179889790558208 (دري)

51 یو فرد ممکن له یوې څخه زیاتو سرغړونو سره مخ شوی وي (د مثال په توګه، یو کس ممکن په خپل سری ډول نیول شوی وي، په غیر رسمي توقیف ځای کې ساتل شوی وي، شکنجه شوی وي اویا ګواښل شوی وي)، د سرغړونو شمیر د اغیزمنو کسانو له شمیر څخه څکه لوړ دی.

52 Zabihullah (ذبیح الله م...) [Zabehulah_M33@], ټویټر، اګست ۲۱مه، ۰۳:۵۳ د غرمې وروسته. دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1429041508213272582?s=20&t=sh9FGBnMMJCUU-wF9XR5jw (پښتو).

۱۹مه، د فعلي چارواکو وياند د رسنيو د سرغړونو سره د مبارزې لپاره د کميسيون د جوړولو ژمنه تکرار کړه.[53] خو د دې راپور تر ليکلو پورې تراوسه دغه کميسيون لا نه دی جوړ شوی.

فعلي چارواکو په دوامداره توګه خبريالان او د رسنيو کارکوونکي د سوله ايزو غونډو د پوښښ له امله په نښه کړي دي. د مثال په ډول، د سپتمبر په ۳۰مه، عکاس ژورناليست مرتضی صمدي د فعلي چارواکو له خوا له دريو اونيو غير ارتباطي توقيف وروسته خوشي شو دا ځکه چې نوموړی د سپتمبر په ۷مه په هرات کې د فعلي چارواکو پروړاندې د لاريونونو په اړه د راپور ورکولو له امله په خپل سري ډول نيول شوی وو. همدارنګه د سپتمبر په ۷مه نيټه، د اطلاعات روز خبريالان تقي دريابي او نعمت نقدي، چې په کابل کې يې د ښځو د اعتراضونو پوښښ کاوه، د فعلي چارواکو لخوا په خپل سري ډول دواړه ونيول شول، توقيف يې کړل او ناوړه چلند يې ورسره وکړ. دوی وروسته د سپتمبر په ۸مه خوشي شول. د دوی پر بدنونو باندی ښکاره اود تشدد څخه ډک سخت ټپونه ښکاريدل.

پورته ذکر شوي قضيې دهغو نښو نښانو بيلګه ده چې د راپور ورکولو په ټوله دوره کې په دوامداره توګه ترسره شوي او په ټول افغانستان کې يې د رسنيو لسګونه کارکونکي اغيزمن کړيدي.

د لاريونونو د نه پوښښ سربيره، فعلي چارواکو په مکرر ډول ژورناليستان منع کړي دي په مختلفو تهديدنو سره لکه (په خپل سري ډول نيول، ګواښونه او د تجهيزاتو ضبطولو په شمول) او همدارنګه دوي يې د نور مختلفو پيښو د پوښښ کولو څخه، لکه د ډله ايزو تلفاتو پيښې چيري چې ملکي وګړي په نښه شوي، منع کړي.

په ټول هيواد کې، د رسنيو مسولين هم راپور ورکوي او وايي چې د خصوصي سکتور او نړيوالو سرچينو څخه د مالي عوايدو نشتوالی دوی دې ته اړ باسي چې ځينی کارمندان لری کړی او بالاخره سوداګری يا رسنۍ بندي کړي.همدارنګه خبريالان د راپور ورکولو او د ځان سانسور کولو په اړه د فعلي چارواکو له غبرګون څخه هم ويره لري. معلوماتو ته نه لاس رسی هم د خبريالانو لپاره يوه د عمده ننګوونو څخه دی، دا ځکه چه خبريالان د لاريونونو د پوښښ څخه منع کيږي، خبريالانو سره معلومات نه شريک کيږي يا فعلي چارواکو ته لاسرسی نلري. همدارنګه د طالبانو له واکمنۍ وروسته په رسنيو کې د ښځو حضور په چټکۍ سره کم شوی دی.[54] د اپريل په مياشت کې فعلي چارواکو څرګنده کړه چې هغه رسنۍ به بندی کړی د کومو چې جوازونه پای ته رسيدلي وي او يا يې ماليات باقي وي.[55]

همدارنګه د رسنيو ډير شمير هغه کارکوونکي چې و يې نشو کولای تير کال د اګست په مياشت کې د تخليې په پروسه کی وطن پريږدي ډيرځ يې اوس هم لګيا دي چې وطن پريږدي. د راپور ورکولو په موده کې يا ددې راپور د ليکلو تر وخت پورې افغانستان د نړيوالو رسنيو په درجه بندي کی په چټکۍ سره راټيټ شوی دی.[56]

د دوديزو رسنيو او ژورناليزم سربيره، فعلي چارواکو په فعاله توګه د نظر ازادي هم په نښه کړې. د مثال په ډول، د جنورۍ په ۸ مه، په کابل کې، پروفيسور فيض الله جلال د فعلي چارواکو لخوا د راپورونو له مخې په ټولنيزو رسنيو کې د جنجالي څرګندونو

---

[53] Zabihullah (ذبيح الله م...) [@Zabehulah_M33], ټويټر، مۍ ۱۹مه، ۰۷:۲۵ د غرمې مخکې. دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1527302013058330625?s=20&t=sh9FGBnMMJCUU-wF9XR5jw

[54] د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر په ۲۱مه، بې سرحده خبريالانو او د افغانستان د ازادو خبريالانو ټولنې خبر ورکړ چې يوازې ۳۱۲ (د ۵۴۳ رسنيو له ډلې څخه چې د اګست تر ۱۵مې پورې فعال دي) اوس هم فعاليت کوي؛ همدارنګه تر ۶۴۰۰ زياتو خبريالانو خپلې دندې له لاسه ورکړي دي. د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر ۲۱مه تازه معلومات ښيي چه په افغانستان کې ۴۰ سلنه رسنۍ تړل شوې، ۸۰ سلنه ښځينه خبريالانو خپلې دندې له لاسه ورکړي دي. دلته يې لوستلای شئ: https://rsf.org/en/news/taliban-takeover-40-afghan-media-have-closed-80-women-journalists-have-lost-their-jobs

[55] طلوع نيوز، "اترا: د کورنيو چارو وزارت بايد د ناقانونه جوازونو رسنۍ وتړي"، ۵م اپريل ۲۰۲۲، دلته يې لوستلای شئ: https://tolonews.com/afghanistan-177443

[56] د مۍ په ۳مه، د ۲۰۲۲ کال د مطبوعاتو د ازادۍ په نړيوال شاخص کې، افغانستان په ۱۵۶ (نمرې: ۳۸.۲۷) کې ځای لري کوم چې د ۲۰۲۱ کال په درجه بندۍ کې يې ۱۲۲ (نمرې: ۵۹.۸۱) ځای درلود. دلته يې لوستلای شئ: https://rsf.org/en/country/afghanistan

له امله ونیول شو، هغه بیا د جنورۍ په ۱۱مه د ملي او نړیوالو نیوکو وروسته خوشې شو.[57] د مارچ په ۴مه په کابل کې د سیاسي چارو کارپوه سید باقر محسني د فعلي استخباراتو ریاست لخوا ونیول شو او دوه ورځې وروسته خوشې شو.[58] د مارچ په شپږمه، په کابل کې، افغان/کاناډايي کمپاین او فعاله ندیمه نور، چې په پتینګاړه کاکۍ هم مشهوره ده، د فبرورۍ په ۲۴ مه له فعلي چارواکو لخوا نیول کېدو څو ورځې وروسته له غیر رسمی زندانه خوشې شوه.[59]

په ډېری نورو قضیو کې ،اشخاص په خپل سر د فعلي چارواکو لخوا په ټولنیزو رسنیو کې د شریک شوي پوسټونو په اساس نیول شوي چې ګمان کیږي په دوی باندی ناخوښه نیوکه یې کړې وي. د یوناما د بشر حقونو څانګې د داسې اشخاصو د ډارولو او ګواښ راپورونه ترلاسه کړي او په داسې حال کې چې ځینې یې له څو ساعتونو بند وروسته خوشې شوي، خو بیا په نورو قضیو کې افراد او اشخاص د اوږدې مودې لپاره توقیف شوي او بالاخره محکوم شوي. د بېلګې په توګه، د اپریل په ۲۷مه په هرات کې، د مدني ټولنې دوه فعالان او یو خبریال په ترتیب سره په خپل سری ډول د فعلي چارواکو استخباراتو ریاست لخوا ونیول شول. او بالاخره  دوی د فبرورۍ په ۱ او دمارچ په ۱۷مه ، د راپورونو له مخې د یوې پوځي محکمې لخوا "د رژیم ضد پروپاګنده خپرولو او د بهرنیو رسنیو لپاره د جاسوسۍ په ارتکاب" تورن شول. او د راپورونو له مخې خبریال خالد قادري په یو کال بند او د مدني ټولنې دوه فعالان په دوه کاله بند محکوم شول. د قادري دوسیه د طالبانو له واکمنۍ راهیسې د یوه خبریال محکوم کول او نوموړی ته سزا ورکول د هغه د کار له امله لومړنۍ پېژندل شوې بیلګه ده. هغه ادعا کړې چې وکیل ته یې لاسرسی هم نه درلود.[60]

## د. مدني ټولنې، د بشري حقونو مدافعین او د بشري حقونو ملي بنسټونه

د مدني ټولنې فعالانو او د بشري حقونو مدافعینو په ډېری ولایتونو کې خپل عملیات یا ورځنې کارونه بند کړي دي، د بدو عواقبو له ویری او د هغه محدودیتونو له امله کوم چې د فعلي چارواکو لخوا وضع شوي دي. همدارنګه تمویل یا مالي سرچینو ته د لاسرسي نشتوالی بله ستونزه ده چې د مدني ټولنې سازمانونو د فعالیت مخه یې نیولې ده.

د بشري حقونو مدافعین په دومداره توګه تر بریدونو لاندې راغلي، له تهدیدونو سره مخ دي، ځورول کیږی، په خپل سري توګه نیول کیږی، په غیر ارتباطي ډول توقیف کیږي او د ناوړه چلند او وژنې سره مخامخ دي. د اګست له ۱۵م راهیسې، د مدني ټولنې ۱۰ فعالان (د دوو ښځو په ګډون) وژل شوي دي (پنځه یې د فعلي چارواکو لخوا وژل شویدی، درې نور یې د داعش-خراسان ولایت څانګې لخوا وژل شویدي او د دوو نورو قضیو مرتکبین نامعلومه دي). برسیره پردې، د یوناما د بشري حقونوڅانګې ۶۵ سرغړونې ثبت کړي کوم چه مدافعین یې اغیزمن کړیدي ، چې له دې جملې څخه یې ۶۴ د فعلي چارواکو لخوا ترسره شوي دي او د پاتې یوې قضیې مرتکبین تراوسه نامعلوم دي. د بشري حقونو په دې سرغړونو کې په خپلسري توګه نیول (۴۷ قضیې، چې ۱۱ یې د ښځو په اړه دي)، بې ارتباطه یا غیر رسمی توقیفونه (۱۷ قضیې، چې ۱۰ یې د ښځو په اړه دي)، شکنجه او بد چلند (لس قضیې، چې یوه یې د یوې ښځې په اړه ده)[61] او ګواښونه او ډارونه (۱۷) قضیې چې شپږ یې د ښځو په اړه دي.[62] کابل ښار په ټولیز ډول په هیواد کې د سرغړونو د اصلي مرکز په توګه ښکاري، د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ او فبروري

---

[57] الجزیره، "طالبانو یو مشهور افغان پروفیسور خوشې کړ: کورنۍ"، ۱۱مه د جنوري ۲۰۲۲. دلته یې لوستلای شئ: https://www.aljazeera.com/news/2022/1/11/taliban-releases-afghan-professor-faizullah-jalal

[58] طلوع نیوز، "پروفیسور د جمعي له ماښام راهیسې ورک دی"، ۵م مارچ ۲۰۲۲. دلته یې لوستلای شئ: https://tolonews.com/afghanistan-176980

[59] پژواک خبري اژانس، "ندیمه 'پتینګړه کاکۍ' بیرته خوشې شوه"، ۹م مارچ ۲۰۲۲. دلته یې لوستلای شئ: (Pashto) https://pajhwok.com/ps/2022/03/09/social-activist-nadima-released/

[60] د بې سرحده خبریالانو راپور هم وګوری "افغانستان: افغان خبریال د پوځي محکمې لخوا محاکمه شو، په یو کال بند محکوم شو"، ۱۱م د مۍ ۲۰۲۲. دلته یې لوستلای شئ: https://rsf.org/en/afghanistan-afghan-journalist-tried-military-court-sentenced-one-year-prison

[61] دوه شکنجه شوي کسان بیا وروسته ووژل شول او د وژل شویو کسانو په لست کې هم شامل دي کوم چې مخکې په پاس پراګراف کې وړاندې شوي دي.

[62] څرنګه چې یو فرد ممکن له یو څخه زیات سرغړونې سره مخ شوي وي (د بیلګې په توګه، یو کس ممکن په خپله سری ډول نیول شوی وي، په غیر رسمی یا پټ محبس کې ساتل شوی وي، شکنجه شوی وي او یا ګواښل شوی وي)، د سرغړونو شمیر د اغیزمنو کسانو له شمیر څخه لوړ دی.

میاشتو په موده کې، د پیښو تر ټولو لوړه کچه پکې ثبت شوې ده، په دی دلیل سره چه د سږ کال په پیل کې په پلازمینه کابل کې د ښځو د حقونو فعالینو لخوا ډیر لاریونونه په لاره واچول شول نو ځکه ډیری سرغوړني رامنځ ته شویدي. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مرکزي او محلي دفترونه د اګسټ له ۱۵ می نیټې لږ وروسته د فعلي چارواکو لخوا تلاشي او ونیول شول. د سپتمبر په ۱۸مه په یوه رسمي بیان کې، کمیسیون د اګست له ۱۵م راهیسې د خپل فعالیت په اړه د خپل ناتوانۍ خبر ورکړ. همدرانګه مشران یې او ځینې اصلي کارکوونکي یې له افغانستانه ووتل.[63] فعلي چارواکو د می په ۴مه نیټه (د مارچ په ۲۱مه نافذ) د اداري فرمان له لارې دغه کمیسیون لغوه کړ.[64]

د مۍ په ۱۹مه، د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر بیچلیټ "د طالبانو د ددغی پریکړې په اړه ژور خپګان څرګند کړ چې دغه [کمیسیون کوم چې] د ډیرو کلونوراهیسی په خورا سختو شرایطو کې یی په فوق العاده توګه ښه او غیر معمولي کارونه ترسره کړي دي او د جګړې د ټولو خواوو د قربانیانو په ګډون د ټولو افغانانو د بشري حقونو په اړه یی رڼا اچولې وه. او آ غلي بیچلیټ پدی ټینګار کوي چې "د نوموړی کمیسون نه موجودیت د ټولو افغانانو او مدني ټولنې لپاره د یو ژور شاتګ په طرف ګام دی."[65]

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، فعلي امر با المعروف او نهی عن المنکر وزارت د خلکو شکایتونه ته د فعلي دولتي ادارو په وړاندې د تلیفوني تماس لاین او د دریو مرحلو قضاوت یا د راجع کولو پریکړې کولو پروسې له لارې معامله یا رسیدنه کوي. د محاکمو سربیره د فعلي عدلیه وزارت په چوکات کې په ملي او ولایتي کچه د حقوقو (حقوق) څانګې هم د مدني اوهم د سوداګریزو شخړو حل کولو ته دوام ورکړیدی. دښاریانو لپاره د مختلفو لارو د شتون سربیره کوم چې یو دوي کولای سي د فعلي چارواکو دولتي ادارو ته شکایتونه وړاندې کوي، بیا هم د بشري حقونو یوې خپلواکې اداري دنده به په یقیني ډول په افغانستان کې د بشري حقونو حساب ورکولو او تأمین ته وده ورکړي، او د اتباعو او اصلي چارواکو ترمنځ د پله رول ولوبوي.

---

[63] AIHRC [@AfghanistanIHRC] ټویټر، ۱۸ سپتمبر ۲۰۲۱، د ماښام ۰۸:۰۷ بجی. دلته یې لوستلای شئ:
https://twitter.com/AfghanistanIHRC/status/1439236862414098432?s=20&t=uAJVUWAZlIOHZMlJoi5hOA

[64] دغه فرمان په اساس، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون، د سولې د چارو وزارت او د جمهوري ریاست د دورې د مشرانو او ولسي جرګې د دارالانشاء ریاستونه هم لغوه شول.

[65] د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د منحل کیدو په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنرې آغلی میشل باچلیټ تبصره او مطبوعاتي اعلامیه، د مۍ ۱۹مه ۲۰۲۲. دلته یې لوستلای شئ:
https://www.ohchr.org/en/press-releases/2022/05/comment-michelle-bachelet-un-high-commissioner-human-rights-dissolution#:~:text=The%20Afghanistan%20Independent%20Human%20Rights,the%20ground%20since%20August%202021 .

## ۸. د ښځو حقونه




د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په ۸مه په کابل، افغانستان کې لاریون کوونکي د دشتي برچي په ګاونډ کې د لاریون پر محال.
(انځور د مارکُس یام / لاس اینجلس ټایمز لخوا)




د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په ۱۱مه په کابل، افغانستان کې د یو پوهنتون بهر ښځینه لاریون کوونکي د یو طالب-پلوه مظاهرې پر محال. عکس د عامر قریشي، AFP.

## الف. د ښځو او نجونو وضعیت

په دوحه کې د خبرو اترو پر مهال له مخکنیو ډاډونو سره سره او د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۷ په کابل کې په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې ښځو ته یې د هغوی د حقونو "د شریعت په چوکاټ کې" ډاډ ورکول، او دا چې "د ښځو پر وړاندې به هیڅ ډول تاوتریخوالی (...) او تبعیض نه وي"[66]، افغان ښځې د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د طالبانو واک ته له ستنېدو وروسته د ښځو د رول په اړه د طالبانو محافظه کاره سیاسي دریځ له امله اندېښمنې شوي وې. دا ډول دریځ د افغان میرمنو او نجونو د بشري حقونو او آزادیو څخه د ګټې اخیستنې د محدودیتونو په پرله پسې لړۍ کې څرګند شوی دی.

د ښځو له حقونو څخه د برخمن کېدو د کمښت لومړۍ نښه د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په ۷ مه د ټول نارینه سرپرسته کابینې جوړول وو؛ د جنسیت د شمولیت په اړه د خبرو اترو لپاره هیڅ ځای شتون نه درلود او نه یې لري. فعلي چارواکي په ملي او سیمه ایزو دواړو کچو کې د خپلو کړنو له لارې د تصمیم نیولو په هر فورم کې د ښځو په شاملولو کې پاتې راغلي. د دې په تعقیب، د سپتمبر په ۱۸ د ښځو د چارو د پخواني وزارت ودانۍ په فزیکي ډول ونیول شول او د فعلي چارواکو د نوي امر بالمعروف، نهی عن المنکر وزارت باندې بدله شوه. په ګډه، دواړو کړنو په اغېزمنه توګه د ښځو د سیاسي ګډون حق او د پرېکړې کولو په فورمونو کې استازیتوب له منځه یوړ، پشمول د هر هغه فرصت له لاسه ورکول چې د هغو مسلو په اړه مشوره وشي چې دوی او د دوی کورنۍ اغېزمن کوي. د سپتمبر په ۱۹، رسنیو ته د لارښوونې یادښت له لارې، فعلي چارواکو، د نورو شیانو تر څنګ، د ښځینه خبریالانو لپاره د جامو کوډونه تنظیم کړل او ښځې یې په فلمونو کې د کار کولو څخه منع کړې.

د سپتمبر او ډسمبر ۲۰۲۱ تر منځ، د فعلي چارواکو لخوا نور اعلانونه وشول چې پکې: د ښوونځي دوره تر ټولګي څخه وروسته د نجونو د زده کړې بندول، په ځانګړې توګه په دولتي ښوونځیو کې، د مارچ په ۲۳ د نامعلوم وخت لپاره وغځول شول؛ د کورنۍ د نارینه ساتونکي (محرم) حتمي بلل چې تفصیل یې د ډسمبر په 26 ورکړل شو؛ د ښځو د جامو په اړه خنډ چې د مې په میاشت کې د مقررې په شکل اعلان شوه.

د ډسمبر په دریمه طالبانو د ښځو د حقونو په اړه فرمان صادر کړ. کلیدي مسایل چې د ښځو په ګټه وړاندیز شوي دي عبارت دي له: ښځو حق لري چې واده ته رضایت وښيي او په زور واده کېدای نشي؛ کونډې د مېړه، اولاد، پلار او خپلوانو په ملکیت کې د میراث حق لري؛ کونډې حق لري چې د نوي مېړه لخوا مهر واخلي؛ د تعدد ازدواج په نکاح کې میرمنو ته د هغوی حقونه د شریعت مطابق ورکړل کېږي. او دا چې د فعلي چارواکو ستره محکمه باید ډاډ ترلاسه کوي چې محکمې د ښځو په درخواستونو غور کوي.[67] په داسې حال کې چې دغه فرمان په ځینو برخو کې ستایل شوی، افغان میرمن دغه فرمان د ښځو د حقونو د پراخې برخې په پام کې نیولو کې پاتې راغلی بولي.

د فرمان له صادرېدو سره سره، یوناما داسې موارد ثبت کړي چې د فعلي چارواکو - د قاضیانو، والیانو او نورو په ګډون - د اجباري ودونو په ساتلو او/یا ښځې د خپل خاوند له انتخاب څخه محرومولو. د مثال په توګه:

- د فبرورۍ په ۱۵مه د اروزګان ولایت د ترینکوټ په ولسوالۍ کې یوه ښځه او د هغې ورور محکمې ته د واده د وړاندیز په اړه ورغوښتل شوي وو چې هغې په وار وار رد کړي وو. د ابتدایي فعلي محکمې قاضیانو هڅه وکړه چې ښځه مجبوره کړي چې ویې مني، او کله چې هغې انکار وکړ، دوی هغه او ورور یې سخت ووهل. دوی اړ شول چې له خپل کوره

[66] CNN ، "طالبان ژمنه کوي چې 'د ښځو په وړاندې هیڅ ډول تاوتریخوالی نه کوي'، خو وايي چې نړیواله ټولنه باید 'زموږ اساسي ارزښتونو ته درناوی وکړي'"، 17 اګست 2021، د ماښام ۱۲:۱۳ بجې. دلته یې کتلای شئ:
https://edition.cnn.com/world/live-news/afghanistan-taliban-us-news-08-17-21/index.html .

[67] Zabihullah (..ذبیح الله م) [@Zabehulah_M33] ټویټر، ۳ ډسمبر ۲۰۲۱، د سهار ۱۱:۳۱ بجې. دلته یې کتلای شئ:
https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1466663907750256642?s=20&t=OSIB1ZasfMSJXFjMESiE-A .

وتښتي، د نور غچ له ډاره، او د هغې بل ورور چې پاتې و، د فعلي چارواکو لخوا د دې لپاره ونيول شو چې خور يې مجبوره شي چې وړاندېز ومني.

- د اپريل په ۲۷، يوې ۱۵ کلنې نجلۍ يوناما ته ووېل چې هغه د پلار له خوا پر يوه بوډا سړي پلورل شوې وه. هغې نه غوښتل چې له دې سړي سره واده وکړي نو له بل سړي سره وتښتېده او له هغه سره يې واده وکړ. وروسته د هغې پلار د هغې په وړاندې فعلي چارواکو ته شکايت وکړ. هغه د فعلي پوليسو لخوا ونيول شوه او نظارت خانې ته راوړل شوه، چېرته چې هغې ته ويل شوي چې بايد د خپل پلار خبرې واوري او خپل اوسني مېړه ته طلاق ورکړي ترڅو د لومړي سړي سره واده وکړي. هغه شاوخوا لس ورځې په نظارت خانه کې پاتې شوه او بيا د نورو پلټنو لپاره ولايتي زندان ته ولېږدول شوه. د راپورونو له مخې د هغې قضيه محکمې سره وه.

د ۲۰۲۱ ډسمبر په ۲۶، د فعلي چارواکو د امر بالمعروف، نهی عن المنکر وزارت لخوا خپور شوی لارښود د ښځو د تګ راتګ آزادي تر ۷۸ کيلومترو پورې محدوده کړه، مګر دا چې محرم ورسره وي، او موټروانان يې د بې حجابه ښځو د انتقالولو څخه منع کړل.[68] يوناما هغه پېښې مستند کړې چې ښځې د محلي فعلي چارواکو له خوا د محرم پرته يا مناسب حجاب نه اغوستلو له امله وهل شوي دي. (په دغه راپور کې د الف. اساسي آزاديو، مدني فضا او د فعلي امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت رول اړوند بخش هم وګورئ).

د فبرورۍ په ۲۷مه د يوه مطبوعاتي کنفرانس له لارې، د فعلي چارواکو وياند ذبيح الله مجاهد، د افغانانو له "عذر" پرته له هېواده د وتلو د بنديز په اړه خبر ورکړ او دا چې ښځې به له محرم پرته بهر ته د تګ اجازه نه لري.[69] هغه د مارچ په دوهمه خپل بيان روښانه کړ او وې ويل چې هغه افغانان چې "قانوني اسناد" لري له سفر کولو څخه نه منع کېږي او مېرمنو ته به اجازه نه ورکول کېږي چې پرته له محرمه د زده کړې لپاره بهر ته سفر وکړي.[70] د ښځو لپاره اصلي وضاحت د مارچ په ۲۴ په يوه رسمي ليک کې څرګند شو چې د فعلي چارواکو لخوا په ټول افغانستان کې سياحتي شرکتونو ته امر شوی و چې دوی د محرم پرته مېرمنو ته د الوتکې / سفر ټکټونه و نه پلوري. د کابل د نړيوال هوايي ډګر چارواکو ته هم د يوه رسمي مکتوب له لارې لارښوونه شوې چې له محرم پرته ښځو ته د سفر اجازه ورنکړل شي.

په عامه ځايونو کې د ښځو په جامو او فزيکي جنسيت باندې تمرکز د مارچ په دوهه کې په کلکه پيل شو کله چې د فعلي چارواکو د امر بالمعروف و نهی عن المنکر وزارت ټولو دولتي ادارو ته په يوه ليک کې لارښوونه کوي چې: ټولې ښځينه دولتي کارکوونکې بايد د اسلام او شريعت له قانون سره سم حجاب واغوندي؛ نارينه او ښځينه دولتي کارمندان بايد له فزيکي پلوه جلا شي. او هغه ښځې چې له حجاب پرته دولتي دفترونو ته ورځي بايد ودانۍ ته يې د ننوتو مخه ونيول شي.

په ۲۷مه د مارچ، دغه وزارت د کابل د ټولو تفريحي پارکونو، باغونو او د پکنک ځايونو مالکينو ته لارښوونه وکړه چې په ټاکلو ورځو کې له دغو سيمو څخه د جنسيت په توپير کار واخلي، او ښځې بايد په دغه ساحو کې حجاب په کلکه مراعات کړي. د مې په ۷ مه، په يوه مطبوعاتي کنفرانس کې، د همدې فعلي چارواکو وزارت د "اسلامي حجاب" د مراعاتولو په اړه لړ نوي مقررات افشا کړل، چې پدې مقرراتو کې د اخطار او انضباطي اقداماتو په تعقيب سره د هغو مېرمنو مېړونه، پلرونه او وروڼه په نښه

---

[68] د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، [@MOPVPE1]، ټوېټر، ۳۱ دسامبر ۲۰۲۱، ۰۴:۴۵ بجې د ماسپښين. دلته يې لوستلای شئ: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1476889768357150729?s=20&t=7TuX4pPt6OQEvsPvgZDDFA;
الجزيره، (د نارينه خپلوان څخه بغير ښځو ته د اوږدی فاصلی سفر نه کول: طالبان)، ۲۶ دسامبر ۲۰۲۱. دغه راپور په دغه لاندی ليکه کی ليدلای شئ. https://www.aljazeera.com/news/2021/12/26/afghanistan-long-distance-travel-women-without-male-escort-taliban

[69] i24News/AFP ، "طالبانو د پراخو امنيتي تدابيرو په ترڅ کې افغانان له وتلو منع کړل"، د 2022 فبرورې 28. دلته يې کتلای شئ: https://www.i24news.tv/en/news/middle-east/iran-eastern-states/1646033500-taliban-ban-afghans-from-evacuating-amid-massive-security-sweep.

[70] الجزيره، "افغانان د سمو قانوني اسنادو سره کولی شي بهر ته سفر وکړي: طالبان"، 2 مارچ 2022. دلته يې کتلای شئ: https://www.aljazeera.com/news/2022/3/2/afghans-with-correct-legal-documents-may-travel-abroad-taliban.

شوي چې دغه مقررات نه مراعاتوي. لارښود دا هم یادونه کړې چې هغه ښځینه دولتي کارمندان چې مقررات نه مراعات کوي سمدلاسه به له دندې ګوښه شي؛ په ورته ډول، هغه نارینه دولتي کارمندان، چې ښځې او لوڼې یې دغه مقررات نه مراعاتوي، وظیفې دي یې وځنډول شي. همدارنګه، دا سپارښتنه یې هم کړې چې "د شرعي حجاب د مراعات کولو غوره بڼه "د ښځو لپاره دا ده چې پرته له اړتیا له کور څخه په بشپړه توګه د وتلو څخه ډډه وکړي.

د فعلي چارواکو لخوا د افغان وګړو لپاره فرمانونه، په شمول د فعلي چارواکو د امر بالمعروف و نهی عن المنکر وزارت لخوا، په ښځو او نجونو او د هغوی د بشري حقونو څخه پر ګټه اخیستنې باندې په تبعیض امیزه او غیر متناسب ډول اغیزه لري. په ځانګړې توګه، په ښځو او نجونو باندې د محرم او حجاب لارښوونو تحمیلول د دوی د تګ راتګ آزادی حق څخه پر ګټې اخیستنې مستقیم اغیز لري ځکه چې دوی پرته له محرم او حجابه له کوره نه شي وتلای. دغه کار د ځايي چارواکو لخوا احتمالي ځورونې او ناوړه ګټه اخیستنې جذبوي یا دا چې دوی نشي کولای خدماتو ته لاسرسی ومومي لکه عامه ترانسپورت، روغتیایی پاملرنې، او حتی بشردوستانه مرستې. په دې برخه کې د کورنیو مشرې ښځې او کونډې په ځانګړې توګه زیانمنې دي کومې چې هیڅ نارینه خپلوان نلري چې له دوی سره واوسیږي. د کورنۍ نارینه غړي/ساتونکي د حجاب د لارښوونو پلي کونکي بلل شوي او دوی به د کورنۍ د ښځینه غړو د نه اطاعت کولو لپاره مجازات کیږي.

ثانوي زده کړو ته د نجونو لاس رسی د فعلي چارواکو لخوا د نامعلوم وخت لپاره  منع شوی ترڅو د ادعا له مخې دوی وکولی شي د اسلامي ارزښتونو سره د ښوونځیو نصاب له سره وګوري او ترتیب یې کړي، جلا ټولګي تنظیم کړي، او ډیرې ښځینه ښوونکې استخدام کړي. په دې توګه، د ثانوي ښوونځي عمر لرونکي نجونو نسل به خپل ۱۲ کاله لومړني زده کړې بشپړې نه کړي که چیرې دوی په راتلونکو درېو څخه تر ۱۲ میاشتو کې رسمي ثانوي ښوونځي ته راستانه نشي. دا بې شمیره فزیکي او رواني ټولنیز لګښتونه او خطرونه لري په شمول د: ځان وژنې؛ وختي او د ماشوم واده؛ ژر زیږون؛ د کم عاید له امله د روغتیا، تغذیې، هوسایښې او شتمنۍ په اړه د بې وزلۍ اړوند زیانونه؛ د استازیتوب د کچې کمیدل؛ پریکړه کول او اړونده ټولنیزه پانګه؛ او د کورنې تاوتریخوالي او/یا د جنسي استحصال او ناوړه ګټه اخیستنې د قرباني کیدو زیاتیدونکی خطر. هلکان د لومړنیو او ثانوي زده کړو، او ځوانان د دریمې درجې زده کړې ته د بشپړ لاسرسی څخه برخمن دي. باکیفیته دریمې درجې زده کړې ته د ځوانو میرمنو لاسرسی، د فعلي چارواکو لخوا د ټاکل شویو ورځو پر بنسټ د جنسیت په توپیر جلا شوي ټولګیو او د ښځینه ښوونکو د زده کړې لپاره د ښځینه ښوونکو نشتوالي له امله ننګونو سره مخ شوي. دا ټول پرمختګونه په داسې شرایطو کې شوي چې د راپورونو له مخې مذهبي مسایل په نصاب کې شامل شوي او په ځینو مواردو کې د تعلیم نوري برخې زیانمنې کوي.

تر دې دمه د فعلي چارواکو لخوا اخستل شوي ګامونو لړ کې – د روغتیا او پوهنې سکتورونو کې د پام وړ کار کوونکو په استثنا، د ملکي مامورینو په شمول ډیری مامورینو ته په کور کښیناستلو  ویل شوي، چې بشري قوه کې د ښځو ګډون په څرګند ډول محدود کړی. په ځینې دولتي دندو کې ښځو ته اجازت ورکړل شوی چې کار کولو ته ادامه ورکړي، چې  په دې کې هوایی میدان، پاسپورټ دفترونه  او د ښځو زندانونه شامل دي، خو زیات شمېر مسلکي او ښاري میرمنې چې په دې کې پخوانی ملکي مامورینې هم شامل دي په مطلق ډول کورونو ته استول شوي. په غیر رسمي سکتور کې په شمول د زراعت او  مالداري او همدا رنګه هنر او لاسي صنایعو په ډګر کې د ښځو رول د ملا د تیر حیثیت لري او د غیر رسمي اقتصاد نه لیدل کیدونکې چلونکې دي، لیکن په دنده د ګمارلو محدودیت له امله  دوي ننګونو سره مخ دي چې خپل تولیدات تر مارکیټه ورسوي. رسمي او غیر رسمي کوچني او متوسط سوداګرۍ، دوکانونه او خوړنځایونه چې د ښځو لخوا اداره کیدل هم د کار د بندیز سره مخ شوي. همدارنګه د فعلي چارواکو لخوا د ښځو بازارونه بندول کوم چې د ښځو چارو پخواني وزارت لخوا تاسیس شوي وو لکه په مزارشریف او هرات

ولایتونو کې هم دوی اغیزمن کړي. له کار پرته[71]، ښځې چې د کورنیو مشري کوي او کونډو ښځو په ګډون د ښځو مالي خپلواکي زیانمنېږي، چې په پایله کې یې لومړنیو خدمتونو، په تېره بیا روغتیایي خدمتونو ته پر وخت د لاسرسي مخه نیسي.

## ب. د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالی

د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې د طالبانو له خوا د واک تر لاسه کولو له راهیسي، د یوناما د بشري حقونو ادارې ۸۷ راپورونه د وژنو، جنسي تیري، ځان وژنې، جبري ودونو په شمول د ماشومانو ودونو، وهل ټکولو او همدارنګه دوې ناموسي وژنې ترلاسه کړي دي. د قانون د څو ډوله حاکمیت د وضعیت په پام کې نیولو سره هېڅ قضیه د رسمي عدلي سیستم له لارې نه ده څېړل شوې او د شخړو د حل دودیز میکانیزمونو ته د ډیرو قضیو د راجع کولو په اړه راپورنه ترلاسه شوي. د پولیسو او څارنوالۍ ځانګړي واحدونه، او محکمې چې د پخوانیو حکومتونو لخوا د ۲۰۰۹ کال د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون د پلي کولو د یوې برخې په توګه تاسیس شوي وو، د فعلي چارواکو د ۲۰۲۲ کال لپاره له بودیجې څخه حذف شوي.

د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیو ته د رسیدو لپاره د ځانګړي میکانیزمونو له مینځه وړلو سره، د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د عدالت او ملاتړ لپاره یوه مهمه لاره له لاسه ورکړې ده. ښایي دا کار د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو د کم راپور ورکولو لامل شوی وي. د بېلګې په توګه، د جنوری په ۱۲مه، په افغانستان کې یو لوی ولایتي روغتون خبر ورکړ چې د طالبانو له خوا د هېواد د نیولو راهیسې، د لسو ورځو په موده کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو له امله د ټپي شویو ښځینه ناروغانو نږدې ۷۰ څخه تر ۱۰۰ پورې پېښې ثبت کړې، پداسې حال کې چې د ۲۰۲۱ اګست څخه دمخه، روغتون په ورته موده کې له ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ پورې ورته قضیې ثبت کړې وې. روغتون ویلي چې د قضیو کم راپور ورکول ممکن د کور څخه بهر د میرمنو محدود وتلو، د عمومي نازک امنیتي وضعیت، د روغو پاتو شویو کسانو لپاره د فعلي چارواکو لخوا د محافظتي میکانیزمونو نشتوالی او همدارنګه د رسمي میکانیزمونو نشتوالی چې قضیې حل کړي، له امله وي.

د تاوتریخوالی څخه روغي پاتې شوې میرمنې کولی شي د ۲۶ ولایتونو په ولایتي او سیمه ایزو روغتونونو کې د کورنیو د ملاتړ په مرکزونو کې روغتیا، رواني ټولنیزو او راجع کولو خدماتو ته لاسرسی ومومي.[72] په هرصورت، د ښځو د خوندیتوب مرکزونو بیا جوړولو ته اړتیا ده چې د تاوتریخوالي څخه تیښتېدلو میرمنو ته سرپناه چمتو کړي.

---

[71] د UNDP افغانستان لخوا د 2021-2022 لپاره د افغانستان د ټولنیز-اقتصادي لید اقتصادي ماډلینګ د 600 ملیون ډالرو څخه تر 1 ملیارد ډالرو پورې - یا د افغانستان د ناخالص کورني تولید تر پنځه سلنې پورې - کله چې میرمنې د کار کولو څخه محدودې شوي - سمدستي اقتصادي زیان لیدلی. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام یا UNDP، "افغانستان: ټولنیز-اقتصادي لید 2021-2022 – د بنسټیزو اړتیاوو د بحران مخنیوی"، 1 دسمبر 2021. دلته یې کتلای شئ: https://www.undp.org/publications/afghanistan-socio-economic-outlook-2021-2022-averting-basic-needs-crisis#:~:text=December%201%2C%202021&text=The%20report%20indicates%20that%20the,corrective%20action%20is%20not%20taken.

[72] ۲۶ ولایتونه عبارت دي له: بادغیس، بغلان، بامیان، بلخ، دایکندي، فراه، فاریاب، غور، جوزجان، هرات، کابل، کندهار، کاپیسا، خوست، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، نیمروز، پکتیا، پروان، سمنګان، سرپل. ، تخار، ارزګان او هلمند. سرچینه: UNFPA-افغانستان، دسمبر 2021.

## ۹. عدالت، توقیف ځایونو او زندانونو سیستم

### الف. عدالتي سیستم او محاکم

د ۲۰۲۱م کال د اگست په نیمایې کې د فعلي نظام په راتگ سره، د محکمو او عدلي نظام پخواني چوکاټ ته د پای ټکی کیښودل شو. په هر صورت، فعلي چارواکو په ټول هیواد کی عدلي نظام او محکمې د اسلامی قوانینو ترچتر لاندی بیا ځلي پیل کړې. چې اړینې ګمارنې یې د عدلیې فعلي وزارت، د فعلي سترې محکمې، فعلي ابتدایي او استنافي محکمو او فعلي لویې څارنوالۍ د مشرۍ لپاره وکړلې او د عدالتي اداري چارو د ګرندی کولو لپاره یې په نورو برخو کی هم تغیرات راوستل. د تیر نظام دری پوړیز چوکاټ ساتل شوی او د تیرې دورې د قضایي کارکوونکو پرځای په ولایتونو او ولسوالیو کې نوی ګمارنې ترسره شوې، پخواني قاضیان ترې ویستل شوي. ډیرې نوي ټاکل شوي قاضیانو د عصري زده کړو پر ځای مذهبي زده کړې ترسره کړې. په ولایتونو کې فعلي چارواکي عدالتي نظام په غیر متمرکز شکل د دیني عالمانو، قومي مشرانو او د ټولنې دخلکو سره په مشوره اداره کوي. نظامي محکمه هم تاسیس شوې چې د فعلي دفاع وزارت، فعلي داخلې وزارت او د استخباراتو د فعلي عمومي ریاست د امنیتي کارکوونکو او منصوبینو سرغړونو ته رسیدګي کوي.

په موازي توګه، د نومبر په میاشت کې، فعلي چارواکو د اسلامي قوانینو او د فعلي اداري د اهدافو او اصولو سره سم د پخواني نافذه قوانینو مقایسوي بیا کتنه پیل کړې، چې تر اوسه ادامه لري. اوسمهال چې د قوانینو بیا کتنه ادامه لري، پخواني قوانین، د اسلامي شریعت احکام او د فعلي چارواکو نوې رامنځته شوي حکمونه د قضایي ارګانونو لخوا تطبیقیږی، چې له امله یې په شکلي/محاکماتي اصولو او ماهیتي برخه کې د یو واحد حقوقي چوکاټ په ټاکلو کی روښتیا شتون نه لري. د مثال په توګه، د محاکماتي پړاو د چټکتیا لپاره د سترې محکمې د احکامو په اساس قاضیان پرته له دې چې د څارنوالی لخوا د تحقیق دوسیوو سپارلو ته انتظار وکړي، توصیه شوې تر څو خپله تحقیق وکړي.

د روښتیا نه شتون او محاکماتي بې نظمي محکمې د محاکماتي پروسو او د مناسب محکماتي معیارونو د تطبیق په برخه کی پاتې راوستي چې له امله یې تر نیوکو لاندی راغلي. د مثال په توګه، نومبر کې فعلي عدلیې وزارت د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې صلاحیتونه ضبط کړل، یاده ټولنه نور نشي کولاې نوي وکیلانو ته جوازونه ورکړي او د مدافع وکیلانو د بیا تصدیق پروسه تر کار لاندی ده.[73] پداسې حال کی چې فعلي عدلیې وزارت او فعلي سترې محکمې امر کړی، هغه مدافع وکیلان چې نوي رسمي جوازونه یې ترلاسه کړي کولای شي د خپل موکلینو څخه دفاع وکړي او محکمو کې حاضر شي، سره لدې ډیرې راپورونه داسې څرګندوي چې د اوسني چارواکو لخوا د مدافع وکیل لرلو حق ته د احترام په نظر نه کتل کیږي، فعلي نظامي مسولین د ګرفتاری یا لومړني توقیف په وخت کې مظنونینو ته د هغوي د حقونو په تشریح کولو کې پاتې راغلي، د عدلیې فعلي وزارت د بشري منابعو د کمښت سره مخ دی او نشي کولای په پوره توګه ټولو بې بضاعته مظنونینو ته حقوقي مساعدین وټاکي او فعلي قاضیانو په کراتو کراتو مدافع وکیلان په محکمه کې د خپل موکلینو د قضایاؤ د دفاع کولو څخه منع کړي.

### ب: توقیفي اشخاص او مخکې له محکمې اوږد توقیف

د ۱۵ اګست څخه راپدیخوا، فعلي چارواکو په ټول هیواد کې ۴۱ زندانونه تر خپل واک لاندې راوستي او د ډیرو ستونزو سره لاس او ګریوان دي چې یادول یې اړین دي. د یوناما د بشري حقونو څانګې د څو زندانونو د فعالیدو پخلی کړی چې د ډیرو زندانیانو د شتون، پخپل سري توګه اوږد توقیف او د سرچینو کمښت د زندانیانو حالت اغیزمن کړی.

زندانونو د ۱۵ اګست څخه د مخه هم د ډیرو زندانیانو شتون حالت تجربه کړې چې د نړیوالو اصولو سره انډول ندی. د جولای او اګست میاشتو کې طالبانو په روانه توګه زندانونه تر خپل ولکې لاندی راوستل، زندانیان او توقیفیان یې ټول خوشې کړل. چې ډیری زندانیان د تیر حکومت په وړاندې په امنیتي او تروریستي جرایمو محکوم شوي وو، چې دې حالت د زندانونو

---

[73] طلوع نیوز، "د افغانستان د مدافع وکیلانو ټولنې دفتر د اسلامي امارت لخوا ونیول شو"، ۲۸ نومبر ۲۰۲۱: https://tolonews.com/afghanistan-175659

نفوس په ښکاره توګه کم کړ. د بشري حقونو څانګې د معلوماتو په اساس د ۲۰۲۱م کال د اګست میاشتی په لومړیو ورځو کې د هیواد په ولایتي مرکزي زندانونو، څرخی پله او د پروان مرکزي توقیف ځای (بګرام) کې تقریبا ۳۳۰۰۰ زندانیان او توقیفیان شتون درلود.

ټول توقیف شوي کسان (هغه چې په نظارت کې، مخکې د محاکمې په توقیف او زندان کې دي) په متواتره توګه د زیاتیدو په حال کې دي، ځکه چې فعلي چارواکو خپل عملي چارې پیل کړې، ډیر داسې کسان نیول شوي چې د هغوي د تحقیق یا محاکمې پروسه لا پاتې ده، همدارنګه ځینې زندانونو ته امر شوی چې پر نشې توکو باندې روږدي کسان دې هم ونیول شي چې تر سلګونو کسانو پورې رسیږي او دوې تر شپږ میاشتو پورې په زندان کې ساتل کیږي.

دې حالتونو فعلي کابینه دې ته مجبوره کړه چې په ۲۳ د نومبر یوه ناسته راوبلي او هدایت یې ورکړ چې د مظنونینو حقوق دې د شرعي احکامو مطابق رعایت شي، همدارنګه د توقیفیانو د توقیف موده دې رالنډه شي او دوسیې دې د سرنوشت د تعین لپاره محکمو ته وسپارل شي.[74] د جنوری په میاشت کې امیرالمومنین (د بندیانو د نظام د سمون اړوند طرزالعمل) تر عنوان لاندې یو فرمان صادر کړ چې، د نورو مسایلو تر څنګ، د امنیتي چارواکو له خوا د افرادو لومړنی توقیف تر دریو ورځو پورې محدود کړ، چې وروسته باید شکمن کسان محکمې ته وسپارل شي. که څه هم، د اضافي تحقیقاتو د اړتیا په صورت کې، فعلي امنیتي چارواکي کولی شي په جنایي قضیو کې شکمن کسان تر یوې میاشتې پورې توقیف کړي، او د یوې میاشتې نه زیات توقیف باید د محکمې د حکم پر اساس ترسره شي.[75]

د جنوري د میاشتې څخه راپدیخوا فعلي چارواکو ځینې کړنې او نوښتونه ترلاس لاندې نیولي دي تر څو پورته ذکر شوی فرمان تطبیق او د زندانیانو تعداد کم کړي. په ۴مه د جنوري د سترې محکمې په مشری یو کمیسیون رامنځته شو تر څو د زندانونو او توقیف ځایونو څخه لیدنه او تفتیش وکړي او بیګناه کسان خوشې کړي. یاد نوښت په ولایتونو کې هم رامنځته شو او د توقیف شوو کسانو دوسیې یې وڅیړلې. د کوچني اختر په مناسبت امیرالمومنین یو فرمان صادر کړ چې له مخې یې هغه زندانیان او توقیف شوي کسان خوشې شول چې لږ خطر لرونکي وو یا یې د بند موده لږه پاتې وه. د ۲۰۲۲م کال د جنوری څخه د مۍ تر میاشته پورې، د یوناما د بشري حقونو څانګې د ترلاسه شوو راپورنو له مخی تقریبا ۲۳۸۳ زندانیان د بدخشان، بغلان، دایکنډی، فریاب، غزنی، غور، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، خوست، کندز، لغمان، لوګر، میدان وردګ، مزار، ننګرهار، پکتیا، سمنګان او سرپل له مرکزي زندانونو څخه خوشې شوي.

سره د ډیرو کوښښونو بیا هم د محاکمې څخه د مخه د توقیفیانو د دوسیو ځنډ په زندان کې د کسانو د ډیروالي لامل ګرځیدلی. بیا هم د مۍ میاشتې د نیمایي څخه را پدیخوا د زندانونو چارو د سمون اداره یادونه کوي چې د هیواد په سطحه د نیول یا بندي شوو کسانو تعداد د ۱۰۰۰۰ څخه ډیر ندې. د جون د میاشتی په لومړنیو ورځو کی د زندانونو چارو د سمون ادارې د سترې محکمې څخه وغوښتل تر څو د دوسیو څیړل چټک کړي (او د محاکمی څخه د مخه بندیان د امکان په صورت کی خوشې کړي) او وړاندیز یې وکړ چې په زندانونو کې دې د محکمو څانګې پرانیستل شي یا یوه نوی کمیټه دې د ۲۰۲۲م کال د جنوری د میاشتی د کمیټې په څیر ترتیب شي. په ۱۹د جون، د هیواد په ټولو زندانونو کې ۹۶۲۱ کسان شتون درلود چې ۷۶ فیصده (۷۳۵۴ کسان چې ۶۵۰۰څخه زیات یې نارینه او تر ۵۰۰ څخه ډیر یې ښځینه وو) د محاکمې څخه د مخه پړاو کې قرار درلود او خپلو دوسیو څیړلو ته منتظر دي.

---

[74] Zabihullah (ذبیح الله م..) (@Zabehulah_M33] ټویټر، ۲۳ نومبر ۲۰۲۱، ۱:۱۷ د غرمې وروسته. پر لاندې پته یې کتلای شئ: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1463066662903685121?s=20&t=6phZvz2WuHAAOvZVQdxB5g (پښتو).

[75] طرزالعمل (غیر رسمي ژباړه). د طرزالعمل په 31مه ماده کې راغلي: "امنیتي مسئولین عام مجرمین په حقوق الله کې چې امنیت ته ګواښ وي له دریو ورځو زیات بند کې نه شي ساتلی، په دریو ورځو کې به یې اړونده مرجع (محکمې) ته سپاري او که د کشف الحال له امله یې زیات وخت ته اړتیا وه تر څو د اتهام لپاره یې شواهد، قرائن او نښې نښانې پیداکړي تر یوې میاشتې یې بند کې ساتلی شي. که تر یوې میاشتې زیاتې مودې ته د کشف الحال له امله اړتیا وي نو له اړونده محکمې څخه به د تمدید لیکلی حکم اخلي، تر څو د اتهام لپاره یې شواهد، قرائن او نښې نښانې پیداکړي. په ۳۲مه ماده کې راغلي: "که چیري په حق العبدي یعني د شخړو په صورت کې د فریق یا فریقینو تر دریو ورځو زیات بند کې ساتلو ته اړتیا وي د محکمې د حکم له مخې یې زیات بند کې ساتلی شي."

## ج: د زندانیانو سره چلند او د توقیف ځایونو وضعیت

د ۲۰۲۲م کال د جنورۍ د میاشتې د بندیانو د نظام د سمون اړوند طرزالعمل د توقیفیانو سره د چلند په اړه ځینې معیارونو او مکلفیتونو څخه هم یادونه کړې. د یادونې وړ ده، چې یاد طرزالعمل په ټولو پړاونو لکه د شخص نیول کېدل، لېږدول یا په توقیف کې د یو شخص شکنجه کول منع کړې او مرتکبین یې قابل د مجازاتو ګڼلي. یاد طرزالعمل د شکنجې له لارې د اقرار او اعتراف اخیستل هم منع ګرځولي او په محکمه کې د منلو وړنه بلل کېږي. په طرزالعمل کې د ځینې مکلفیتونو څخه یادونه شوې چې د منډیلا د قواعدو سره یو شان دي لکه د بندیانو لپاره استوګنځی، خواړه، روغتیایي خدمتونه، د هغوي کورنیو ته خبرورکول او هغوي سره د ملاقات کولو آسانتیاو برابرول.[76] د ۲۰۲۲ م کال د جون میاشت کې د فعلي زندانونو د چارو د سمون ادارې یوه کمیټه رامنځته کړه ترڅو د ولایتي زندانونو څخه نظارت وکړي او د زندانیانو په وړاندې د شته قوانینو او کړنلارو د تطبیق او د هغوي د حقوقو د رعایت کیدلو څخه ځان ډاډمن کړي.

ځینې زندانونو کې د ډیرې ګڼې ګوڼې له امله توقیفیان د محکومینو سره یو ځای د زندانیانو په برخه کې ساتل کېږي، چې د منډیلا د قواعدو څخه سرغړونه ګڼل کېږي. د زندانونو چارو د سمون ادارې د معلوماتو له مخې، ټول زندانونه حقوقي مساعدینو ته و توقیف ځایونو ته د لاسرسي ډاډ ترلاسه کوي. که څه هم د یوناما د بشري حقونو څانګې راپورونه ترلاسه کړي چې لږترلږه په دوو ولایتي زندانونو کې وکیلانو ته د ورتګ اجازه نده ورکړل شوې.

د آزادۍ له حق څخه د محروم شوي کوچنیانو حالت هم د اندیښنې وړ دی. د کوچنیانو د اصلاح مرکزونه او ولایتي زندانونه په کابل کې د زندانونو د چارو د سمون ادارې تر واک لاندې دي. د بودیجې د کمښت له امله هغه پخوانۍ مرستې چې د کوچنیانو د اصلاح مرکزونو سره کیدلې لکه د شخصي کور کرایه کول او د زده کړو اړتیاوې پوره کول او داسې نور د ستونزو سره مخ شوې، چې له امله یې محجوزین او د کوچنیانو د اصلاحي مرکزونو کارکوونکي زندانونو ته انتقال شوي. په بعضې مواردو کې کوچنیان د لویانو سره یوځای ساتل شوي چې د بیجنګ د قواعدو[77] څخه سرغړونه ده که څه هم په ډیرو مواردو کې د زندان په یوه څانګړې برخه کې ساتل کېږي چې د دوي تر منځ حداقل جلاوالی وساتل شي. د مۍ تر میاشتې پورې د بلخ، بغلان، فاریاب، جوزجان، کندهار، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، پکتیا، پروان، سرپل او تخار ولایتونو کې کوچنیان په ولایتي زندانونو کې ساتل کیدل.

تر ټولو جدي ننګونې چې د زندانونو او د کوچنیانو د اصلاحي مرکزونو لخوا په مقرر ډول راپور شوې پکې د سرچینو نشتوالی شامل دی. نومورې ننګونې، و توقیفیانو ته د کافي خواړو، روغتیایي پاملرنې، جامو، استوګنځی (لکه په ژمي کې بخارۍ) او د حفظ الصحي موادو چمتو کولو په اړه، د فعلي چارواکو د مکلفیتونو پوره کولو پر وړتیا اغېزه کوي، چې دا ټول د نیلسن منډیلا د قواعدو په اساس د انساني چلند د حق مهم اړخونه دي. د زابل او بلخ په شمول په ځینو زندانونو او د کوچنیانو د اصلاح مرکزونو کې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ننګونکی دی، ځینې زندانونو کې روغتیایي مرکزونه د متخصصو کارکوونکو او درملو له کمښت سره مخ دي. همدارنګه روغتیایي مرکزونه نشي کولای د روږدې بندي کسانو د بیا اصلاح اړتیاوې پوره کړي.

د خوراکي توکو د برابرولو په اړه، د کابل په ګډون یو شمېر زندانونه د بندیانو او توقیفیانو لپاره د کافي رژیم چمتو کولو لپاره په بهرني ملاتړ تکیه کوي. سربېره پردې، د نړیوال تمویل له بندیدلو وروسته، زندانونه او د کوچنیانو د اصلاح مرکزونه، پرته له مذهبي زده کړو، نشي کولای عصري او حرفوي زده کړې په خاصه توګه ښځو او کوچنیانو ته وړاندې کړي. دا کولای شي هغه اشخاص کوم چې د محکمې نه مخکې د زیات وخت لپاره توقیف شوي دي د ټولنیز-اقتصادي زیان سره مخ کړي او د خوشي کیدو وروسته د ټولنې سره په یوځای کیدو کې ورته ستونزې پیدا کړي.

---

[76] د بندیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو معیاري حداقل مقررات (د نیلسن منډیلا قواعد)، کوم چې د عمومي اسامبلې د 175/70 پریکړه لیک، 8 جنوري 2016 لخوا تصویب شوي.

[77] د ماشومانو د عدالت د تامین لپاره د ملګرو ملتونو عیاري حداقل قواعد (د بیجینګ قواعد)، د عمومي اسامبلې پریکړه لیک 33/40.

د جنوري څخه راپدیخوا، د بشري حقونو څانګه د فعلي قضایي او زندانونو د چارواکو سره د نړیوالو اسنادو او معیارونوپه تړاو، د توقیف ځایونو په اداره کولو کې و اجراآتي محافظتي تضمینونو ته د درناوي او توقیف ځایونو ته د ورتګ په اړه د هوکړې په تر لاسه کولو بوخت دي. په کابل او ولایتونو کې د فعلي لوړپوړو چارواکو د لیدلو برسیره د یوناما بشري حقونو څانګې د توقیف ځایونو استازو ته د وړتیا لوړنې سیمینارونه وړاندې کړي، چې د کابل د زندانونو د ادارې د کارکوونکو برسیره، د چرخي پله عمومي زندان، بامیان، دایکنډي، کندهار، کندز، لوګر، ننګرهار او هرات عمومي زندانونو استازو ته هم سیمینارونه وړاندې شوي.

په کابل کې د زندانونو چارو د سمون ادارې د یوناما د بشري حقونو څانګې کارکوونکو ته د پل چرخي زندان او د ځینو نورو ولایتونو زندانونو څخه د عمومي وضعیت د ارزونې لپاره د ورتګ اجازه ورکړې. د یوناما د بشري حقونو څانګه به په دې برخه کې له چارواکو سره خپلو اړیکو ته دوام ورکړي تر څو دوامداره همکاري او د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو او اصولو سره سم د توقیفیانو او بندیانو سره عادلانه چلند وهڅوي.

## ۱۰. پایلې او سپارښتنې

### الف. پایلې



کابل، افغانستان، د ۲۰۲۲ کال د مارچ د 23مې سهار، د نجونو لیسه، مخکې له دې چې فعلي چارواکي د نجونو د لیسو د تړلو د نېټې د غزولو اعلان وکړي. عکس د احمد ساحل ارمان، AFP.

په ملکي شیانو او ځایونو باندې د بې توپیره تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو او همدارنګه له جګړې پاتې ناچاوده توکو په پایله کې د افغان ملکي وګړو زیانمن کیدنه دوام لري. د اګست او جون میاشتو تر منځ، تر ټولو زیات ملکي زیان د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بریدونو رسولی دی، چې په عمده توګه یې د داعش – خراسان ولایت ډلې مسولیت منلی او پکې قومي او/یا مذهبي اقلیتونه په نښه شوي دي. برسېره پر دې، افغانان د لسیزو وسله والې جګړې د پایلو تر څنګ، د اقتصادي او بشري ناورین سره، و مالي، طبي او رواني ټولنیز ملاتړ ته د کافي لاسرسي پرته، مخ دي.

هغه معافیت، چې له مخې یې ښکاري د فعلي چارواکو غړو، د راپور ورکولو په موده کې، د بشري حقونو سرغړونې ترسره کړي، د جدي اندیښنې وړ دی.

د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا د ثبت شویو سرغړونو او دوام ماهیت ته په پام سره، د پخوانیو دولتي چارواکو او افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو لپاره د فعلي چارواکو لخوا اعلان شوې عمومي بخښنه په ټول هیواد کې په دوامداره توګه نه ده ساتل شوې.

پرته له دې چې د فعلي چارواکو او وسله والو ډلو، د داعش – خراسان ولایت او د ملي مقاومت جبهې په شمول، تر منځ هر ډول تاوتریخوالی رامینځته شي، د دې ډلو سره د تړاو لرونکو اشخاصو - یا د تړاو په تور – په غیر قضايي ډول وژل، شکنجه کول، ورسره بد چلند کول او په خپله خوښه نیول او توقیفول د بشري حقونو څخه سرغړوني دي.

هغه کسان چې په "اخلاقي جرمونو" تورن شوي دي د فعلي چارواکو د غړو لخوا د ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي ډک مجازاتو سره مخ شوي، او حتی په غیر قضايي توګه وژل شوي. دا مجازات او غیرقضايي وژنې د بشري حقونو د نړیوال قانون د ژوند او جسمي سلامتیا د حقونو څخه ښکاره خلاف ورزي ده.

د قوې د زیاتي کارونې پېښې د مخنیوي وړ دي. د دې لپاره چې د ملکي وګړو سره د ښکیلتیا په وخت کې د قوې د مناسب استعمال په اړه فعلي چارواکي/پرسونل روزل شوي وي باید ګامونه واخیستل شي.

د بشري حقونو سرغړونې چې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د فعلي استخباراتو عمومي ریاست په اړه رسیدلي دي په ځانګړې توګه د اندیښنې وړ دي. سرغړونې په یو لړ ولایتونو کې تایید شوي، او داسې ښکاري چې د فعلي چارواکو لخوا د خپل سري نیولو او توقیف، شکنجې او ناوړه چلند او حتی د فعلي استخباراتو عمومي ریاست لخوا د توقیف شوي اشخاصو د وژلو - که څه هم په څرګند ډول نه وي تایید شوي - د منلو وړ دي.

د نظر او بیان ازادي، د سوله ییزې غونډې ازادي، د ټولنې ازادي د هرې پرمختللې ټولنې بنسټونه دي. افغان ښځې او نارینه او په ځانګړې توګه د بشري حقونو مدافعین او خبریالان حق لري چې په عامه ژوند کې برخه واخلي، کار وکړي، زده کړې ترلاسه کړي او بې له ویرې واوریدل سي. د خبریالانو خوندیتوب او د افغانستان د رسنیو د سکټور بقا ډاډمنه کول هم د هیواد له پې ساري بشري ناورین سره د مقابلې لپاره اړین دي. په دغو بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو باندې د غیر ضروري او غیر متناسب محدودیتونو راپورونه د اګست له 15 راهیسې راڅرګند شوي دي. دا ډول محدودیتونه د افغانستان د بشري حقونو د نړیوالو مکلفیتونو سره په ټکر کې دي او په اوږدمهال کې د دې هیواد پر ثبات ناوړه اغیزې لري.

د فعلي امربالمعروف و نهی عن المنکر وزارت لخوا صادري شوي ډیري لارښوونې داسې بریښي چې د افغانانو په اساسي بشري حقونو لکه د حرکت آزادي (د محرم درلودلو قاعده او پرته له اړتیا له کوره د نه وتلو سپارښتنه)، د بیان آزادي (د جامو بڼې)، د محرمیت حق (د لمانځه د حاضري پاڼو لاسلیک کولو اړتیا) باندي محدودیتونه رامینځته کوي. برسېره پردې، د فعلي امربالمعروف و نهی عن المنکر وزارت لخوا د صادر شویو لارښوونو ناڅرګند قانوني ماهیت د تفسیر او ناوړه ګټه اخیستنې لپاره سیسټم خلاص پرېږدي، او دا څرګنده ده چې ددغو لارښوونو پلي کول په ځینې وختونو کې له مرکزه او په نورو وختونو کې بیا له مرکزه نه کنټرول کیږي.

د قانون حاکمیت یو مشخص او د پام وړ قانوني سیسټم ته اړتیا لري، چېرې چې اتباع وکولی شي خپل چلند د قانون سره سم تنظیم کړي کوم چې په کافي دقت او وضاحت سره جوړ شوی وي. اتباع هم حق لري چې د پریکړه کونکو لخوا په وقار او مساوات ورسره چلند وشي، او د عادلانه طرزالعملونو له لارې د خپلواکو او بې طرفه محکمو په وړاندې د پریکړې د ننګونې فرصت ولري.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون لغوه کول، چې د پاریس د اصولو[78] له مخې د بشري حقونو د ملي ادارې په توګه د A حیثیت درلود، یو داسې خلا پرېږدي چې ډکول به یې ستونزمن وي. فعلي مختلفو دولتي ادارو ته د خلکو لپاره د شکایت کولو د ځینو لارو د رامنځته کولو سره سره، د بشري حقونو د خپلواکې ملي ادارې نشتوالی به په افغانستان کې د بشري حقونو حساب ورکونې باندي اغېزه وکړي.

[78] د ملي بنسټونو وضعیت اړوند اصول (د پاریس اصول)، د عمومي اسامبلې پریکړه لیک 134/48، 20 دسمبر 1993.

ښځې او نجونې د افغانستان د نفوس نيمايي برخه جوړوي. د فعلي چارواکو له خوا د دوی د حقونو او آزاديو څخه د خوند اخيستلو دوامداره محدوديت په اغيزمنه توګه افغان ميرمنې بې غږه او ناڅرګنده کړي دي. د دوی د ورتياوو څخه ګټه پورته کول – دوی ته اجازه ورکول چې د خپلو حقونو او آزاديو څخه خوند واخلي، په شمول د مدني او سياسي ګډون، او همدارنګه په کاري ځواک کې ګډون، زده کړې (لومړنۍ، ثانوي او دريمه درجه) او د معيشت فرصتونو ته لاسرسی - اړين دي که چېرې فعلي چارواکي غواړي افغانستان له روان اقتصادي او بشري بحران څخه وباسي او د ملت جوړونه پيل کړي. ځکه نو هغه لارښوونې چې د فعلي چارواکو لخوا صادري شوي دي د ښځو او نجونو حقونه په بنيادي ډول اغيزمن کوي.

د عدالت سيستم، د فعلي محکمو په شمول، د منابعو او ظرفيت د محدوديتونو سره مخ دی، چې له امله يې د محاکمې څخه مخکې د اوږدې مودې لپاره او اکثرا خپلسري توقيفونه رامنځته کيږي، چې دا بيا د اجراآتي محافظتي تضمينونو او د عادلانه محاکمو د يقيني کولو لپاره اړين اجراآتي حقونو سره تطابق اغيزمن کوي. د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ د مياشتي د اميرالمونين د لارښوونو وروسته فعلي چارواکي هڅه کوي چې په زندانونو او توقيف ځايونو کې د بنديانو سره د چلند په اړه خپل مکلفيتونه پوره کړي، که څه هم د مالي محدوديتونو او نورو هغو مسايلو له امله چې واک يې په نورو وزارتونو پوري اړه لري، لکه ستره محکمه، چې د محکمې اداري مسؤوليت په غاړه لري، او د عدليې وزارت، چې د ورته بوديجوي خنډونه سره مخ دی چې په پايله کې يې د حقوقي مرستو رسول او لاسرسی اغيزمن کړي، او همدارنګه د وکيلانو موقف او جواز ورکول، د خنډ سره مخامخ شوي. فعلي چارواکو ته د توقيف حقونو د درناوي او په دې برخه کې د هغوي د مکلفيتونو په اړه پوهاوی بايد دوام ومومي، په شمول د پوليس، امنيتي او هغه قضايې مسولينو چې د قضيو چاري په غاړه لري.

د طالبانو له واک څخه لس مياشتې وروسته، افغانستان لا هم د خپل سياسي، امنيتي او ټولنيز-اقتصادي راتلونکي په اړه له ناڅرګندتيا سره مخامخ دی. اقتصادي، مالي او بشري ناورين چې د بنديزونو او د غير بشري مرستو د ځنډولو له امله زيات شوی، د ژوند مناسب معيار ته د لاسرسي په ګډون د افغانانو پر بشري حقونو يې منفي اغيز دوام لري.[79] افغان ميرمنې او نارينه په مشروع ډول له فعلي چارواکو څخه د يو ټول شموله حکومتي ليدلوري تمه لري چې سولې، ټولنيز يووالي او اقتصادي پرمختګ ته وده ورکوي. دا اړينه ده چې دا ډول ليدلوری د بنسټيزو بشري حقونو پر بنسټ ولاړ وي، ځکه چې له دې حقونو پرته په عامه چارو کې د خلکو ګډون محدود دی، امنيت لنډمهاله دی، او پرمختګ پايښت نلري. بشري حقونه يوازې د شکايتونو اوريدل ندي، بلکې د بيلابيلو غړونو په اړه هم دي چې پرته له ويرې څرګند شي او د ټولنيز ژوند د بډايه کولو په توګه ارزښت ولري.

افغانستان د يوه دولت په توګه د بشري حقونو د شته نړيوالو مکلفيتونو له مخې چې له هغو تړونونو څخه سرچېنه اخلي کوم چې د افغانستان دولت يې غړيتوب لري، پابند دی او پابند به پاتې شي. د بشري حقونو نړيوال چوکاټ د افغانستان لپاره يو قوي بنسټ برابروي چې د جګړې ميراث له منځه يوسي او د يوه ټول شموله افغانستان د پراختيا ملاتړ وکړي.

[79] *د افغانستان وضعيت او د نړيوالې سولې او امنيت لپاره د هغه اغيزې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور*، A/76/862-S/2022/485، 15 جون 2022، ۶۶ پاراګراف وګورئ.

## ب. سپارښتنې

1. بې توپیره بریدونه چې ملکي وګړي په نښه کوي په ښکاره ډول منع دي او باید سمدستي ودرول شي. دا ډول بریدونه بې له شکه ظالمانه دي او کیدای شي د بشریت پر ضد جرمونه وي.
2. د وسله والې جګړې قربانیان او د هغوي کورنیو ته باید په کافي اندازه مرستې (مالي، طبي، رواني ټولنیزې) ورکړل شي. په افغانستان کې د وسله والې جګړې پخواني اړخونه – د نړیوال پوځي ځواکونو په ګډون – په دې برخه کې مکلفیتونه لري.
3. د ماین پاکۍ او د پوهاوي لوړولو فعالیتونه کوم چې د جګړې څخه د پاتې شویو ناچاوده توکو لخوا د رامینځته شوي خطر د له منځه وړلو په موخه ترسره کیږي باید لومړیتوب ورکول شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ملکي وګړي - په ځانګړې توګه ماشومان - نور د جګړې څخه پاتې ناچاوده توکو لخوا زیانمن نشي. په افغانستان کې د وسله والې جګړې پخواني اړخونه – د نړیوالو نظامي ځواکونو په ګډون – په دې برخه کې د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې یې مکلفیتونو دوام لري.

## و فعلي چارواکو ته

1. د توکمیزو او مذهبي اقلیتونو د استازو سره اړیکه ونیسئ او د دوي د عبادت ځایونو، تعلیمي ادارو، بازارونو او نورو ګڼ میشته ملکي سیمو، په ځانګړې توګه د هزاره شیعه ټولنو او د هغو سیمو په شاوخوا کې چې دوي پکې اوسیږي او یا راټولیږي، د امنیت د تامین لپاره ګامونه پورته کړئ.
2. د پخواني حکومت او امنیتي پرسونل په اړه د بخښنې ژمنه په بشپړ ډول وساتل شي او هغه کسان چې ددغه ژمنې څخه سرغړونه کوي د بې طرفه او خپلواکو څیړنو له لارې د احتساب منګولو ته وسپارل شي او همدارنګه د نورو سرغړونو مخنیوی وکړل شي.
3. د داعش-خراسان ولایت ډلې او د ملي مقاومت جبهې په ګډون د وسله والو ډلو سره د تړاو په تور د ناقانونه وژنو، شکنجې، ناوړه چلند، په خپل سري نیولو او توقیفونو د مخنیوي او تحقیق لپاره سمدستي اقدام وکړئ.
4. د "اخلاقي" جرمونو په تور د اشخاصو په وړاندې د غیرقضايي وژنو او ظالمانه، غیر انساني او د سپکاوي ډک مجازاتو د مخنیوي او تحقیق لپاره سمدستي اقدام وکړئ.
5. ډاډ ترلاسه کړئ چې د هغو ګواښونو، شکنجې، ناوړه چلند، تاوتریخوالي او خپل سري نیونو په اړه چې د رسنیو کارکونکي، لاریون کونکي او د بشري حقونو مدافعین پکې په نښه کیږي، په اړه خپلواکه او بې طرفه تحقیقات ترسره شي.
6. د قانون د پلي کولو ټول فعلي پرسونل د ملکي وګړو سره د ښکیلتیا په صورت کې د قوې د مناسب استعمال په اړه وروزل شي.
7. د رسنیو د آزادۍ او د سوله ایزې غونډو د آزادۍ د محدودلو پالیسۍ په داسې پالیسیو بدلې کړئ کوم چې د بشري حقونو سره تطابق ولري.
8. ډاډ ترلاسه کړئ چې ژورنالیستان، د بشري حقونو مدافعین او د مدني ټولنې فعالین د بیان د ازادۍ خپل مشروع حقونو څخه خوند اخلي او معلوماتو ته لاسرسی لري، پرته له غچ اخیستنې یا برید څخه.

9. د مدني فضا ساتنه وکړئ او وده ورکړئ، پر ټولنیزو مسلو، بنسټیزو آزادیو، د ښځو او نارینه وو تر منځ د مساواتو د محدودولو قوانینو یا پالیسیو د تصویبولو او / یا پلي کولو څخه د ډډې کولو په شمول.

10. د ملګرو ملتونو د پاریس د اصولو سره سم، د حکومت څخه خپلواکه، په ملي کچه د ټولو بشري حقونو د ساتنې او ودې لپاره د پراخ ماموریت او د کافي سرچینو او مالي خودمختارۍ سره د بشري حقونو ملي ادارې رامینځته کول په پام کې ونیسئ.

11. ډاډ ترلاسه کړئ چې قربانیان، د دوی کورنۍ او استازي یې کولی شي په خوندي توګه د حساب اخیستلو لپاره وکالت وکړي او د جنسیت سره حساس او ټول شموله جبران په ګډون اغیزمنو مرستو ته لاسرسی ولري.

12. د محرم او اسلامي حجاب لاربښوونې له سره وڅېړئ او د هغوي توصیوي او اختیاري ماهیت روښانه کړئ ترڅو د زده کړې، کارموندنې او د ورځني ژوند او نورو ټولو برخو کې د ښځو او انجونو ګډون اسانه کړي.

13. باکیفیته زده کړو ته د ښځو او نجونو لاسرسی پیاوړی کړئ، لکه څنګه چې نارینه او هلکانو ته وړاندې کیږي، ترڅو د افغانستان ښځینه نفوس وروسته پاتې نشي.

14. ډاډ تر لاسه کړئ چې رسمي قضایي سیسټم د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي او ناوړه کړنو په اړه، د مدني قانون مسلې، د خسارې د جبران په ګډون، د ښځو شکایتونه په بشپړه توګه حل کوي.

15. د یوناما د بشري حقونو د څانګې سره، و توقیف ځایونو ته د بشپړ لاسرسي رامنځته کولو په اړه، په فعاله توګه ښکیل شئ.

16. د بشري حقونو لپاره ځانګړي افسران استخدام او وروزئ چې د شکنجې او ناوړه چلند پیښو د نظارت، تصدیق او راپور ورکولو دنده ولري، او توقیفیانو/بندیانو ته د هغوی د حقونو او دندو په اړه پوهاوي ورکړي.

17. د نیول کیدو له وخت څخه تر خوشې کیدو پورې قانوني وکالت ته د توقیفیانو او بندیانو د لاسرسي تضمین وکړئ.

18. د ناوړه چلند او شکنجې د پای ته رسولو لپاره سمدستي اقدامات وکړئ او یو خپلواک میکانیزم رامینځته کړئ ترڅو د آزادۍ څخه د محرومو کسانو د شرایطو څارنه وکړي.[80]

## نړیوالې ټولنې ته

19. د بیړنیو بشردوستانه اړتیاوو او بنسټیزو خدماتو لپاره د مالي اقداماتو او مرستو لپاره اسانتیاوي برابري کړئ.

20. که بندیزونه وساتل شي، ډاډ ترلاسه کړئ چې د هغوی پلي کول د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د یو مناسب معیار درلودنکي ژوند حق، څخه خوند اخیستنه نه اغیزمنه کوي.

21. د یوناما د بشري حقونو د ماموریت د دوام ملاتړ وکړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې په هیواد کې د همدې ماموریت د شتون له لارې د بشري حقونو د څارنې، راپور ورکولو او دادخواهۍ لپاره کافي سرچینې په اختیار کې لري.

22. د فعلي چارواکو سره د ښځو او نجونو په ګډون د ټولو افغانانو د حقونو د ساتنې او بشپړولو لپاره د دوی د مکلفیت په اړه خبرې اترې او دادخواهي دوامداره وساتئ.

---

[80] 17مه ماده، د *شکنجې ضد کنوانسیون اختیاري پروتوکول* (د 2018 کال د اپریل په 17مه د افغانستان لخوا یې د پلي کولو ژمنه وشوه) د غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې په ملي کچه د شکنجې د مخنیوي لپاره یو خپلواک میکانیزم رامینځته کړي.

23. د افغان میرمنو ملاتړ وکړئ تر څو وکولای سي د خپلو اندیښنو په اړه د فعلي چارواکو سره مستقیمه اړیکه ونیسي.

24. هغه نوښتونه چې افغان میرمنې په مستقیم ډول پیاوړي کوي تمویل کړئ ترڅو دوي د خپلو مدني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د لاسته راوړلو غوښتنه وکړي.

25. د فعلي زندانونو چارو د سمون اداري سره تخنیکي او مالي مرستي وکړئ ترڅو په پلازمینه او ولایتونو کې د یو معیاري بریښنایي قضیوو د مدیریت سیستم د رامینځته کولو او پلي کولو کار ته دوام ورکړي.

26. په توقیف ځایونو کې د روغتیایي او تعلیمي پرسونل د استخدام او ګمارلو لپاره د مالي ملاتړ کچه لوړه کړئ.

27. په توقیف ځایونو کې د خواړو، طبي او جامو اړتیاوو د چمتو کولو لپاره د مادي ملاتړ کچه لوړه کړئ.

## لومړۍ ضمیمه: د ژوند، آزادۍ او جسمي سلامتیا د حقونو په تړاو د بشري حقونو د سرغړونو تعریفونه

د دغه راپور په موخه د ژوند، آزادۍ او جسمي سلامتیا له حقونو سرغړونې په لاندې ډول تعریف شوي:

**خپل سري نیونه او توقیف:** نیونې او توقیفونه هغه مهال خپل سري ګڼل کېږي کله چې:

الف) له داخلي قوانینو سره په تطابق کې نه وي، څکه دوي په سم ډول پر هغو دلایلو نه وي بناء کوم چې د قانون له خوا رامنځ ته شوي یا له هغو طرز العملونو سره په تطابق کې نه وي کوم چې د قانون له خوا رامنځ ته شوي؛[81] یا

ب) یا په بل ډول خپل سري په دغو شرایطو کې د نامناسب، نا عادلانه، نا معقول یا غیر ضروري په مانا وي.[82]

د یوې نیونې یا توقیف خپل سریتوب د حالاتو د انفرادي ارزونې پر اساس دی.[83] د مثال په ډول، که چېرې یو شخص له خپلو بشري حقونو د محرومیدو له امله توقیف شوی وي (لکه د یوه سیاسي نظرېې بیان یا سوله ییز لاریون) یا هم توقیف د تبعیضي دلایلو له مخې ترسره شوی وي.

**اجباري ورکېدنه:** اجباري ورکېدنه هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې:

الف) یو شخص توقیف شوی وي یا په بل ډول له آزادۍ څخه محروم شوی وي؛ او

ب) له آزادۍ څخه محرومیت د دولتي استازو، یا د هغو اشخاصو یا د اشخاصو د ګروپونو له خوا ترسره شوی وي چې د هغوی په ملاتړ یا رضایت عمل ترسره کوي؛ او

ج) مسوول کسان د توقیف له منلو انکار کوي، یا د ورک شوي شخص برخلیک یا موقعیت پټ ساتي، کوم څه چې دغه شخص د قانون له ساتنې بهر ساتي.[84]

**د قوې زیاته کارونه:** د قوې کارونه هغه مهال زیاته یا نامتناسبه ګڼل کېږي که چېرې:

الف) قوه د قانون د تنفیذ او عامه نظم د ساتنې د مشروع هدف لپاره نه وي کارول شوې (لکه د قانوني نیونو ترسره کول یا د غونډو کنټرول)[85]؛یا

ب) په جدي ډول اړینه نه وي، لکه که چېرې نورې لارې چارې اړوند وضعیت ته د رسیدګۍ لپاره کارول کیدای شي؛[86]

---

[81] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، ۹ (۱) ماده؛ ۶۲۳/۱۹۹۵، ۶۲۴/۱۹۹۵، ۶۲۶/۱۹۹۵ او ۶۲۷/۱۹۹۵ شمېره مکالمې، دوموکویسکی ات ال د جورجیا په مقابل کې، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې ه خوا د ۱۹۹۸ کال د اپریل پر ۶ نېټه تصویب شوې، ۱۸.۲ پاراګراف.

[82] څرنګه چې د خپل سریتوب د شرایطو جامع لیست شتون نه لري، د خپل سري توقیف په اړه د کاري ګروپ له نظره، "خپل سریتوب باید یوه توقیف ته په کتو د ټولو اړوندو شرایطو په رڼا کې وارزول شي." د خپل سري توقیف په اړه د کاري ډلې، ۷ شمېره بحث، ۵۴ (ب) پاراګراف وګورئ.

[83] همدا مأخذ.

[84] له اجباري ورکېدنې د ټولو کسانو د ساتنې نړیوال کنوانسیون (۲۰۱۰)، ۲ ماده؛ له اجباري ورکېدنې د ټولو کسانو د ساتنې اعلامیه (۱۹۹۲) سریزه.

[85] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، ۹ (۱) ماده؛ ۶۲۳/۱۹۹۵، ۶۲۴/۱۹۹۵، ۶۲۶/۱۹۹۵ او ۶۲۷/۱۹۹۵ شمېره مکالمې، دوموکویسکی ات ال د جورجیا په مقابل کې، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې ه خوا د ۱۹۹۸ کال د اپریل پر ۶ نېټه تصویب شوې، ۱۸.۲ پاراګراف.

[86] د قوې او وسلو د کارونې په اړه بنسټیز اصول، ۴ او ۵ شمېره اصول، د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند قواعد، ۳ ماده.

ج) هغه حد د کوم لپاره چې قوه کارول شوې د جرم له جدیت او د تر لاسه کېدونکي مشروع هدف سره په تناسب کې نه وي.[87]

**له محاکمې پرته وژنې:** له محاکمې پرته وژنې[88] له ژوند څخه خپل سري محرومیت[89] دی چې له کومې قضايي یا قانوني پروسې پرته د دولت په استازیتوب، یا د هغه په شراکت، یا سازګاري یا رضایت ترسره شوې وي.[90] له محاکمې پرته وژنې له هغو حالاتو متفاوتې دي چېرې چې د مرګوني قوې کارونه "په سخت ډول د ژوند ژغورنې لپاره اجتناب نا پذیره وي"[91] او له هغو کړنو چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په توافق کې وي.[92] د مرګ هغه سزاوې چې له نړیوال قانون او معیارونو څخه په سرغړونه کې ترسره شوې وي او په نظارت/حراست کې مړينې ښايي له محاکمې پرته وژنې تشکیل کړي.[93]

**شکنجه او ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزا**

شکنجه: څرنګه چې د شکنجې د منع د کنوانسیون له مخې تعریف شوې:

*شکنجه هر هغه عمل دی چې یوه شخص ته یې په عمدي ډول سخت درد یا کړاو، که جسمي وي یا رواني، اړولی وي په دې موخه چې له هغه یا له دریم شخص څخه د معلوماتو یا اعتراف د ترلاسه کولو، یا د یوه عمل لپاره چې هغه یا دریېم شخص ترسره کړی وي یا یې پر ترسره کولو تورن وي هغه ته د سزا ورکولو، یا د هغه یا د دریېم شخص د تهدیدولو، یا د هر ډول تبعیض په اساس د هر ډول دلیل په موخه ترسره شوې وي، کله چې دغه ډول درد یا کړاو د دولتي چارواکي یا د بل شخص چې په رسمي ظرفیت کې عمل ترسره کوي له خوا یا د هغه په لمسون یا د هغه په رضایت یا خبرتیا کې اړول شوی وي. په دې کې هغه درد یا کړاو نه دی شامل چې په ذاتي یا ضمني ډول له قانوني سزاګانو څخه رامنځ ته کېږي."[94]*

په دغه تعریف کې څلور عنصرونه شامل دي:

۱. د سخت درد یا کړاو اړول؛

۲. قصد؛

[87] د قوې او وسلو د کارونې په اړه بنسټیز اصول، ۵ (الف) او (ب) شمېره اصل؛ د قانون پلي کوونکو چارواکو د چلند قواعد، ۳ ماده، همدارنګه ۶۸۷/۱۹۹۶ شمېره مکالمه، روجس ګرشیا، د کولمبیا په مقابل کې، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې له خوا د ۲۰۰۱ کال د اپریل پر۳ نېټه تصویب شوې، ۲. ۱ او ۱۰.۵ پاراګرافونه؛ او ۷۳۱/۱۹۹۶ شمېره مکالمه، روبینسن ور جامیکا، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې هـ خوا د ۲۰۰۰ کال د مارچ پر ۲۹ نېټه تصویب شوې، ۱۰.۳ پاراګراف.

[88] له محاکمې پرته، نا قانونه یا د خپل سرو وژنو په اړه د ځانګړي راپوررکوونکي له معلوماتو سره سم، د "له محاکمې پرته"، "نا قانونه" او "خپل سري" اصطلاحات په واضح ډول نه شي تفکیک کیدای. د هغه په اند، د دې پر ځای چې د دغو انفرادي اصطلاحاتو له مخې د پېښو د طبقه بندي کولو په لټه کې شي، تمرکز باید د نړیوالو قوانینو سره د هغو عملونو پر مخالف والی وي. له محاکمې پرته، نا قانونه یا د خپل سرو وژنو په اړه د ځانګړي راپوررکوونکي راپورE/CN.4/2005/7 ، ۶ پاراګراف وګورئ. همدارنګه د احتمالي ناقانونه وژنې د څېړنې په اړه د مینیسوتا پروتوکول (مینیسوتا پروتوکول) (۲۰۱۶)، "اهداف او محدوده"، ۲ پاراګراف، وګورئ.

[89] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون (۱۹۶۶) ('ICCPR') ۶ (۱) ماده د ژوندانه حق او د هر شخص دا حق تضمینوي چې په خپل سري ډول له خپل ژوند څخه محروم نه شي.

[90] راپور – نا قانون یا خپل سرې وژنې، د ملګرو ملتونو سند E/EC.4/1983/16 ، ۶۶ پاراګراف. د جرمونو د مخنیوي او له مجرمینو سره د چلند په اړه د ملګرو ملتونو شپږم کانګریس، کاراکاس، ۲۵ اګست – ۵ سپتمبر ۱۹۸۰: راپور د دار الانشاء (د ملګرو ملتونو انتشارات، د پلور شمېره ) له خوا چمتو شوی، لومړی فصل، ب برخه، ۵ شمېره پرېکړه لیک، وګورئ.

[91] د قانون پلي کوونکو چارواکو له خوا د قوې او وسلو د کارونې بنسټیز اصول (۱۹۹۰) ۹ اصل. یوازېني هغه حالات په کومو کې چې د دولت استازي ښايي مرګونې قوه وکاروي، له نړیوال قانون او معیارونو سره سم د اعدام سزا په ترسره کولو او د بشرپالنې د نړیوال قانون له شرایطو سره سم په وسله والې جګړې په حالت کې دي.

[92] رودلي، ان ۱۹۹۹، د نړیوال قانون له مخې له زندانیانو سره چلند، دویم ټوک، کلاریندون پریس، اکسفورډ، ۱۸۲ مخ.

[93] د نا قانونه، خپل سرو، او صحرايي وژنو د موثرې څېړنې او مخنیوي اصول، ایکوسوک ریس ۱۹۸۹/۶۵، ۱ پاراګراف.

[94] د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون (۱۹۸۴)، ۱ ماده.

۳. هدف (لکه د معلوماتو یا اعتراف ترلاسه کول، سزا، تهدید؛ اجبار یا تبعیض)؛[95] او

۴. د دولتي چارواکي یا د بل شخص ښکیلتیا چې په رسمي ظرفیت کې عمل ترسره کوي.

هغه چلند چې په دغه تعریف پوره نه وي ښايي بیا هم ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا تشکیل کړي (چې په ګډه د ناوړه چلند په نامه یادیږي).

<u>ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ("ناوړه چلند")</u>: ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا (چې په عام ډول د "ناوړه چلند په نامه یادیږي") هغه چلند ته ویل کېږي چې په مختلفو کچو د جسمي او/یا رواني درد او کړاو د اړولو لامل کېږي، کوم چې نه باید د یوه مشخص لامل لپاره واړول شي.[96] لکه شکنجه، ناوړه چلند چې په مستقیم ډول په کې یو دولتي چارواکی شامل وي.[97]

*ظالمانه یا نا انساني چلند یا سزا:* ظالمانه یا نا انساني چلند یا سزا ښايي د شکنجې په پرتله د لږ سخت درد یا کړاو لامل شي چې نه باید د یوه مشخص لامل لپاره واړول شي.[98]

*له سپکاوي ډک چلند یا سزا:* چلند یا سزا باید د سپکاوي یا حقارت له یوې ځانګړي حد څخه زیات شي څو د "له سپکاوي ډک" یا "نا انساني" په څېر ډلبندي شي.[99] د دې ارزونه چې آیا یو چلند له "سپکاوي ډک" یا "نا انساني" دی د یوې قضیې د ټولو شرایطو د ارزونې پر اساس وي، لکه د چلند موده او طریقه، د هغه جسمي او/یا رواني اغیزې، او د قرباني جنسیت، عمر او روغتیايي وضعیت.[100] د مثال په ډول، د یوه تادیبي اقدام په څېر هغه شرم چې له آزادۍ څخه د یوه شخص له محروم کېدو څخه رامنځ ته شوی وي له سپکاوي ډک چلند یا سزا نه تشکیلوي.[101]جسمي سزا[102] له سپکاوي د ډک چلند یا سزا یو ډول دی.[103]

[95] د شکنجې د منع کمېټه توضیح کوي چې د "قصد او هدف [...] عنصرونه د مرتکبینو په انګیزو کې شخصي تحقیق نه رانغاړي، بلکې باید د شرایطو له مخې عیني تصمیم او عزم وي"؛ د شکنجې د منع کمېټه، ۲ شمېره عمومي تبصره (د غړو دولتونو له خوا د ۲ مادې تطبیق)، د ۲۰۰۸ کال د جنوري ۲، CAT/C/GC/2، ۹ پاراګراف.

[96] تیپینا پولونا، د شکنجې د راپور ورکولو کتاب، دویم ټوک، د بشري حقونو مرکز، د ایسسیکس پوهنتون، ۲۰۱۵، ۲۳ مخ.

[97] د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون (۱۹۸۴)، ۱۶ (۱) ماده؛ همدارنګه د ۲۶۱/۲۰۰۵ شمېره مکالمه، عثماني د سربیا په مقابل کې وګورئ، بحث د شکنجې د منع کمېټې له خوا د ۲۰۰۹ کال د مۍ پر ۸ نېټه تصویب شوی، ۱۰.۵ پاراګراف. په یاد ولرئ چې د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون په څرګند ډول د شکنجې تعریف په هغو کړنو پورې نه محدودوي په کومو کې چې دولتي چارواکي دخیل وي، ۷ ماده، او د بشري حقونو د کمېټې ۲۰ شمېره عمومي تبصره، ۲ پاراګراف وګورئ.

[98] دغه نظر د شکنجې د منع کمېټې له خوا اخیستل شوی. که څه هم نوموړې کمیټې د درد یا کړاو د حد په اړه کوم معیارونه نه دي وړاندې کړي کوم چې باید د یوه ځانګړي چلند د شکنجې په توګه د ډلبندي کولو لپاره پوره شي؛ ۲ شمېر عمومي تبصره: د غړو دولتونو له مخې د ۲ مادې تطبیق (۲۰۰۸)، ۱۰ پاراګراف وګورئ.

[99] ۲۶۵/۱۹۸۷ شمېره مکالمه، ویولاني د فینلنډ په مقابل کې، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې له خوا د ۱۹۸۹ کال د اپریل پر ۷ نېټه تصویب شوي، ۹.۲ پاراګراف.

[100] ۲۶۵/۱۹۸۷ شمېره مکالمه، ویولاني د فینلنډ په مقابل کې، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې له خوا د ۱۹۸۹ کال د اپریل پر ۷ نېټه تصویب شوي، ۹.۲ پاراګراف.

[101] ۲۶۵/۱۹۸۷ شمېره مکالمه، ویولاني د فینلنډ په مقابل کې، نظرېې د بشري حقونو د کمېټې له خوا د ۱۹۸۹ کال د اپریل پر ۷ نېټه تصویب شوي، ۹.۲ پاراګراف.

[102] د هر هغې سزا په څېر تعریف شوې په کومه کې چې جسمي ځواک په دې موخه کارول کېږي چې د یو څه درد یا ناراحتۍ لامل شي، که څه هم لږ وي. ۸ شمېره عمومي تبصره: له جسمي سزا او نورو ظالمانه یا له سپکاوي د ډکو سزاګانو له ډولونو څخه د ماشوم د ساتنې حق (۲۰۰۶)، ۱۱ پاراګراف، وګورئ.

[103] ۸ شمېره عمومي تبصره: له جسمي سزا او نورو ظالمانه یا له سپکاوي د ډکو سزاګانو له ډولونو څخه د ماشوم د ساتنې حق (۲۰۰۶)، ۱۱ پاراګراف، وګورئ.

## دویمه ضمیمه: د فعلي چارواکو لخوا چمتو شوې تبصرې

امارت اسلامی افغانستان
وزارت امور خارجه

Islamic Emirate of Afghanistan
MINISTRY Of FOREIGN AFFAIRS

د افغانستان اسلامي امارت
د بهرنیو چارو وزارت

ریاست حقوق بشر و امور بین المللی زنان

شماره: 1094
تاریخ: 1443/ 12 /08
موضوع: ارائهٔ نظریات و تبصره ها در مورد مسودهٔ گزارش حقوق بشر یوناما
ضمایم: 8 ورق

درجه اهمیت
مهم:
محرم:
عادی:

**یادداشت**

**وزارت امور خارجه امارات اسلامی افغانستان با اظهار تعارفات به دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما)، احتراماً اشعار می دارد:**

بدین وسیله نظریات و تبصره های وزارتهای محترم امور داخله و امر بالمعروف و نهی عن المنکر، ادارات محترم تنظیم زندانها و لوی څارنوالی امارت اسلامی افغانستان در مورد مسودهٔ گزارش بخش حقوق بشر هیئت معاونت سازمان ملل متحد منحیث ضمیمه در قید (8) ورق پیوست یادداشت هذا به آن ادارهٔ محترم ارسال است.

متمنیست نظریات و یافته های وزارتخانه ها و ادارات فوق الذکر امارت اسلامی افغانستان را شامل نسخهٔ نهایی گزارش خویش نمایند.

**وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان با اغتنام از فرصت به تجدید احترامات فایقه می‌پردازد.**

**به دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) بخش حقوق بشر**

ریاست حقوق بشر و امور بین المللی زنان

**ضمیمۀ یادداشت شماره 1094**

**نظریات اداره تنظیم امور زندانها در باره وضعیت زندان های اداره:**

اداره تنظیم امور زندان ها از همکاری و شریک سازی مسوده گزارش وضعیت زندان ها از ماه اگست 2021 الی ماه می 2022 توسط دفتر محترم معاونیت حقوق بشر سازمان ملل متحد( یوناما) استقبال و قدردانی نموده و خوهان تداوم همکاری و حمایت از برنامه های اصلاحی این اداره غرض تامین حقوق بشری زندانیان مطابق به قوانین ملی و بین المللی می باشد.

این اداره گزارش دفترم محترم یوناما را در ارتباط به وضعیت زندان ها و زندانیان به دقت مورد مطالعه و ارزیابی قرار داده و اینک نکته نظریات خویش را پیرامون موضوع ذیلا ارایه میدارد:

**تعقیب وضعیت بی سرنوشتی زندانیان**

دفترم محترم یوناما در بخش "ب" سفارش شماره (17) خواهان ایجاد میکانیزم غرض نظارت از زندان ها گردیده است. اداره تنظیم امور زندان ها خویش را مطابق به قوانین نافذه بشمول "قواعد مندیلا" متعهد میداند تا زندان ها ریاست هماهنگی با نهادهای عدلی و قضایی عرض تعقیب و پیگیری دوسیه های زندانیان در نهاد های عدلی و قضایی فعالانه و بگونه مستمر این فعالیت را به پیش می برد. همچنان به منظور رسیدگی به شکایات به دوسیه های بی سرنوشت و تا اکنون این ریاست از طریق برنامه های نظارتی خویش، بی سر نوشتی زندانیان را شناسایی ، گزارشات آنرا پیشکش مقام و به آنها رسیدگی صورت گرفته است.

قابل یادآوری است یکی از عوامل تاخیر در رسیدگی به دوسیه ها طی ماهای گذشته زندانیان تراکم زندانیان و عدم فعال بودن تمامی نهادهای عدلی و قضایی می باشد اما خشبختانه امارت اسلامی افغانستان از زمان فتح بدینسو در زمینه فعال سازی مجدد بخشهای های عدلی و قضایی موفق عمل نموده و فعالیت های آن رو به توسعه و افزایش می باشد.

اداره تنظیم امور زندان ها تا اکنون غرض رسیدگی به بی سرنوشتی زندانیان در نهاد های عدلی و قضایی اجرآات ذیل را مرعی داشته است:

به اساس در خواست اداره زندان هیئت های قضایی از جانب ستره محکمه محترم به محلات سلب آزادی توظیف و در قسمت تعین سرنوشت زندانی ها اقدام عاجل نموده اند. چنانچه در گزارش شما نیز دیده می شود.

اکنون محاکم و اداره لوی څارنوالی فعال گردیده است و جلسات قضایی پیرامون محاکمه متهمین و صدور فیصله شرعی و قانونی ، بطور مداوم جریان دارد.

با آنهم این اداره بطور مکرر از طریق ستره محکمه و سایر نهادهای عدلی و قضایی در قسمت بی سرنوشتی در تماس است و جلسات مکرر هماهنگی عرض اجرآات بهتر دایر گردیده است تا از بی سرنوشتی متهمین به حد ممکن جلوگیری گردد.

علاوه برآن، با وجود اینکه محاکم جلسات قضایی خویش را غرض محاکمه متهمین آغاز نموده است، اما اداره زندان به آن بسنده ننموده است، اخیرآ طی در خواست رسمی از ستره محکمه مبنی بر از بین بردن بی سر نوشتی متهمین در زندانها ، هیئت های قضایی جدید را در مکز و ولایات (چنانکه قبلا تعین نموده بود) تعین نمایند که خوشبختانه همین اکنون که این یادداشت تدوین می گردد، شاهد حضور هیئت های قضایی در محلات سلب آزادی غرض رفع نگرانی های اداره تنظیم امور زندان ها در مود تعیین سرنوشت زندانیان هستیم که این امر قابل قدر است.

در مورد وکالت متهمین هیچ محدودیتی ازطرف اداره تنظیم امور زندانها وجود ندارد، بلکه این اداره با وزارت عدلیه در تماس و جلسات مکرر داشته است تا در قسمت وکالت همکاری نمایند که آن وزارت اعلام همکاری خویش را بطور رسمی نموده است. اخیرا لیست از مساعدین حقوقی خویش را غرض همکاری در مرکز ارسال نموده است که با مراکز ذیربط شریک شده است.

**رویه و رفتار با زندانیان (تامین حقوق زندانیان)**

در بخش دیگر گزارش دفتر محترم یوناما از موجودیت مشکلات در زمینه تهیه غذا مناسب و کافی برای زندانیان، مشکلات صحی و حفظ الصحه و نگهداری محجوزین همراه بزرگسالان تذکر رفته است.

اداره تنظیم امور زندانها در راستای رسیدگی به مشکلات زندانیان در بخش های عرضه خدمات( اعاشه،اباته،صحت،وحفظ الصحه) و تامین سایر حقوق زندانیان میکانیزم های نظارتی فعال دارد.

در بخش دیگر گذارش دفتر محترم یوناما از اکمال غذای مورد نیاز زندانیان توسط خانواده های زندانیان تذکر رفته، در حالیکه این اداره با این قسمت گزارش موافق نبوده و در زمینه اعاشه زندانیان اداره زندانها طرح ازدیاد بودجه روزانه از 85 افغانی به 130 افغانی افزایش را به ریاست الوزراء ارایه نموده و قرار است تابلوی جدید غذایی برای محجورین و زندانیان تهیه و در نظر گرفته شود. با آن هم همین اکنون این اداره از طریق منابع مختلف در سه وعده غذایی، موارد خوراکی و عذای کامل بشمول گوشت، انواع سالند، میوه و شیر خشک را برای زندانیان فراهم نموده، محجورین و زندانیان از این رهگذر خرسند و راضی استند.

اداره زندانها نگهداری محجوزین با بزرگساران در محل و یا هم نزدیک به همدیگر را رد می نمایند، اما موجودیت محجوزین را در زندان های بضی ولایات بنابر مشکلات مالی در محلات که بزرگسالان از آن محل تخلیه شده اند می پذیرد.

برعلاوه در خصوص برنامه های اصلاح و تربیت مجدد این اداره می پذیرد که اداره زندانها بنابر مشکلات مالی نمیتواند برنامه های تعلیمی و حرفه آموزی را در بخش های مختلف برای محجرین و همچنان بزرگ سالان راه اندازی نمایند. این اداره بارها بخاطر فعال سازی مکاتب وراه اندازی برنامه های تعلیمی و حرفه آموزی برای محجوزین و زندانیان موضوع را همراه با دفاتر محترم ملل متحد و همچنان سایر نهاد های همکار شریک و خواهان همکاری و سهمگیری آنان غرض فعال سازی مجدد این بخش ها گردیده که تا اکنون پاسخ مثبت در یافت نه کرده است.

بدینوسیله متمنی است تا با توجه به موارد فوق الذکر دفتر محترم یوناما مسوده گزارش بخش زندانهای خویش را اصلاح فرموده، ممنون سازند. بر علاوه در صورت نیاز این اداره نمی تواند اسناد حمایوی لازم را همرای آن دفترمحترم شریک سازد.

**<u>نظریات وزارت امور داخله:</u>**

طوریکه شما در جریان قرار دارید در سال 1400 تحولات بزرگ در سطح کشور رونما گردید که منجر به سقوط نظام جمهوریت و روی کار آمدن حکومت امارت اسلامی گردید که در پی این تغیرات یک سلسله مشکلات و چالش ها در عرصه های امنیتی، اجتماعی و اقتصادی بوجود آمد که مسایل نقض حقوق بشر از این امر مستثنی نبوده است.

ریاست حقوق بشر وزارت امور داخله بعد از پیروزی امارت اسلامی افغانستان جهت حفاظت از افراد ملکی ، افراد و اشخاص در معرض خطر خشونت و نقض حقوق بشر پلانهای پیشبینی شده را ترتیب و به منصه اجرا قرار داده است.

طبق پلان های مطروحه هیئت تحت ریاست مل پاسوال علی اکبر پروانه رئیس حقوق بشر توظیف شده تا وضعیت حقوق بشری را در سطح مرکز مورد غور و برسی قرار دارد یافته ها و گزارشات خویش را به مقامات صالحه تقدیم خواهند نمود.

وزارت امور داخله برای حمایت از طبقه اناث و خانواده های شان زمینه را فراهم ساخته تا معاشات و امتیازات شان بدون اینکه بالای و ظایف خویش حاضر باشند پرداخت نموده است و حدود بیشتر از (1650) تن از منسوبین اناثیه فعلا در چوکات وزارت امور داخله فعالیت دارند.

**رسیدگی به قضایای خشونت ها:**

اداره مرکز اطلاعاتی 119 پولیس به منظور رسیدگی به موقع قضایای چون تجاوز ها، ازدواج های اجباری، خودکشی و خشونت فعالیت خودرا دوباره آغاز نموده از ابتدای روی کار آمدن امارت اسلامی به تعداد (76) قضایا رسیدگی صورت گرفته و این روال ادامه داد.

**سلوک ورفتار با زندانیان.**

ریاست حقوق بشر وزارت امور داخله با در نظرداشت فرامین، مصوبات، اوامر ، پالیسی ها و طرزالعمل ها در 34 قومندانی امنیه ولایات حوزه های امنیتی و ولسوالی ها آمریت های حقوق بشر تعین نموده وقتا فوقتا از محابس کشور بازدید و کنترول می نماید. همچنان وزارت امور داخله پالیسی طرزالعمل سلوک رفتار پولیس تهیه گردیده تا مطابق آن عمل نمایند.

**<u>نظریات لوی څارنوالی</u>**

طوریکه اسناد ضمیموی مکتوب واصله مطالعه گردید، یکتعداد قضایای شامل مسوده گزارش متذکره قبلاً توسط بخش حقوق بشر دفتر محترم یوناما ذریعه ایمیل به این اداره ارسال گردیده بود. متعاقباً لوی څارنوالی در پاسخ به ایمیل متذکره خواستار اسناد و مدارک کافی در رابطه به قضایای ارسال شده گردید، اما تا اکنون بخش حقوق بشر دفتر محترم یوناما به اساس پالیسی آن اداره معلومات مطالبه شده را در اختیار این اداره قرار نداده است

بدینوسیله موضوع احتراماً نگاشته شد، در صورتیکه اسناد حمایوی کافی پیرامون موضوعات فوق الذکر در اختیار این اداره قرار گیرد، در رابطه به موضوع با رعایت اسناد تقنینی مربوطه اجراآت مقتضی خواهد گردید.

**<u>د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت نظریات:</u>**

دا چې د امر باالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ټولنې د اصلاح چارې په غاړه لري خو تر اوسه پې په ټولو لسو میاشتو کې څوک وهلي نه دي او نه پې چاته زیان او آزار رسولي د قتل آوازي کیسي خو بیخي لري خبره ده .

لومړی: تر اوسه ښځو ته په هیڅ ځای کې د جامو مشخص کیدلو په اړه څه ندي ویلي او نه پې د سینګار او نه سینګار په اړه کوم څه ویلي دي او همدا راز د ښځینه و د کالیو د استعمال لپاره د نانځکو یا بتانو استعمال په اړه یوازې توصیه شوي هیڅ بندیز ندی شوي خو بغیر له محرم نه وتل ۷۸ کیلو متره ورها خوا یا حجاب نه کول دا یو شرعی اصل دی اما په دي هم څوک وهل شوي ندي .

د پارکونو د جلاوالي په اړه باید ووایو چې زموږ ټولنه یوه سني او اسلامی ټولنه ده ټولنه مو همدا غواړي اوپه دغه توګه کولي شي چې ښځینه په آزاده او مصئونه توګه تفریح وکړي نو ځکه مو دا ویلي همدا راز د حجاب

په اړه هم دوه مراحل د توصيې دي او دريم او څلورم مراحل يې دري ورځې بند او تعزيز دی هغه تر محکمي اړوند دي خو موږ تر اوسه په تېرو دوه مياشتو کې دغې مرحلي ته نه يو محتاج شوي بلکې خويندي مو په خوښه حجاب مراعات کوي چې تاسو يې له حجاب په دفاع او حمايت په اکثرو ولاياتو کې غونډې هم شايد لېدلي وي .

د نورو ترڅنګ د نا څرګند قانون خبره شوي چې دا هيڅ واقعيت نلري بلکې موږ يوه ځانګړې لايحه طرزالعمل او خپل قانون لرو چې ټول کارکوونکي مو د هغه له مخې خپل کارونه پر مخ وړي .

يوه بله خبره هغه دا چې ويل شوي دي د امر بالمعروف په خبرو کې تناقض دی وايې توصيې کوو خو ځينو موادو کې جديت دی رښتيا هم د اسلام احکام معلوم دي چې ځينو کې يې عملی کول نرمښت غواړي او ځينو ځايونو کې چې کول يې حرام وي بيا جديت ته اړتيا لري خو بيا وايو چې سزا زموږ نه بلکې هغه د محکمي کار دی چې د شرعي قانون له مخې چلند ورسره کيږي .

مخکې مو هم يادونه کړي چې د امربالمعروف کارمندان خپلسري کارونه ته نه پرېښودل کيږي او د نظام نور خلک هم که چېري خلکو سره ظلم زياتي يا دخلکو حق تلفي وکړي او خلک موږ ته عارض شي موږ به يې مخه نيسو او چارواکو ته به د قانون له مخې د محکمي له لاري سزا ورکړو .

د بې محرمه سفر په اړه هم مخکې يادونه شوي چې شريعت ورته خپل ټاکلی حد معين کړی کوم چې ۷۸ کيلو متره ده لدي څخه کمه اندازه کې هيڅ څوک حق نه لري چې مخه يې ونيسي هغه که عام چارواکې وي يا د امربالمعروف خلک په دي اړه نه دتخار او نه د هلمند نه دبل کوم ولايت قضيه حقيقت لري .

د موبايلونو نه پلټلو په اړه زموږ فرمان واضح نشر شوي چې هيڅوک دا حق نه لري که څوک يې ترسره کړي له قانوني چلند سره به مخ شي همدا راز دسلمانيانو په اړه موږ توصيه کوو او کړي موده خو څوک زورول شوي نه دي د بې حجابۍ په صورت کې هم ښځه هيڅ کله نه وهل کيږي او نه بندي کيږي د جوماتونو حاضري له فکر هم لري ده په دي اړه ټول څه واقعيت نلري .

جوماتونو نه د تګ له امله څوک نه وهل کيږي بدخشان کې کومه قضيه چې په پوهنتون کې ترسره شوي وه د امربالمعروف رياست له لوري عاملين يې نيول شوي او بنديان شوي چې وروسته د وهل شويو له لوري تر بښنې وروسته خوشې شول .

د سزا برخه د امربالمعروف ندده البته که څوک په خپل سر سزا ورکوي امر بالمعروف هغه وخت کې د مخنيوي حق لري چې سزا ورکوونکو په اړه څوک ورته شکايت وکړي او کومو ځايو کې چې نوي سزا ورکول کېږي زموږ د چارواکو شتون هلته نده تثبيت شوی او چې چېرته شوي داسي موارد شته چې چارواکې منفک شوي او يا بنديان شوي دي .

دبلخ ولايت پيشه کې د امربالمعروف محتسبينو شتون هيڅ واقعيت نلري چې ګواکې هغوي هم دښځې د کښته کولو پر مهال هلته شتون درلود او پدي اړه ورته شکايت هم نده شوی چې دقضيې پلټنه وکړي .

**پايان ګزارش**